# افغانستان

# د ۲۰۱۱ کال کلنی راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه



(Image has been altered) John Wendle ©

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوی

دبشری حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالی کمیشنری دفتر

کابل – افغانستان
۲۰۱۲ فبروری

# افغانستان

# د ۲۰۱۱ کال کلنی راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه


دبشری حقونو لپاره دمګرو ملتونوعالی کمیشنری دفتر

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوی

**کابل – افغانستان**

**۲۰۱۲ فبروری**

AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION




منبع: یوناما، د ۲۰۱۲ کال جنوری

**صلاحیت/ واک**

دغه کلنی راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی (یوناما) د بشری حقونو څانګی له خوا په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتني په اړه برابر شوي چی د ۲۰۱۱ د جنوری د لومړئ ورځې څخه د دسامبر تر یو دیرشمي نیټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې تیار شوی چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۱۹۷۴ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په اساس ورته ورکړې شو څو د ملکي کسانو وضعیت وڅاری ، د دوي د ساتني په موخه هڅې همغږې کړي، حساب ورکوونه تقویه کړي، او د بنیادي ازادیو او بشري حقونو په بشپړ ډول تطبیق کې مرسته وکړي چې د افغانستان اساسي قانون او د نړیوالو هغو تړونونو برخه ده چی افغانستان یی غړیتوب لری، په ځانګړي ډول د ښځو د دوي له ټولو بشري حقونو څخه د برخمن کیدلو په اړه هڅې وکړي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیز راکمول دي لکه: په خپلواک او بې پلوه ډول د داسي حادثو څارنه چې د ملکي خلکو د وژنې یا ژوبلې لامل ګرځي، د وسله والو ښکیلو خواوې د بشرپالنې اغیزمنو ملکي کسانو د ساتني په اړه د ملاتړ فعالیتونه او نور نوښتونه چې په ښکیلو خواوې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو، د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو له احکامو سره مطابقت ته رابولي.

**په راپور کې کارول شوي اصطلاح ګانې:**
**هوايي برید:** له الوتکې څخه ویشتونکې مهمات چې د نږدې هوایي ملاتړ په موخه الوتکې او نږدې هوایي کومک چورلکې برید او هغه بریدونه شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکې یا ډرون یې تر سره کوي.
**ABP:** افغان سرحدي پولیس
**ALP:** افغان سیمه ییز پولیس
**ANA:** افغان ملي اردو
**ANP:** افغان ملي پولیس
**ANSF:** افغان ملي امنیتي ځواکونه، یوه اصطلاح چې افغان سرحدي پولیس، ملي اردو، ملي پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.
**APRP:** د افغان د سولې او بیا یوځای کیدنې پروګرام
**AXO**: پریخودل شوي چاودیدونکي توکي
**تلفات:**وژل شوي او ژوبل شوي ملکي کسان
ښايي په دوه ډوله ډله بندي شي:

- **مستقیم**: هغه تلفات دي چې په مستقیم ډول د وسله والې جګړې له امله راپیدا کیږي. لکه داسي تلفات چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا اجراء کیږي (افغان او نړیوال نظامي ځواکونه) د ځان ژغورلو عملیات، هوايي بریدونه، د نیولو او تلاشۍ عملیات، د یاغیتوب ضد یا ترهګرۍ ضد عملیات. دغه راز په دې کې هغه تلفات هم شاملیږي چې د نا دولتي وسلوالو ډلو دفعالیتونو له امله لکه په نښه شوې وژنې، تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او یا له حکومت پلوه ځواکونو سره د مستقیمې ښکلتیا په پایله کې رامنځته کیږي.

- **نور تلفات:** هغه تلفات چې په غیر مستقیم ډول له وسله والې جګړې څخه راپیدا کیږي لکه د جنګي پاتې شویو توکو له چاودنې، په محبسونو کې مړینه، د ناکافي طبي شرایطو د نشتوالي له امله مړینې چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې پیښیږي او په داسې ځایونو کې چې طبي پاملرنې ته د لاس رسي مخنیوی شوی وی او یا موجود نه وي. په دې تلفاتو کې هغه مړینه هم شامل ده چې د مرګانیو پیښو مسوولیت په بوره اطمینان سره نه شي په ګوته کیدای لکه هغه مرګ ژوبله چې د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځ ته کیږي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم داسې یوه شخص په حیث تعریف شوی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن هم ماشوم دی). د دې تر څنګ د روم د نړیوالې جزایي محکمې اساسنامې له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړی، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي ډلو کې شاملول ا و ګمارل، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي د ۸ مادې (۲) (ب)(xxvi ) او ۸ مادې (۲) (ت) (vii).
**ملکي/ خوندي جنګیالي :**د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي کسان" هغه افراد دي چې په جنګ کې شامل نه وي (نظامي/نیمه نظامي قوتونه نه وي) یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب ونه لري یا هغه کسان دي چې د (عمومي پاڅون)[1] غړي نه وي. ملکي کسان کیدای شي چې د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکړي که چیرې دوي په ښتو کې کې نیغ په نیغه برخه واخلي. د ملکي کسانو په څیر، یو جنګي فرد چې hors de combat وي (ژوبل شوي، ناروغ، د ویجاړې شوي کښتي عمله، توقیف شوي یا اوهم تسلیم شوي) یا هغه څوک چې د وسله والو قوتونو په طبي یا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري، هم دبرید څخه د خوندیتوب حق لري.
**COMISAF:** په افغانستان کې د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواکونو قوماندان.
**د EOF پیښې:** د عکس العمل ښودلو پیښې ، چې د ځواک د ساتنې پیښې ورته هم وايي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکي کسان نظامي قطارونو ته د نږدې کیدو یا له هغو څخه د مخکې کیدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پام و نه کړي او یا د تلاشۍ په پوستو کې لارښوونو ته توجه و نه کړي.

---

1 عمومي پاڅون ته د ژنیو په دریم تړون کې اشاره شوې "د یوې ازادې خاورې اوسیدونکي، چې د دښمن په نږدې کیدو سره په یو ناڅاپي ډول وسلې ته لاس کوي چې د تیري کوونکو مخنیوی وکړي، بې له دې چې ددې لپاره وخت ولري چې په منظمو نظامي واحدونو کې تنظیم شي، په دې شرط چې خپلې وسلې په ښکاره وګرځوي او د جنګ قانون او دودونه مراعات کړي." (۴ (۱)) ماده.

**ERW**: جنګی چاودیدونکی پاتی شونی په دی مانا ،چی ناچاودل شوی توکی ،او پریښودل شوی چاودیدونکی توکی وی.
**IHL:** د بشر پالني نړیوال قانون
**IDP:** داخلي بې ځايه شوي وګړي
**ICRC:** د سره صليب نړيوال کميټه
**IED:** تعبیه شوي چاودیدونکي وسیله. یو بم چې د دودیزې نظامي طریقې په خلاف په نورو طریقو جوړیږي او کارول کیږي. نوموړې چاودیدونکي وسیله کیدای شي د ځانمرګي بم په شکل استعمال شي لکه په ځان پورې تړلې تعبیه شوي چاویدونکی توکي (BBIEDs)، دغه راز له لیرې څخه کنترول شوي تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلي (RCIEDs)، په موټر کې ځای په ځای شوي او تعبیه شوي چاودیدونکي توکي (VBIEDs) او د فشار په ذریعه چاودیدونکي وسیلې(PPIEDs) هم په دې ډله کې راځي.
**حادثې:** هغه پیښي دي چې په وسله والو جګړو کې ملکي کسانو ته تلفات اړوي. د یوناما په راپورونو کې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنايي پیښو په پایله کې پیښیږي.
**نړیوال نظامي ځواکونه:** په دې ځواکونو کې ټول بهرنی عسکر شامليږي چې د ایساف او په افغانستان کې د امریکا د ځواکونو (د ازادۍ د پاینت د عملیاتو په شمول) یوه برخه وي او د ایساف د قوماندان COMISAF تر امر لاندې کار کوي. دغه اصطلاح دغه راز په هغو ځواکونو باندې هم د تطبیق وړ ده چې د ایساف د قوماندان تر امر لاندې نه دي، لکه ځیني ځانګړي ځواکونه.
**ژوبلې:** د جسماني سختو ژوبلو یا ټپي کیدنو مختلف ډولونه په کې شامليږي. د یوناما په ډیټابیس کې د جسماني ژوبلي درجه نه ده شامله. اروايي یا روحی صدمه یا دماغي جړک پیښي په ژوبلو کې نه دي شاملې.
**آیساف:** په افغانستان کې مرستندویه امنیتي سوله ساتي ځواکونه. ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخې د سولې د پیاده کولو ماموریت یا دنده لري. ایساف د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا په امر او صلاحیت ځای په ځای کیږی. د ۲۰۰۳ کال په اګست کې د ملګرو ملتونو او د افغانستان د حکومت په غوښتنه د ناټو سازمان د ایساف مشرتابه په غاړه واخیسته. د ایساف قواوې اوس مهال د ۸ دسامبر،۲۰۱۱ پوری (۳۱۳،۱۳۰) تنه سرتیري لري، چې له ۴۹ هیوادونو څخه راغلي او په شپږو سیمه ییزو برخو کی تنظیم شوي، چې مرکز یې په کابل کې دی . د ۲۰۰۸ د نوومبر څخه د ایساف قوماندان په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان هم دی، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتي شوې. د امنیت د شورا ۲۰۱۱ (۲۰۱۱) شمیره پریکړه لیک د ایساف په اړه مخکیني پریکړه لیکونه تصدیق کوي او د ۲۰۱۲ د اکتوبر تر ۳۱ نیټي پورې د نورو ۱۲ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت غزوي.
**MOI:** د کورنیو چارو وزارت
**NATO ناټو:** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو د سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. ایساف وګورئ.
**NDS:** د ملي امنیت ریاست. د افغانستان د دولتي استخباراتو اداره
**NGO:** نادولتي سازمان/اداره.
**نا دولتی وسله والي ډلې/دولت ضد عناصر (AGEs):** دولت ضد عناصر. په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو په ضد په وسله واله جګړه کې همدا اوس ښکیل دي. په دې عناصرو کې هغه کسان راځي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او دغه راز اشخاص او ډلې چې بیلا بیل هدفونه لري او تر مختلفو نومونو لاندې راځي لکه د حقاني شبکه، حزب اسلامي او د القاعده متحدین لکه د ازبکستان اسلامی حرکت، د اسلامی جهاد اتحاد، لشکر طيبه او جیش محمد.
**دولت پلوه ځواکونه**

- **افغان دولتي ځواکونه:** ټول هغه ځواکونه دی چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر ولکې او اداري لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو، افغان ملي پولیس، افغان سرحدي پولیس، ملی امنیت په شمول نور سیمه ییز امنیتی ځواکونه هم شامل دي.

- **نړیوال نظامي ځواکونه (IM Forces)** او نور دولتي ارګانونه.

**SOP:** معیاري عملیاتي کړنلاره

**په نښه شوی وژنی** : هغه وژنی دی چی په ارادي ، د مخه سنجول شوی او قصدی ډول د دولت او یا د دولت کارکونکو چی د قانون په چوکاټ کی دنده لری، او یا په وسلواله شخړه کی د منظمو وسلوالو ډلو، لخوا د یو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکی ځواک وکاروی، او هغه شخص د مرتکبینو د فزیکی ساتنی او نظارت لاندی نه وی. سربیره پردی چی په ډیر وختونو کی په نښه شوی وژنه د ژوند د حق څخه سرغړونه ده خو په استثنایی ډول په وسلواله شخړه کی ځینی وخت کیدای شی مشروعیت ولری. د ملګرو ملتونو عمومی اسامبلی، د بشری حقونو شورا څوارلسمی ناستی د آجنډا دریم ټکی، او د محکمی څخه بهر په خپل سر اعدامونو لپاره د ځانګړی راپورتر ریپورټ، او د فلیپ آلسټون مکمل رپورټ د "د هدفمنو وژنو څیړنه" تر عنوان لاندی وګورئ. A/HRC/14/24/Add.6 د ۲۰۱۰ کال د می میاشت.

**UNDSS** : د ملګرو ملیتونو د مصؤنیت او امنیت څانګه

**UNAMA :** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

**UNHCR :** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنري

**UXO :** نا چاودل شوی توکی

**فهرست**

**میتودولوژي** ........ vii
**په نښته کې د ښکیلو خواوو قانوني مسوولیتونه** ........ viii
**لنډیز** ........ **1**
**سپارښتنې** ........ **7**
**د حکومت ضد عناصر او د ملکی وګړو ساتنه** ........ **8**
د ملکی وګړو د تلفاتو په هکله د طالبانو بیانونه ........ **10**
د تعبیه شوو چاودیدونوکو توکو بریدونه ........ **14**
ځان وژونکی بریدونه ........ **15**
د ملکی وګړو هدفمنی او نا روا وژنی ........ **16**
**دولت پلوه ځواکونه او د ملکی وګړو ساتنه** ........ **20**
د آیساف بیانونه او تاکتیکی هدایات ........ **20**
هوایی بریدونه ........ **21**
د شپی له خوا د تلاشی عملیاتونه ........ **23**
د ملکی وګړو مرګ ژوبلی په اړه د آیساف او افغان امنیتی ځواکونو تحقیقات ........ **24**
**افغان ملی امنیتی ځواکونه او د ملکی وګړو ساتنه** ........ **25**
**افغان محلی پولیس او د ملکی وګړو ساتنه** ........ **28**
**پر ماشومانو د وسله والی شخړی اغیزی** ........ **35**

پر لومړی مخ عکس په کابل کی د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر د ځان مرګی برید دی، جان وندل

## میتودولوژي

یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو راپورونه په دې ذریعه کره کوي چې د امکان په صورت کې د تلفاتو په سیمه کې څېړنې کوي، د امکان تر حده پورې له ډېرو منابعو سره مشورې کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او رښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. د هرې پېښې په څېړنه او تحلیل کې، یوناما زیاته هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنترول کړي. په دې لړ کې د عیني شاهدانو او په مستقیم ډول د زیانمن شویو کسانو بیانونو ،نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو په ګډون) محلي کلي/د ولسوالۍ او ولایت چارواکو، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او هغه معلومات شامل دي چې په مستقیم ډول د ساحې له کتنې څخه او د پیښې له ځای څخه لاس ته راغلي اجناس/مدارک او شواهد او د هغوي فزیکي ازمایښت، له روغتونونو او روغتیایي اسانتیاوو څخه کتنه، ویډیوګانې او تصویرونه، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه، د دویم لاس سرچینو بیانونه، د خبري رسینو راپورنه او له نا دولتي موسسو او دریم ګړي له خوا راټول شوي معلومات په کې شاملیږي.

چیرې چې امکان وي، تحقیقات د قربانیانو او/ یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځای په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونو کې، خاصتا په داسې وخت کې چې د امنیتی ستونز و له امله لاس رسي محدوده وي، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې له معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي او څومره چې ممکنه وي له ډېرو منابعو څخه معلومات تر لاسه کوي او د اعتبار اوباور له مخې یې کره کوي.

په کوم ځای کې چې یوناما د یوې پیښې په اړه له معلوماتو د کره والی څخه ډاډمنه نه وي، د هغې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي څو اونۍ وخت ونیسي، مخکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږو. د دې مانا دا ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورڅخه استفاده کیږی . په کوم ځای کې چې معلومات ښه څرګند نه وي، نتیجه ګیري نه کیږي څو چې نور اعتباري او قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي او له دې څخه پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شامیلیږی.

په ځینو وختونو کې په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابتیدلای او یا لانجه من ټکی وي، په داسې قضیو کې، یوناما د بشرپالني د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګني چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګی یا ملکي کس دي. بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ثابتوي. که چیرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي، دغه ډول مرګانی پیښې د ملکی کسانو د تلفاتو په عمومي شمیر کې نه شاملیږی.

په وسله واله نښته کې د ملکي تلفاتو د ساتنې په اړه د راپورنو او تحلیل لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کې یو بریښنایی ډیټابیس پرانیستی دي. ډیټابیس داسې طرح شوی دی چې د معلوماتو سیستماتیکه اغیزمنه او هم شکله ټولونه او تحلیل اسانه کوي، چې د جنس، عمر، مسئول، تاکتیک، او نورو اړخونو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي. یوناما تر ممکنه حده هڅه کوی چې د ځانګړو ملکي تلفاتو پیښی کره او مسؤل لوری په ګوته کړی. په عملیاتي ډګر کې د ستونزو له امله لکه د ګډو نظامي علمیاتو څرنګوالی، او د لومړنیو سرچینو ناتوانې چې په ډیرو قضیو کې نه شي کولای د بیلا بیلو نظامي برخه والو/ دولت ضد وسلوالو په منځ کې توپیر وکړي، او کله چې هیڅ یوه خوا د یوې پیښې مسوولیت نه وي منلي، یوناما د یوې خاصې پیښې مسوولیت یا خو دولت پلوه او یا دولت ضد ځواکونو ته نه منسوبوی.

یوناما یادوی چې د شپې له خوا عملیاتونو په هکله د معلوماتو لاس ته راوړل د عملیاتو د وسعت او تکرر په هکله تفصیل چې آیساف، ملی اردو، ملی او نړیوالو ځانګړو ځواکونو، یا د حکومت نورو برخو او سرحدی پولیسو، په یواځی توګه یا په ګډه سره اجرا کړی، د شفافیت د نشتوالی په وجه ستونزمن کار دی. د آیساف د ورکړل شوو معلوماتو له مخی د شپې عملیاتو له کبله د ارقامو په هکله معلومات ټول خوندی یا محرم وی. په عملیاتی ډګر کی د محدودیتونو او معلوماتو ته د محدودی لاسرسی په وجه، یوناما د شپې عملیاتو له کبله د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی ارقام ټیټ څرګندوی.

*د ملکی وګړو د مرګ ژوبلې مختلف تعریفونه*

یوناما د دي یادونه کوی چی د ملکی افرادو تلفاتو شمیری د مختلفو ادرو لخوا چی دامالومات راټولوی او تحلیلوی تر منځ یې توپیر شتون لری. د نړیوال امنیتی ځواکونو او یوناما تر منځ په روانه شخړه کی د ملکی وګړو د مرګ ژوبلې شمیره کی د توپیر عمده لامل د مختلف میتودولوژی کارول، سیمو ته بیلابیل ډول لاس رسی او د هیواد د مختلفو سیمو پوښښ دی.

آیساف یادونه کوی چی د توپیر فکتورونه کیدایی شی په لاندی ډول وی :

*د ملکی کسانو تلفات چی د افغان ملی ځواکونوله لوری رامنځ ته کیږی د آیساف لخوا نه څارل کیږی ، او د دولت ضد عناصرو له لوری چی کوم ملکی کسانو تلفات رامنځ ته کیږی هغه د مشاهدی په اساس وی او یا هم هغه راپورونه دی چی آیساف یی کولایی شی تصدیق کړی. نو له دی امله دا یو نیم ګړی تصویر ښیي.*[2]

همدا رنګه آیساف څرګندوی چی یوناما او آیساف د ملکی وګړی مرګ ژوبلی لپاره د ډله بندئ او د هغو عاملینو له مخی چی د تلفاتو سبب ګرځی بیل بیل تعریفونه لری، او له دی کبله د ملکی تلفاتو د واقعو د تثبیت په برخه کی سره توپیرونه لری. آیساف وویل چی دوی یوازی د افغانانو مرګ ژوبله په خپله احصائیه کی شاملوی او هر غیر نظامی په کی نه شاملوی (لکه وسله وال یا بی وسلی بهرنیان، بی وسلی افغانان لکه ترجمانان او ملکی بهرنیان لکه سیاحان). همدا راز د آیساف احصائیه کی یوازی هغه تلفات شاملیږی چی د آیساف یا د افغان ملی امنیتی ځواکونو او آیساف ګډو عملیاتونو په نتیجه کی رامنځ ته شوی وی. نور د افغان امنیتی ځواکونو له خوا رامنځ ته شوی ملکی مرګ ژوبلی که ریپورټ یی ورکړل شوی وی یا نه وی، په خپلو ارقامو کی نه شاملوی. آیساف وویل چی دوی د ملکی مرګ ژوبلی واقعات او د تلفاتو شمیر د آیساف د مرکزی قرارګاه د ۳۰۲ هم معیاری طرزالعمل د ۳ دور له مخی د واقعاتو د ارزونی شریک ټیم (JIAT)له لاری تثبیتوی.[3]

سر بیره پر دی آیساف د هدفمنو (په نښه شویو) وژنو پیښو څیړنه نه کوی، چی د حکومت ضد عناصرو لخوا ترسره کیږی.

یوناما په خپلو شمیرو کی د هغه ملکی وګړو مړینه او ژوبله ثبت او شاملوی چی د آیساف، افغان امنیتی ځواکونو او دولت ضد عناصرو د عملیاتو په پایله کی رامنځ ته شوی وی. یوناما په جګړه کی د ټولو ښکیلو خواو د جګړی په تړاو وژنی، په نښه شوی وژنی په فعاله توګه څاری، تفکیک کوی او راپور یی ورکوی. یوناما د ملکی مرګ ژوبلی د تثبیتولو او کره کولو په موخه په ګڼ شمیر معلوماتی منابعو تکیه کوی چی پورته ذکر شوی.

یوناما د دې ادعا نه کوي چې په دې راپور کې موجوده احصایې دې بشپړې وې، ښایي یوناما په عملیاتي چاپیریال کې د ستونزو او محدودیتونو له امله د ملکي تلفاتو شمیر په راپور کی کم ښودلای وی.[4]

**په نښته کې د ښکیلو خواوو قانوني مسوولیتونه**

یوناما په دې باور ده چې په افغانستان کې وسله واله جګړه یوه داخلي (غیر نړیواله) وسله واله جګړه ده چې د افغانستان د دولت، او د دی وسله وال فوځ چې د نړیوالو نظامي ځواکونو ملاتړ ورسره دی (په دې راپور کې او په افغانستان کې "دولت پلوه" ځواکونه بلل شوي دي) او د ډیرو غیر دولتي وسله والو ډلو (په دې راپور او په افغانستان کې د دولت ضد عناصر ګڼل شوي په شمول د طالبانو ، حقانی شبکه ،حزب اسلامی او داسی نور) ترمنځ روانه ده.

---

[2]آیساف، مرکزی قرارګاه، د ملکی مرګ ژوبلی دری میاشتینی ریپورټ، د ۲۰۱۱ کال د دریمی ربعی معلوماتی پاڼه. همدا راز د دی ریپورټ د آیساف او افغان ملی امنیتی ځواکونو له خوا د ملکی مرګ ژوبلی برخه وګوری.

[3]. د آیساف د مرکزی قرارګاه ریپورټ، د ۲۰۱۱ کال د جولای د میاشتی د هوایی برید د ملکی مرګ ژوبلی په هکله د آیساف او یوناما د ارقامو پرتله کول. افغان د ارزونی ډله او د ملکی مرګ ژوبلی د له منځه وړلو ټیم، د ۲۰۱۱ کال اکتوبر میاشت.

4 څرنګه چې په مزار شریف کې د ۲۰۱۱ کال د اپریل له لومړۍ نیټی څخه د جون تر ۱۹ نیټی پورې د یوناما دفتر عارضی ډول تړلی و، دغه راپور د ۲۰۱۱ کال له مارچ څخه تر جون پورې د شمالي زون په اړه معلومات نه لري.

لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ۱۳۲۵ پریکړه لیک کی څرګندوی، دا د ټولو دولتونو لپاره بنیادی او اساسی ضرورت دی چی باید د ښځو او نجونو په برخه کی ټول مربوط نورمونه او نړیوال بشر دوستانه او بشری حقونو قوانین تطبیق کړی، او په وسله واله جګړه کی د جنسیت پر بنسټ تاو تریخوالی څخه د ښځو او نجونو تحفظ وکړی.[5]

په وسله واله نښته کي ټولي ښکيلي خواوې (افغان وسله وال ځواکونه، نړیوال نظامي ځواکونه، او نا دولتی وسله والي ډلې) د نړیوال قانون له مخې ښکاره مسوولیتونه لري چې ملکی کسان خوندی وساتي.

### (i) د بشرپالني د نړیوال قانون له مخې مسوولیت

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلور تړونو مشترکه دریمه ماده حد اقل معیارونه ټاکي چې دولتی او غیر دولتی وسله والي ډلې یې باید په داخلي وسله واله نښته کې مراعات کړي.

افغانستان د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورو تړونونو او د ۱۹۷۷ کال[6] د ژنیو د اضافي دویم پروتوکول غړي هیواد دی، چې په وسله واله جګړه کې دملکي کسانو د ساتنې مساله حل کوي. دغه پروتوکول د ملکي کسانو په وړاندې او د هغو اجناسو په ضد حملې منع کوي، چې د ملکی کسانو د بقاء لپاره ضروري ګڼل کیږي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلورو تړونو او د اضافي پروتوکولونو څو اصول د بین المللي عرفی قانون[7] برخه ګرځیدلي او تر ټولو زیات اړونده اصول چې افغان نظامی ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونو او غیر دولتی وسله والي ډلې یې د داخلي وسله والي نښتي د ښکیلو خواوو په څیر باید مراعات کړي دا دي:

- تشخیص: ملکي وګړي په عمومي ډول او ملکي انفرادي اشخاص باید تر برید لاندې رانه شی.[8] "[ښکیلې خواوې] باید په هر وخت کې د ملکي خلکو او جنګي افرادو او د ملکي او نظامي هدفونو ترمنځ توپیر وکړي."[9]
- تناسب: "هغه برید چې کیدای شي په تصادفي ډول د ملکي کسانو د وژنې، ژوبلې، د دې دواړو سبب وګرځي او ښایي د هغو مشخصو او مستقیمو نظامي بریاوو په پرتله ډیرې زیاتې وي چې له برید څخه یې تمه کیږي، منع دی."[10]
- په برید کې احتیاط: "ملکی کسان باید په عموم ډول د نښتې له خطرونو څخه په امن کې وساتل شي."[11] په نظامي عملیاتو کې په پرلپسې ډول باید دې ته پاملرنه وشي چې ملکي خلک تلف نه شي او ملکی شیانوته زیان ونه رسیږي. او په پوره ډول احتیاط وشي چې "هدف یې د ملکی کسانو د تصادفي تلف کیدلو، ملکی شیانو ته د زیان رسیدلو او د ملکي وګړو د ژوبل کیدلو څخه مخنیوی وي او په هره پیښه کې د دغو بریدونو اندازه حد اقل اندازې ته راټیټه شي."[12]

ټول هیوادونه چې اوس مهال په افغانستان کې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره مرسته کوي، لکه په افغانستان کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ایساف) د امریکا ځانګړي قواوې، د ازادۍ د پایښت د عملیاتو غړي ځواکونه یا هغه ځانګړي ځواکونه چې د قوماندې د دغو جوړښتونو له حدودو څخه بهر فعالیت کوي د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د

---

[5]. S/RES1960 (2010)؛ او همدا شان S/RES1820 (2008)، S/RES1888 (2009)، S/RES1889 (2009)، او S/RES1960 (2010) ته دی مراجعه وشی.

6 افغانستان د ۲۰۰۹ د نوومبر په ۱۰ د ۱۹۷۷ کال دویم اضافي پروتوکول تصویب کړ چې د همدې کال د ډسمبر په ۲۴ نافذ شو.

7 دغه مسله د نړیوال سره صلیب د کمیټې له خوا هم تایید شوې چې وبیل شوي د ژنیو د څلورو تړونونو او لومړی اضافي پروتوکول څو قاعدې د بین المللی عرفی قانون په څیر منل شوي او د دغو اصولو ډیری په نړیواله او داخلي وسله واله نښتو کې مراعات کیږي. (د نړیوال سره صلیب کمیټه، د بشرپالني نړیوال عرفي قانون، ایډیټ: جان ماری - هینکارټس او لوییز دوسوالد بیک (سی یو-پی/آی سی آر سي- ګامبریج- ۲۰۰۵

8 اضافي دویم پروتوکول، ۱۳ (۲) ماده.

9 اضافي لومړی پروتوکول ۴۸ ماده. وګورئ ۵۱ (۲) ماده چیرې چې ملکي کسان باید د برید هدف ونه وګرځي او ۵۲ (۲) ماده چیرې چې "بریدونه باید یوازې په نظامي هدفونو پورې محدود پاتې شي."

10 اضافي لومړی پروتوکول ۵۱ ماده (۵) (ب) وګورئ په بریدونو کې د احتیاط په اړه ۵۷ ماده.

11 دویم اضفاي پروتوکول ۱۳ ماده (۱)

12 لومړی اضافي پروتوکول ۵۷ ماده (۱) او ۲ (الف) ii

ترونونو غړي هيوادونه دي. ټول هغه هيوادونه چی افغانستان ته يی نظامی ځواکونه استولی د ۱۹۷۷ اضافی لومړی او دويم بروتوکول غړی نه دی ،خو د دی سره د هغو اصولو په مراعت کولو مکلف چی د نړيوال عرفی قانون برخه ده.

### (ii) د بشري حقونو د نړيوال قانون لاندې مسووليتونه

د بشري حقونو نړيوال قانون هم د وسله والي نښتي او هم د سولي په وخت کي د تطبيق وړ ګڼل کيږي. د بشري حقونو نړيوال قانون د بشر پالني د نړيوال قانون سره يو ځای په تکميلوونکی او يو د بل پياوړی کوونکی توګه د تطبيق وړ دی.

افغانستان د بشري حقونو څو نړيوال ترونونه لاسليک کړي دي،[13] چې په هغو کې د مدني او سياسي حقونو نړيوال ترون شامل دی او د افغانستان دولت په دې مکلف کوي چې د دولت د حاکميت په ساحه کې ټولو اوسيدونکو اشخاصو او ددوي د بنسټيزو بشري حقونو ساتنه وکړي.

په داسی حال کی چی افغانستان کې نا دولتی فعالی ډلی، د غير دولتي وسله والو ډلو په ګډون، نه شي کولای چې په رسمي ډول د بشري حقونو دنړيوالو ترونونو غړي شي، خو د بشری حقونو نړيوال قوانين په زياتيدونکی توګه دا حکم کوی چی په هغو سيمو کی چی طالبان عملاً کنترول لری، دوی د نړيوالی بشری حقونو د مراعات مکلفيت پر غاړه لری.[14]

### (iii) د نړيوال جنايي قانون په وړاندې مسووليتونه

افغانستان په ۲۰۰۳ کي د بين المللي جنايي محکمې د روم اساسنامه لاسليک او له هغې سره يو ځای شو. له دې امله افغانستان لومړنی مسووليت لري چې د نړيوالو جرمونو په اړه تحقيق وکړي، لکه جنګي جرمونه، د بشريت ضد جرمونه او نسل وژنه د خپلو محاکمو په صلاحيت کې هغه په عدلي ډول تعقيب کړي. که افغانستان ونه شي کولای او يا و نه غواړي چي دغه کار وکړي، بين المللی جنايي محکمه کولای شي په افغانستان کي خپل صلاحيتونه عملي کړي.

هغه دولتونه چې نظامي ځواکونه يې په افغانستان کې د بين المللي نظامي ځواکونو په ليکه کې شامل دي او د افغانستان د شخړې يوه خوا ده او د بين المللي جنايي محکمې اساسنامه يې لاسليک کړې ده، مسووليت لري چې هغه جرمونه تحقيق او تعقيب کړي چې د جنايي محکمې د قضاوت په ساحه کې وي او د دوي اتباع په افغانستان کې ددغو جرمونو په ارتکاب تورن وي. په ځانګړی توګه دولتونه مکلف دی چی د نړيوالی جنايي محکمې د اساسنامې ۸ (۲) (اي) (آی) مادی له مخی، چی حکم کوی چی "په قصدي ډول په عام ولس باندې يا په انفرادي اشخاصو، چې په مستقيم ډول په شخړو کې ښکيل نه وي په مخامخ ډول بريد کول" په داخلي وسله والو نښتو کې جنګي جرم ګڼل کيږي، تر تحقيق او عدلی تعقيب لاندی ونيسی."

## IV. د ملي قوانينو په وړاندې مسووليتونه

دولت ضد عناصر د افغانستان د جنايي قوانينو له مخې تعقيب کيدای شي. د افغانستان حکومت نظامي ځواکونو غړي او د نړيوال نظامي ځواکونو غړي د دوي د خپلو دولتونو د ملي قوانينو د نقض له امله پوښتنل کيږی او پر حساب ورکولو مکلف دي.

---

13 افغانستان د بشري حقونو د بين المللي لاندنيو ترونو او معاهدو يو غړی هيواد دی: د مدنی او سياسي حقونو نړيوال ترون په ۲۴ اپريل ۱۹۸۳؛ د اقتصادي اجتماعي او کلتوري حقونو ترون ۲۴ اپريل ۱۹۸۳؛ د نژادي تبعيض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو بين المللی ترون، ۵ اګست ۱۹۸۳؛ د ښځو په وړاندې د تبعيض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو ترون، ۵ مارچ ۱۹۸۳؛ د شکنجې او نورو توهينوونکو او غير انساني جزا او چلند د منع کولو ترون، ۲۶ جون ۱۹۸۷؛ د ماشوم د حقونو ترون، ۲۷ اپريل، ۱۹۹۴؛ او دماشومانو د حقونو ، دماشومانو د پلورلو، د ماشومانو د فحاشی او د پورنوګرافی د منع دکنوانسيونو اختياري بروتوکول، ۱۹ اکتوبر کال ۲۰۰۲؛ او په وسله واله جګړه کې د ماشوم ګډون په باب د ترون اختياري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴ تصويب شوی دی. منبع : http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html

14 د ملګرو ملتونو عمومي سر منشي، په سريلانکا کې د حساب ورکونې په اړه د عمومي منشي د کارپوهانو د پلاوی راپور ۲۰۱۱، ۳۱ مارچ پاراګراف ۱۸۸. دغه راز وګورئ د ليبيا په عربی جمهوريت کې د بشرپالنې د بين المللي قانون د نقض په اړه د څيړنو د بين المللي کميسيون د تحقيقاتو راپور A/HRC/17/44 ۱ جون ۲۰۱۱.

**د ملکیانو/محفوظو جنګیالیو تعریف**

یوناما د ملکی وګړو لپاره یو تعریف کاروی او تطبیقوی چی د نړیوال قانون سره سمون خوری. په افغانستان کی د وسله والی شخړی نوری خواوی او فعالان د ملکی وګړو لپاره خپل خپل تعریفونه جوړوی چی په وړاندی برخو کی به توضیح شی.

**یوناما**

یوناما د ملکي کسانو لپاره هغه تعریف کاروي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه څرګندوي. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي" کسان هغه څوک دي چې جنګې اشخاص نه وي. (د نظامي/ نیمه نظامی ځواکونو غړي) یا د منظمو وسله والو ډلو غړي چې د شخړې یوه خوا او هغه کسان چې د عمومي قیام[15] برخه نه وي. یو ملکی شخص کولای شي چې خپل موقف له لاسه ورکړي که چیرې دا په وسلواله نښته کې په هغه وخت کی مستقیمه برخه واخلي.

د بشرپالنې نړیوال قانون په شخړه کې له ښکیلو خواو څخه غوښتنه کوي چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې تل د ملکي کسانو او جنګي افرادو ترمنځ تشخیص وکړي. هغه کسان چې په شخړه کې برخه نه اخلي یا له دې وروسته په کې برخه نه اخلي خوندی تضمین شوی دي او باید برید ور باندې ونه شي. لکه د ملکی کسانو په څیر، هغه جنګی افراد چې (ژوبل شوی، ناروغه ، ویجاړه شوی کښتی عمله، توقیف شوی یا تسلیمیدونکي کسان وي) یا هغه کسان چې د وسله والو ځواکونو د روغتیایي یا مذهبي پرسونل برخه وي د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې له بریدونو څخه خوندي دي.

د افغانستان په شرایطو کې دغه راپور د خلکو د بیلا بیلو کتګوریو په وړاندې بریدونه مستند کوي چې په جګړو کې ښکیلې خواووی نه دي لکه د عامه خدمتونو کارمندان، ښوونکي، د روغتیایی کلنیکونو کارمندان، په عامه خدمتونو کې شامل کسان، سیاسي مشران او ددفترونو خاوندان، د نا دولتی موسسو کارمندان او د ملکي پولیسو پرسونل چې د جنګي افرادو په څیر وظیفی نه تر سره کوی او دولت ضد عناصرو پر ضد عملیاتو کی برخه نه اخلي.[16]

**د دولت ضد عناصر /طالبان**

طالبانو په عمومی ډول په خپلو اعلامیو کی ویلی چې ځینې داسې کسان چې په قانوني ډول د "ملکي" اشخاصو په جمله کې راځي تر برید لاندې راولي. دغه عمل د بشرپالنې نړیوال قانون سره مغایرت کی دی.

په ۲۰۱۱ کال کی طالبانو د ګڼ شمیرملکی کسانو په نښه شوی وژنو ادعا کړی چې په دی ډله کی دولتی مامورین ، قبایلی مشران، دولتي کارمندان، قراردادیان، ډریوران، ژباړونکي او نور داسې ملکی کسان چې د دوی په عمومی لستونوکی شامل دی، بائد وژل شی اویا ونیول شی[17]. د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په میاشت کی طالبانو د دولت د لوی جرګی د راغوښتلو په غبرګون کی ډیر شمیر ملکی خلک چې په لویه جرګه کی ونډه اخستله د دولت سره د تړاو له امله یی په خپله اعلامیه کی مشروع هدف ګزول اعلان کړه.

اسلامی امارت هرهغه چاته چې غواړي په دغه تش په نامه لویه جرګه کې برخه واخلي خبرداری ورکوي چې دغه وطن پلورونکي څیرې به دهیواد په ګوټ ګوټ کې داسلامی امارت دمجاهدینو لخواتعقیب اوله سخت غبرګون سره مخ شی. په دې اړه دهیواد پیاوړو علماؤ خپله فیصله کړې ده او هرڅای چې ددې غونډې ګډون کونکې د

15 د ۵۰ مادی لومړی پاراګراف د لومړی پروتوکول د ژنیو د کنوانسونونو لومړی پراګراف سره مقایسه کړئ. وګورئ: نایلز میلځر، "د بشرپالنې د بین المللي قانون لاندې په دښمنیو کې د مستقیمی برخې اخیستنې په اړه لارښوونې." ۲۰۰۹، ا جولای.

16 یوناما هغه پولیس افسران جنګی افراد ګڼي چې په مستقیم ډول په نښتو کې برخه اخلي. په دې کې د افغانستان ملي پولیس، محلي پولیس، سرحدي پولیس شامل دي چې په معمول ډول د یاغیانو ضد فعالیتونو کې برخه اخلي، خو که داسې شواهد پیدا شي چې د هغې په خلاف وي. یوناما د افغانستان ترافیک پولیسو او نور پولیس افسران، چې یوازې د ملکي پولیس وظیفې اجراء کوي د جنګي افرادو په توګه نه پیژني.

17 د یوناما ملکی کسانو د ساتنی د ۲۰۱۱ کال شپږمیاشتنی راپور وګوری.پاراګراف iv-iv د طالبانو د ۲۰۱۰ کال لایحه او د ۲۰۱۱ کال د اپریل د ۳۰ نیټی د پسرلی عملیات چی د ملکی اهدافو لست یی د افغانستان د کابینی ، پارلمان او سولی شورا تر غړو پراخه کړه.

مجاهدینو لاسته ورشي دملي خاینینو په توګه به چلند ورسره وشي .اسلامی امارت خپلوبهادرو او سربښندونکو مجاهدینوته هم سپارښتنه کوي چې دهیواد په هرځای کې ددغې غونډې دامنیت ساتونکي ، تابیا کونکي ، ګډون کونکي ، اودعوت چلونکي ترخپلوکارنده بریدونو لاندې راولي[18] .

په قصدی ډول د دغو ملکي کسانو په نښه کول او وژل د بشرپالني د نړیوال قانون نه سرغړونه ده. د بشرپالني د نړیوال قانون له مخې یوازې نظامي هدفونه د برید لپاره مشروع هدفونه دي. ملکی کسان مشروع نظامي هدفونه نه دي، خو که دوي په مستقیم ډول په جګړه کې برخه اخلي.

**نړیوال امنیتی ځواکونه (آیساف)**

د یوناما د غوښتنی پر اساس ایساف د ملکي کسانو تعریف داسی کړی دی:

*د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي" کسان هغه څوک دي چې جنګي اشخاص نه وي. (د نظامي/ نیمه نظامی ځواکونو غړي) یا د منظمو وسله والو ډلو غړي چې د شخړې یوه خوا او هغه کسان چې د عمومي قیام برخه نه وي. یو ملکی شخص کولای شي چې خپل موقف له لاسه ورکړي که چیرې دا په وسلواله نښتو کې مستقیمه برخه واخلي خو د ملکی خلکو هویت بیا ځل هغه وخت لاس ته راوړی چې* hors de combat *وي (ژوبل شوی، ناروغه ، ویجاړه شوی کښتی عمله، توقیف شوی یا تسلیمیدونکي کسان وي) او نور په جګړه کی فعاله ونډه نه اخلی. ملکی خلک د دوی د تړاو له امله د نور تحلیل په موخه د ملکی افرادو تلفاتو د کمښت تیم لخوا نور هم تفکیک کیږی. د ملکی موقف د ډیر روښانتیا لپاره یو پیښه د قوماندان حقوقی سلاکار ته راجع کیږي[19].*

[18] د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د ۲۶ نیټی د راتلونکی لوی جرګی په اړه د اسلامی امارت د ویاند وینا

[19] د آیساف د ملکی افرادو د مخ نیونکی ټیم سره د ۲۰۱۲ کال د جنوری په نهمه نیټه د بریښنالیک


## لنډیز

*د سهار ۱۱ بجې او ۴۵ دقیقې وې چې ما د چاودنې آواز واوریده. یو څو دقیقې وروسته زما میرمنې زما موبایل ته زنګ راوواهه. هغه ډیره نا راحته وه او په خبره پوهیدل یې ستونزمن وو. هغې راته وویل هغه مهال چې چاودنه وشوه زما ۱۴ کلن ځوی هلته د یخ اخیستلو لپاره تللی و. هغې وویل چې د هغه وینه یې پر سړک ولیده خو نه پوهیږي چې هغه به چیرته وي. زه روغتون ته ولاړم. په زخمیانو او مړو کې مې د لږ وخت لټون وروسته د هغه مړی پیدا کړ. یوه پارچه یې سر کې لګیدلې وه. زه بې هوښه شوم او بیا ملګرو کور ته وړی وم. زما د ځوی مرګ ما او زما میرمن وژني. ما یواځې همدا یو ځوی درلود.*

ـ د بلخ ولایت د مزار شریف د دشت شور په سیمه کې د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو په یوه چاودنه کې د یو وژل شوي هلک د پلار وینا، د ۲۰۱۱ کال د جولای ۲۰.[20]

یوه لسیزه له پیل کیدو وروسته په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان وسله والې جګړې یو ځل بیا له ځان سره زیات ځاني تلفات درلودل. یوناما په ۲۰۱۱ کال کې ۳۰۲۱ د ملکي وګړو مړینې ثبت کړې چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله (۲۷۹۰ د ملکي وګړو وژنې) ۸ سلنه او د ۲۰۰۹ په پرتله (۲۴۱۲ د ملکي وګړو وژنې) ۲۵ سلنه زیاتوالی ښئي.[21]

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما یو ځل بیا پر دې ضرورت ټینګار کوي چې د جګړې ښکیلې خواوې – د دولت ضد عناصر او افغان ملي ځواکونه او نړیوال وسله وال ځواکونه – دې خپل تعهد او هڅې د ملکي وګړو د ساتنې په موخه زیاتې کړي، او د خپلو قانوني مکلفیتونو سره سم دې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړول کم کړي.





په ۲۰۱۱ کال کې د دولت ضد عناصر د ۲۳۳۲ په وسله والې جګړه کې د وګړو د مرګ سبب ګرځیدلي چې د تیر کال په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی څرګندوي. په ۲۰۱۱ کې د ټولو ملکي وګړو د مړینو ۷۷ سلنه د دولت ضد عناصرو پورې منسوب شوې.

د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کې ۴۱۰ ملکي وګړي وژل شوي چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۴ سلنه کموالی څرګندوي.[22] په ۲۰۱۱ کال کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۱۴ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړای شوې ده. نور ۲۷۹ ملکي تلفات چې د ټولو ۹ سلنه جوړوي د جګړې د خواو هیڅ یو لوري ته نه دي منسوب شوي.

[20] د ۲۰۱۱ کال د جولای په ۲۰ مه د مزار شریف د دشت شور سیمه کې یو انفجار کې د یو ۱۴ کلن وژل شوي ماشوم د ۵۵ کلن پلار سره مرکه.


[21]. ۲۰۱۱ پنځم کال دی چې یوناما په کې د ملکي وګړو د تلفاتو زیاتیدل مستند کوي. د ۲۰۰۷ کال راهیسې په وسله واله جګړه کې ۱۱۸۶۴ ملکي وګړي وژل شوي دي.

[22]. دولت پلوه ځواکونو کې افغان ملي امنیتي ځواکونه او نړیوال نظامي ځواکونه چې افغانستان کې فعالیت کوي، شامليږي.




دغه د افغانو ماشومانو، ښځو او نارینه و بی ساری تلفات د دولت ضد عناصرو له خوا د تکتیکونو د بدلون او د جګړې د خواو د تکتیکونو تأثیراتو کی د تغییر نتیجه ده. د دولت ضد عناصرو له تعبیه شوو چاودیدونکو توکو څخه زیاته او په لا پراخه کچه په ټول هیواد کی استفاده کړی، او لا زیات وژونکی او مهم ځان وژونکی بریدونه یی تر سره کړی چی په نتیجه کی د لا زیاتو تلفاتو سبب ګرځیدلی. دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوایی بریدونو له کبله ملکی مرګ ژوبله کی په ۲۰۱۱ کال کی زیاتوالی راغلی، په داسی حال کی چی د هوایی بریدونو شمیر کم شوی دی او د ملکی وګړو مرګ ژوبلی کموالی دولت پلوه ځواکونو ته منسوبیږی.[23]

په عین حال کی، په ۲۰۱۱ کال کی د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی جغرافیایی ویش کی، په ځانګړی توګه د کال په دوهم نیمایی کی، هم بدلون راغلی. لکه څنګه چی د هیواد په جنوب کی د وسله واله جګړی شدت کم شوی، او په جنوب ختیزو، ختیزو او شمالی ولایاتو کی یی شدت زیات شوی، د افغان ملکی وګړو تلفات په دی سیمو کی لوړ شوی چی په نتیجه کی یی په ملی کچه د ملکی وګړو مرګ ژوبله کی لوړوالی لیدل کیږی.[24] د مثال په ډول، د ۲۰۱۱ کال په دوهمه نیمایی کی د حکومت پلوه او حکومت ضد عناصرو تر منځ مخامخ نښتو له کبله ۲۸۹ تنه ملکی وکړی وژل شوی چی د ۲۰۱۰ کال د همدی مودی په پرتله ۳۳ سلنه کموالی ښئی. په استثنا د ختیزی سیمی چی د جګړو له کبله ۷۲ ملکی وګړی وژل شوی او د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۲۹ سلنه زیاتوالی څرګندوی، د دی تاکتیک له کبله د مړینو کچه په ټولو سیمو کی کمه شوی.




---

[23] په ۲۰۱۱ کال کی د وسلی سره له نژدی څخه هوایی مرستی مأموریت په افغانستان کی ۱۶۷۵ ته رسیږی چی ۴۸۹۶ حملی په کی شاملیږی چی د ۲۰۱۰ کال په پرتله چی ۱۸۱۶ مأموریتونه اجرا شوی چی ۵۱۰۱ بریدونه په کی شامل و، راټیټ شوی. د متحده ایالاتو هوایی ځواکونو د عامه چارو خبر پاڼه وګوریئ، "د مشترکو ځواکونو د هوایی ځانګی قوماندان، ۲۰۰۸ – د ۲۰۱۱ کال احصائیه، د ۲۰۱۲ کال د جنوری ۲ مه" .

[24] د ملګرو ملتونو د امنیت او مصؤنیت څانګی په افغانستان کی د ۲۰۱۱ کال په جریان کی د ۲۰۱۰ په پرتله ۱۸ سلنه زیاتی پیښی ثبت کړی دی چی د ۲۲۹۰۳ پیښو رپورټ ورکوی چی په ۲۰۱۰ کی ۱۹۴۰۳ پیښی وی او په ۲۰۰۹ کی ۱۱۵۲۴ پیښی وی. جنوبی او جنوب ختیزی سیمی د دی پیښو ۶۴ سلنه تشکیلوی (هر یو یی ۳۲ سلنه کیږی). د پیښو د زیاتیدلو میاشتینۍ کچه په دی سیمو کی لوړه وه چی د ۲۰۱۰ په پرتله ۳۸ سلنه زیاتوالی څرګندوی. خو د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر راهیسی چی نظامی عملیات په جنوب ختیز او ختیزو سیمو کی متمرکز کړای شوی دی، جنوبی سیمه کی د نظر وړ کموالی څرګندیږی چی د پیښو کچه بیا په ډسمبر کی هم ټیټه پاتی شوی چی د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتونو سره مطابقت کوی چی د سپتمبر راهیسی یی په ختیزو او جنوب ختیزو سیمو تمرکز کړی دی.

### د دولت ضد عناصر او د ملکی وګړو ساتنه

د دولت ضد عناصرو له خوا استعمال شوی تکتیکونه افغان ملکی وګړی د زیاتی مرګ ژوبلی سره مخ کړی چی په ۲۰۱۱ کی یی په زیاتیدونکی توګه وژونکی تأثیرات درلودل. تعبیه شوی چاودیدونکی توکی په ۲۰۱۱ کی د افغان ماشومانو، ښځو او نارینه و د وژل کیدلو یواځینی او تر ټولو لویه طریقه وه چی د ۹۶۷ ملکی وګړو ژوند یی اخیستی چی په روانه جګړه کی د ملکی وګړو تقریباً دریمه برخه (۳۲ سلنه) جوړوی. تعبیه شوی چاودیدونکی توکی د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی ملکی وګړو مړینی ۴۱ سلنه تشکیلوی.[25]

د ۲۰۱۱ کال په جریان کی د دولت ضد عناصرو د انسان په واسطه منفجریدونکی فشاری تعبیه شوو بمونو استعمال زیات کړی و چی د پرسونل ضد ماین په څیر کار کوی او هغه وخت چوی چی کله، د ماشومانو په شمول، کوم انسان پری پښه کیږدی او یا کومه واسطه پری وروخیژی . دا ډول تعبیه شوی چاودیدونکی توکی د نظامی او ملکی اهدافو تر منځ توپیر نه شی کولای نو په دی توګه غیر قانونی او منع شوی وسله حسابیږی. سره له دی چی طالبانو د پرسونل ضد ماینونو استعمال په ۱۹۹۸ کال کی منع کړی و، او دا ډول وسلی یی غیر اسلامی او غیر انسانی بللی وی، د دولت ضد عناصرو د پرسونل ضد ماین په ډول چاودیدونکو توکو څخه په ۲۰۱۱ کال کی کار اخیستی چی پر ملکی وګړو یی ناوړه اغیزی درلودلی. یوناما یو ځل بیا طالبان او نور د دولت ضد عناصر دی ته رابولی چی خپل جنګیالی غړی د دی ډول فشاری چاودیدونکو توکو له استعمال څخه منع کړی چی په ۲۰۱۱ کال کی یی ګڼ شمیر افغانان وژلی او یا ټپیان کړی دی.

په ۲۰۱۱ کال کی د ځان مرګی بریدونو له کبله د ملکی وګړو د مړینی کچه په افغانستان کی په څرګنده توګه لوړه شوی ده. په مجموع کی، ۴۵۰ تنه ملکی وګړی په ځان مرګو بریدونو کی وژل شوی چی د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۸۰ سلنه زیاتوالی ښئی. ځان مرګی بریدونه د ملکی وګړو د مرګونو ۱۴ سلنی او د دولت ضد عناصرو ته منسوب ملکی تلفاتو ۱۸ سلنه جوړوی. که څه هم د ۲۰۱۰ په پرتله د ځان مرګو بریدونو شمیر نه دی زیات شوی، خو د دی بریدونو بڼه بدله شوی او لا زیات پیچلی شوی او کله زیات ځان وژونکی هم په یوه برید کی دخیل شوی او برید داسی طرح شوی چی د لا زیاتو ملکی وګړو د مرګ ژوبلی سبب شوی.

په ۲۰۱۱ کال کی د دولت ضد عناصرو له خوا هدفمنو وژنو دوام موندلی چی د ۲۰۱۰ کال په پرتله لا زیات شوی دی. یوناما د هیواد په کچه ۴۹۵ هدفمنی وژنی ثبت کړی چی د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښئی. والیان او ولسوالان، د محلی حکومت مأمورین او کارکوونکی او د ولایتی شورا ګانو او سولی شوراګانو غړی او محلی او قومی مشران په دی ډول وژنو کی په نښه کړای شوی دی.

په ۲۰۱۱ کی طالبانو د ملکی وګړو د ساتنی په اړه څو بیانونه خپاره کړی.[26] یوناما د طالبانو په پالیسی کی د هر ډول ښکاره تغییر هر کلی کوی چی د ملکی وګړو د تلفاتو د کموالی سبب شی، خو تأکید کوی چی داسی قواعد هغه وخت معنی ورکوی چی په ریښتینی ډول عملی کړای شی. په ۲۰۱۱ کی د طالبانو له خوا د ملکی وګړو د ساتنی په موخه د پیغامونو د ښه کیدلو سره سره، یوناما د طالبانو له خوا د نړیوالو بشردوستانه قوانینو متابعت یا د ملکی وګړو تلفاتو کی کموالی نه دی مستند کړی. طالبانو په مستقیمه توګه ملکی وګړی هدف ګرځولی او د فشاری بمونو په ډول داسی وسلو څخه یی کار اخیستی چی د بی تفکیکه وژنو سبب ګرځی.

یوناما د طالبانو پر مشرتابه غږ کوی چی د ملکی وګړو د ساتنی په موخه – لکه څنګه چی د طالبانو په څو بیانونو کی څرګند شوی – د جګړی او ښنتی قواعد په خپله لایحه کی ځای کړی، او د نړیوال بشردوستانه قوانینو مطابق د

---

[25]. د ملګرو ملتونو د امنیت او مصؤنیت برخه ریورټ ورکوی چی په اوسط ډول هره ورځ ۲۳ تعبیه شوی چاودیدونکی توکی یا منفجر شوی او یا کشف شوی، چی د ۲۰۱۰ په پرتله دوه برابره کیږی.

[26]. د پسرلنیو عملیاتونو د پیل په هکله د افغانستان د اسلامی امارت د مشرتابه وینا، د ۲۰۱۱ کال د اپریل ۳۰ مه، څلورم پاراګراف، د واړه اختر په مناسبت د ښاغلی امیرالمومنین د مبارکی پیغام، د ۲۰۱۱ کال د اګست ۲۸ مه، او د لوی اختر په مناسبت د ښاغلی امیر المومنین د مبارکی پیغام، د ۲۰۱۱ کال د نومبر ۵ مه.

http://www.shahamatenglish.com/index.php?option=com_content&view=article&id=6780:statement-of-the-leadership-council-of-the-islamic-emirate-regarding-the-inception-of-the-spring-ope&catid=4:statements&Itemid=4.

ملکی وګړو د مرګ ژوبلې د کمولو په موخه دی احکام وضع کړي، او ډاډمنه دی کړي چې دا احکام او قواعد د ټولو طالبانو جنګیالیو له خوا عملي کیږي او د سرغړونې په صورت کې دی ورته جزا وټاکل شي.

### دولت پلوه ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه

د دولت پلوه ځواکونو په تکتیکونو کې هوایي بریدونه په ۲۰۱۱ کال کې د زیات شمیر ملکي افغانانو د وژنې لامل ګرځیدلي.[27] په مجموع کې، ۱۸۷ ملکي وګړي د هوایي بریدونو له کبله وژل شوي چې د ۲۰۱۰ په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی ښئي.

د شپې له خوا عملیاتونو کې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي وګړو د تلفاتو شمیر په ۲۰۱۱ کې ۶۳ ته راکوز شوي چې د ۲۰۱۰ په پرتله ۲۲ سلنه کموالی ښئي.[28]

د ۲۰۱۱ کال د جولای او ډسمبر تر منځ، یوناما د افغان امنیتي ځواکونو عملیاتونو له کبله د ۴۱ ملکي وګړو وژنې مستند کړي. دا د ۲۰۱۰ کال د وروستیو شپږو میاشتو په پرتله د دې ځواکونو له خوا د ملکي وګړو د تلفاتو ۱۹۲ سلنه تشکیلوي. یوناما په هغه سیمو کې چې انتقال په کې عملي شوی دی، د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ملکي وګړو تلفاتو هیڅ یا ناڅیزه تغییر مستند کړی دی.

یوناما پر ټولو ملي او نړیوال ځواکونو تأکید کوي چې د خپلو نظامي عملیاتونو پلان کولو او عملي کولو کې دی د ملکي وګړو د تصادفي وژنې یا ټپي کیدلو د مخنیوي په موخه دی لا زیات تدابیر عملي کړي.

### د وسله والې جګړې اغیزې پر ښځو او ماشومانو

په ۲۰۱۱ کې، بیا هم ښځو او ماشومانو په زیاتیدونکې توګه د وسله والې جګړې بار کښلی دی. په ۲۰۱۱ کې د تیر کال په پرتله د وژل شوو ښځو او ماشومانو شمیر په ځانګړې توګه په دوهم نیمایي کې زیات شوی دی. یوناما د ۱۶۶ ښځو او ۳۰۶ ماشومانو مړینې ثبت کړې چې د ۲۰۱۱ د جولای او ډسمبر تر منځ مودې د ملکي وګړو د مړینې ۳۰ سلنه تشکیلوي. د ۲۰۱۰ کال د همدې مودې په پرتله، د وژل شوو ښځو شمیر ۲۹ سلنه او د وژلو شوو ماشومانو شمیر ۵۱ سلنه د ۲۰۱۱ په دوهم نیمایي کې زیاتوالی څرګندوي.

تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د وسله والې جګړې سره تړلو د ښځو او ماشومانو د مړینې عمده لامل و. د ۲۰۱۱ کال په دوهم نیمایي کې، تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ۱۱۲ ماشومانو (د همدې دورې د ماشومانو د ټولو مړینې ۳۶ سلنه) د مړینې سبب ګرځیدلي چې د تیر کال د وروستي نیمایي په پرتله ۴۵ سلنه زیاتوالی ښئي. ۶۹ ښځې د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې وژل شوي (د ۲۰۱۱ کال د وروستي نیمایي د ښځو د ټولو مړینو ۴۱ سلنه) چې د ۲۰۱۰ کال د وروستي نیمایي په پرتله ۳۰ سلنه زیاتوالی څرګندوي. د ۲۰۱۱ د جولای او ډسمبر تر منځ موده کې ځان مرګو بریدونو ۵ ښځې او ۳۰ ماشومان وژلي چې د دې تاکتیک له امله د۲۰۱۰ کال د همدې دورې د تلفاتو دوه برابره زیاتوالی ښئي.

د دولت پلوه ځواکونو له خوا هوایي بریدونو د ۲۰۱۰ کال په پرتله په ځانګړي ډول په دوهمه نیمایي کې د ښځو او ماشومانو د زیاتې مړینې سبب ګرځیدلي . د ۲۰۱۱ کال د جولای او ډسمبر مهال تر منځ، په هوایي بریدونو کې د وژلو شوو ښځو او ماشومانو شمیر د تیر کال د همدې مودې په پرتله درې برابره شوي (۶۶ مړینې چې په کې ۴۵ ماشومان او ۲۱ ښځې شاملیږي). د ۲۰۱۱ کال په وروستي نیمایي کې هوایي بریدونو د ښځو او ماشومانو د مړینې د مجموعې ۱۴ سلنه تشکیلوي.

---

[27] هوایي بریدونه له نظامي الوتکو څخه ټول بریدونه په بر کې نیسي چې له الوتکې، هیلیکوپټر یا بې پیلوټه طیارو څخه په کې انداخت کیږي.

[28] د شپې له خوا عملیات او بریدونو په هکله د دقیقو ارقامو لاس ته راوړل ستونزمن کار دی ځکه چې دا معلومات اکثراً محرم وي. د شپې له خوا عملیاتو په هکله ارقام که د افغان یا نړیوالو ځواکونو، ځانګړو ځواکونو، ځانګړو عملیاتي ځواکونو، او نور دولتي ادارو له خوا اجرا شوي وي، او په دې عملیاتو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې په هکله ارقام معمولاً د لاسرسي وړ نه دي. په کاري ساحې کې او مالوماتو ته د لاسرسي د محدودیتونو له کبله یوناما کیدای شي د شپې له خوا عملیاتو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې په هکله ارقام ټیټ ښودلي وي.

### د جګړې جغرافیایي بدلون

د کال په جریان کې جګړه له هغو سیمو څخه چې په تاریخي ډول جګړو په کې تمرکز درلود نسبتاً په نورو سیمو کې شدیده شوې او په جنوب ختیز، او ختیزو سیمو په زیاتو ولایاتو کې یې شدت موندلی. د ۲۰۱۱ کال په دوهم نیمایي کې، که څه هم کندهار او هلمند هغه ولایتونه وو چې د ملکي وګړو وژنو لوړ ارقام یې درلودل چې ۲۹۰ ملکي وګړي په کې وژل شوي وو، دا ارقام د ۲۰۱۰ کال د همدې مودې په پرتله ۳۹ سلنه کموالی ښکاره کوي.

په مقایسوي ډول جنوب ختیځ ولایتونه، خوست، پکتیا او غزني، او ختیځ ولایات، کنړ او ننګرهار، مجموعاً ۴۴۶ مړینې ښئي چې د ۲۰۱۰ کال د همدې دورې په پرتله ۳۴ سلنه زیاتوالی څرګندوي. د ۲۰۱۱ کال د جولای او ډسمبر تر منځ موده کې، په مرکزي سیمه کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله له ۱۲۸ څخه ۲۳۰ ته ختلې او د تیر کال په پرتله ۸۰ سلنه زیاتوالی څرګندوي. دا زیاتوالی په کابل ولایت کې تر ټولو زیات و چې د ملکي وګړو مړینه د ۲۰۱۰ کال د وروستي نیمايي د ۲۳ تنو څخه په ۲۰۱۱ کې ۷۱ ته رسیدلې. له دې ۷۱ څخه ۶۷ ملکي کسانو مړینه په کابل کې د شپږو ځان وژونکي بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوې.

که څه هم په ۲۰۱۱ کې د دولت ضد عناصرو له خوا د هدفمنو وژنو کچه په جنوبي، مرکزي او شمال ختیزو سیمو کې کمه شوې ده، د هیواد په کچه د دې ډول وژنو شمیر ۶ سلنه زیات شوی چې په لویدیځو سیمو (۲۲۵ سلنه)، جنوب ختیزو سیمو (۱۱۴ سلنه) او ختیزو سیمو (۱۰۷ سلنه) ډیر زیاتوالی ښئي.

په ۲۰۱۱ کې، یوناما د کنړ، ننګرهار او نورستان ولایاتو ته څیرمه قبایلي سیمو کې د پاکستاني پوځي ځواکونو د یاغیانو پر ضد عملیاتو کې بمباریو له کبله د ۵۴ ملکي افغانانو مرګ ژوبله ثبت کړې (۱۸ وژل شوي او ۳۶ ټپیان شوي).[29] دې بمباریو په سلګونه کورنۍ په کونړ او ننګرهار کې بیځایه کړې او ګڼ شمیر ملکي شتمنۍ یې د کورونو او مالدارۍ په شمول تخریب کړې.

### افغان محلي پولیس او د ملکي وګړو ساتنه

په ۲۰۱۱ کال کې د انتقال د پروسې د پیل سره سم، افغان او نړیوالې امنیتي ځواکونو پر افغان محلي پولیسو (ALP) تکیه وکړه، تر څو د هیواد په محلي او لیرې پرتو سیمو کې امنیتي تشه ډکه کړي.[30] د محلي پولیسو واحدونه په ځانګړو ولسوالیو کې جوړ شوي چې هلته په کافي تعداد افغان ملي پولیس او افغان ملي اردو سرتیري حضور نه لري چې وکړای شي د سیمې د خلکو امنیت وساتي، او هغه افراد په کې شامل کړای شوي دي چې له محل څخه استخدام شوي او په یوه محدوده جغرافیایي سیمه کې امنیت ټینګوي. په داسې حال کې چې د ملي پولیسو او ملي اردو د تربیه کولو په پرتله یې لګښت ډیر کم دی، د محلي پولیسو شمیر ۱۱۰۶۶ ته رسیږي چې په ۵۷ سیمو کې ګمارل شوي، او د داخله وزارت ته صلاحیت ورکړل شوی چې تر ۳۰۰۰۰ پورې محلي پولیس په ۹۹ ولسوالیو کې توظیف کړي.[31] په افغانستان کې د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواکونو (آیساف) د توضیحاتو له مخې، افغان محلي پولیس

[29] د ۲۰۱۱ کال لپاره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ارقامو کې یوناما د هغه ملکي وګړو مړینه نه شاملوي چې د پاکستان له خوا راکټونو ویشتلو له امله رامنځ ته شوې. ښاغلي صادق، په افغانستان کې د پاکستان سفیر ریپورټ ورکوي چې د افغانستان خارجه وزیر ته یې ویلي دي چې: "ما هغوی ته ویل چې پاکستاني ځواکونو د پاکستان د طالبانو د تحریک جنګیالي په نښه کړي، نه افغان ملکي وګړي. خو د وګړو او شتمنیو د تاوان په هکله خواشیني یو. اکسپرس ټرایبیون وګورئ: http://tribune.com.pk/story/261277/cross-border-shelling-kabul-delivers-rebuke-to-pakistan-envoy/.

[30] آیساف او د کورنیو چارو وزارت په ۲۰۱۱ کال کې افغان محلي پولیس د داخلي وزارت په چوکاټ کې منځ ته راوړل چې بې ثباته ولسوالیو سره مرسته وکړي، لیرې پرتې سیمې وساتي، د دولت ضد عناصر د نفوذ مخه ونیسي، او ښې حکومت دارۍ او پرمختګ لپاره زمینه برابره کړي. د آئساف د څرګندونو پر اساس، محلي پولیس چې د کلیو د ثبات د پروګرام ( Village Stability Operations Programme یا VSO) لاندې کار کوي، (چې دا پروګرام په ځانګړو کلو کې د متحده ایالاتو ځانګړې عملیاتي ځواکونو ته زمینه برابروي چې د خلک د دولت ضد عناصرو پر وړاندې ودروي) دا هدف لري چې د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتي ځواکونو سره په عین وخت کې خلک دې ته تشویق کړي چې حکومت دارئ او پرمختیایي کارونو د ښه کیدلو سره مرسته وکړي. د افغان محلي پولیس بودجه د متحده ایالاتو له خوا د افغان امنیتي ځواکونو د مالي صندوق څخه د ټولو ۳۰۰۰۰ تنو لپاره تر ۲۰۱۵ پورې تمویلیږي. آیساف وایي چې تر دې دمه تر ۴ ملیونو زیات خلک په هغو سیمو کې ژوند کوي چې د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتي ځواکونو د کلیو د ثبات عملیاتونو او افغان محلي پولیسو له خوا ساتل کیږي.

[31]. د محلي پولیسو واحدونه باید د افغان ملي پولیسو د قوماندې تر جوړښت لاندې فعالیت وکړي چې د ولسوالیو په کچه باید د ولسوالۍ د پولیسو قوماندان ته ریپورټ ورکړي چې د امنیه قوماندانۍ تر اثر لاندې دي. د محلي پولیسو وګړو ته ۲۱ ورځې ټریننګ ورکول کې

"په ثابته توګه د امنيتي ځواک حضور تآمينوي چې د ځايي خلکو حمايت او په ملي کچه اعتبار لري او نظارت يې کيږي،" او "د آيساف-افغان د ياغيتوب ضد شريکو هڅو کې يو هراړخيز او اساسي ځای لري" او "په پراخه کچه د افغان امنيتي ځواکونو د شبکې يوه برخه جوړوي."[32]

د ۲۰۱۱ کال په اوږدو کې، يوناما د محلي پوليسو د کړنو او د ملکي وګړو پر ساتلو د دوی مؤثريت په هکله مختلف رپورټونه ترلاسه کړي دي. د کال په پای کې، زياتو اړونده مراجعو ويلي چې هغه ځايونو کې چې محلي پوليس ګمارل شوي، امنيت ښه شوی دی، په دی معنی چې محلي پوليسو سيمې ته د ياغيانو د ننوتلو مخه نيولې ده. خو دا انديښنې لا پر ځای دي چې په ځينو سيمو کې محلي پوليسو کې د بشري حقونو پيژندل شوي سرغړونکي شامل شوي، او د دوی تفکيک، ټريننګ، قومانده او کنټرول، څارنه او حساب ورکونه لا هم ناکافي دي.[33] يوناما په ځينو ځايونو کې د محلي پوليسو پر جلب او جذب او کړنو د سيمې د زورواکانو بې ځايه اثر، او دا چې د محلي پوليسو قوماندانانو په پکتيکا او کندز ولاياتو کې پر ټولنه غير قانوني ماليي يا ټکسونه وضع کړي، په پکتيکا، فراه او ارزګان کې يې د ماشومانو په شمول خلک په زور په محلي پوليسو کې جذب کړي، مستند کړي دي. يوناما په کندز، بغلان، او سر پل ولاياتو کې د جنسي تيري، تاو تريخوالي او تهديدونو رپورټونه، او په ارزګان او سر پل ولاياتو کې د اجباري بې ځايه کيدلو رپورټونه هم تر لاسه کړي دي.

د محلي پوليسو د کړنو او څارنې د ښه کيدلو په موخه، آيساف د ۲۰۱۱ کال په ډسمبر کې وويل چې دوی به د کورنيو چارو وزارت سره کار وکړي چې سيمه ييزو پوليسو ته د بشري حقونو څخه د سرغړونې مخنيوی لارو په برخه کې روزنه ورکړي، او د ځواک کاروني صلاحيتونه يې معلوم کړي، آيساف سره يو لوړ پوړي ملي پوليسو چارواکي وګماري تر څو د افغان چارواکو شموليت په نظارت او حساب ورکونه کې ډاډمن کړي او د محلي عکس العمل او د محلي پوليسو د سرغړونو پر وړاندې د طرزالعمل پاليسي جوړه کړي. يوناما د دې اقداماتو هرکلي کوي او د دې رپورټ موندنې مخکې له دې چې دی پروګرام ته وسعت ورکړل شي، د دې طرزالعمل د بيرنې او په بشپړه توګه عملي کولو حمايت کوي.[34]

***پر افغانانو د وسله والې جګړې اغيزې***

د ۲۰۱۱ کال په ترڅ کې عادي افغانانو په خپل ورځنۍ ژوند کې د وسله والې جګړې له کبله په زياتيدونکې توګه مزاحمتونه او اغيزې وليدلې. جګړې او نا امنۍ په ۲۰۱۱ کال کې ۱۸۵۶۳۲ تنه افغانان بې ځايه کړل چې د ۲۰۱۰ په پرتله ۴۵ سلنه زياتوالی ښئی.[35]

زرګونه نورو افغانانو د خپل معيشت وسايل او شتمنۍ له لاسه ورکړي، او آزادي يې يا محدوده شوه يا ورڅخه واخيستل شوه، او غذا، روغتيايي پاملرنې او تعليم ته يې لاسرسي متأثره شول. د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ثابتې کچې او پراخه تهديدونو ګڼ شمير ملکي وګړي مستقيماً، او ډيري نور يې په غير مستقيم ډول، د ستونزو د رابرسيره کيدلو، ويرې او تشويشونو له لارې متأثره کړي دي.

د جګړې د جغرافيايي لحاظه بدلون له نظارت څخه جوتيږي چې د جګړې له امله اغيزمن شوو سيمو خلک د دولت پلوه يا دولت ضد عناصرو او ډلو د نفوذ له کبله لا زيات زيانمنونکې شوي، سرکونه او لارې په زياتيدونکې توګه د پوستو د ايجادولو او يا د تعبيه شوو چاوديدونکو توکو د کارولو، تهديد او د جګړې د خواو له خوا تهديد او تعقيب له کبله بنديږي.

---

چې د متحده اياﻻتو د ځانګړو عملياتي ځواکونو د لارښونو په مرسته عملي کيږي چې بيا وروسته دا د لارښونو دنده افغان امنيتي ځواکونو ته سپارل کيږي. همدا شان د محلي پوليسو لوژستيکي مرستې د متحده اياﻻتو د ځانګړو عملياتي ځواکونو له خوا تأمينيږي.

[32]. د آيساف د مرکزي قرارګاه د عملياتونو د برخې د دفتر د رئيس د معاونيت د مرستيال او نورو کارکوونکو سره د يوناما کتنه، کابل، د ۲۰۱۲ جنوري.

[33] د ملکي وګړو د ساتنې په هکله د يوناما د ۲۰۱۱ کال د لومړنيو شپږو مياشتو او د ۲۰۱۰ کال کلنې رپورټ کې د افغان محلي پوليسو په هکله فصل ته دې مراجعه وشي.

[34]. په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو مرکزي قرارګاه، د ثبتونې، موندنو او سپارښتنو بيان ( AR 15-6-Credibility Assessment of Allegations of Human Rights Violations in a Human Rights Watch Report) د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر ۶ مه.

[35]. د مهاجرينو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري، د ۲۰۱۱ کال لپاره د جګړې له امله داخلي بې ځايه شوو په هکله احصائيه.

د ۲۰۱۲ کال په پیل کی داسی وړاندیزونه او نظریی راپیدا شوی چی د سولی د خبرو اترو سره کیدای شی مرسته وکړی. یوناما تأکید کوی چی د سولی په هر راز خبرو اترو کی باید تر ټولو لوړ لومړی توب په روانه جګړه کی د ملکی وګړو ساتنه وی، او په هره پایله کی چی د شخړی د حل سبب ګرځی، پر داسی جدی او مؤثرو اقداماتو کولو تأکید کوی چی د ملکی وګړو مرګ ژوبله ورسره کمه شی.

یوناما تأکید کوی چی په دی حساس پړاو کی، د افغانانو لپاره د خبرو اترو د پروسی او سولی پر وړاندی پرمختګ اعتبار او ارزښت به د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی د کمولو او په جګړه ځپلو سیمو کی د امنیت د ښه کیدلو له مخی سنجول کیږی.

**سپارښتنی**

یوناما د ملکی وګړو د ساتلو د لا ښه کیدلو په موخه لاندی سپارښتنی وړاندی کوی.

**د دولت ضد عناصرو ته**

د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو متابعت دی وکړی، او د تفکیک، تناسب او احتیاطی تدابیرو د نیولو اصول دی مراعات کړی، او د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو سره سم دی د "ملکی" فرد تعریف مشخص کړی.

د فشاری تعبیه شوو چاودیدونکو توکو استعمال دی ودروی، خپل غړی دی د داسی شیانو له استعمال څخه منع کړی او د بی تفکیکه او غیر مجاز وسلو د استعمال د منعی په برخه کی دی علنأ تعهد ښکاره کړی.

د خپلو نړیوالو قانونی مکلفیتونو مطابق دی د ملکی وګړو په نښه کول او بی تفکیکه توګه د ځان وژونکو بریدونو تر سره کول ودروی چی د ښځو او ماشومانو په شمول ملکی وګړو ته زیان رسوی، او هغه اوامر دی بیرته وګرځوی چی پر ملکی وګړو بریدونو او د هغوی د وژلو جواز ورکوی.

د عبادت پر ځایونو، لکه جوماتونه، او د نړیوالو بشردوستانه قوانینو له مخی نورو مصؤونو ځایونو دی حملی ودروی.

داسی لایحه او هدایات دی صادر کړی چی د دوی غړو ته د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی څخه د ساتنی لارښونه کوی او هغه غړی چی ملکی وګړی وژنی یا ټپی کوی، د هغوی څخه دی حساب وغوښتل شی.

**د افغانستان حکومت ته**

د دی لپاره چی افغان امنیتی ځواکونو له خوا د ملکی مرګ ژوبلی پیښنو پر وخت او دقیقه څارنه او تعقیب شی، د آیساف د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی د له منځه وړلو د ټیم په څیر دی په افغان ملی اردو کی د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی یو ټیم جوړ کړی، تر څو د ملکی وګړو ساتنه او حساب ورکونه بهتره شی.

دوامداره دی کړی چی ټولو ځواکونو ته د قوی د تدریجی زیاتولو، تاکتیکونو او د وژونکی ځواک د استعمال بدیل په برخه کی ټریننګ ورکړی. د امنیتی پوستو او کاروانونو د سمو پروسیجرونو د تطبیق په موخه دی د عامه پوهاوی خدمات وړاندی کړی.

ټولو افغان ملی امنیتی ځواکونو (ملی اردو، ملی پولیس، سرحدی پولیس، محلی پولیس او نور) ته دی د نړیوالو بشردوستانه قوانینو او بشری حقونو قوانینو په ټولو برخو کی روزنه ورکړی او دوامداره دی کړی چی دا ډول روزنه لازمی وګڼل شی او د افغان ملی امنیتی ځواکونو د ټریننګ د پروګرام برخه وګرځی.

د افغان محلی پولسو د جلب او جذب، تزکیی، څارنی او حساب ورکونی میکانیزمونه دی دوی او نورو محلی دفاعی ځواکونو له خوا چی د حکومت تر کنټرول لاندی دی، د بشری حقونو څخه سرغړونی او جرایمو د مخنیوی او د پیښیدو په صورت کی مناسب چلند په موخه لا بهتر کړای شی.

**نړیوالو امنیتی ځواکونو ته**

د ټولو نظامی عملیاتونو، په ځانګړی توګه هوایی بریدونو، د پلان جوړولو او عملی کولو په جریان کی دی د ملکی وګړو د مرګ او ټپی کیدلو او د ملکی شتمنیو د خساری د مخنیوی په موخه دی د ټولو طرزالعملونو او هدایاتو بیا کتنه وکړی.

د دی لپاره چی د ملکی تلفاتو د مخنیوی، د ملکی وګړو د ژوند د اخلال د کمولو او د هغوی د شتمنیو د خوندی ساتلو لپاره د آیساف د قوماندان اراده عملی شی، د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر د لومړی نیټی د "شپی له خوا د عملیاتو تکتیکی هدایات" دی په بشپړه توګه عملی کړی، د محلی مشرتابه سره دی تر ممکنه بریده تر عملیاتو د مخه، د عملیاتو پر مهال اوهم وروسته، معلومات شریک کړی، او ملی امنیتی ځواکونه دی تشویق کړی چی د داسی عملیاتو مشری وکړی.

شفافیت، حساب ورکونی ته دی وده ورکړی، د جبران طرزالعملونه دی اصلاح کړی، او د اغیزمن شوو ملکی وګړو او ټولنو سره د لا ښو اړیکو ټینګولو لپاره دی په بیړنی توګه د هغو پیښو په اړه چی د ملکی مرګ ژوبلی سبب شوی، د ارزونی د ټیم (JIAT) موندنی په عامه سطحه خپری کړی.

د افغانستان حکومت سره دی څومره ژر چی کیدای شی، داسی اقدامات عملی کړی چی د افغان محلی پولیسو کړنی او د هغوی نظارت او حساب ورکونه او د ساحی په کچه مانیټورنګ او لارښونه کی ښه والی راشی، او ټولی هغه ډلی دی بیرته منحل کړی چی د محلی دفاعی ځواک په توګه د حکومت تر ولکی بهر فعالیت کوی.


**د حکومت ضد عناصر او د ملکی وګړو ساتنه**

*چاودنی زه او ځینی نور مسافرین له ټکسی څخه بهر وغورځول. زما څخه وینه روانه وه خو بی هوښه نه وم. ډاکترانو ویل چی زما سر ټپی شوی خو کوم خطر نه شته. زما په ټول وجود کی ګڼ شمیر ټپونه شته چی د اوسپنی د پارچو له امله غوڅ شوی. زما ټکسی چی زما لپاره د روزګار یواځینی وسیله وه په بشپړه توګه تخریب شوی. زه نه پوهیږم چی څه وکړم. آیا څوک ماسره مرسته کولای شی چی جوړ یی کړم؟ زه یو میرمن او ۸ ماشومان لرم او مشر یی له ۱۴ کلونو څخه کم دی، چی باید ډوډی ورکړم. زه نه پوهیږم چی اوس څه وکړم. په عین حال کی تر اوسه پوری می ۲۰۰۰۰ افغانی (۴۴۴ ډالره) په خپل علاج مصرف کړی. زه غواړم د دولت ضد عناصرو ته ووایم چی د بی ګناه خلکو وژنی دی ودروی. دا د اسلامی اصولو خلاف دی.*[36]

د کندز ولایت د کندز په ښار کی د 2011 کال د جون د میاشتی د 19 نیټی د ځان مرګی برید یو ټپی.


په ۲۰۱۱ کی یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا ۲۳۳۲ ملکی وګړو د مړینی او ۳۶۴۹ ټپي کیدنی، چی مجموعاً ۵۹۸۱ ملکی تلفات جوړوی، مستند کړی دی چی د دولت ضد عناصرو ته منسوب د ۲۰۱۰ ملکی تلفاتو په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالی ښیئ

[36] د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتی په ۱۹ نیټه په کندوز ښار کی د ټیکسی چلونکی سره د یوناما مرکه. ټاکلی هدف د آیساف کاروان وو. دوه ملکی کسان مړه او ۱۲ نور ټپیان شو چی د آیساف دوه عسکر هم په ټپیانو کی شامل وو.





د دولت ضد عناصرو دچاودیدونکو تعبیه شوو توکو او ځان وژونکی بریدونو استعمال زیات کړی چی په ښکاره یی ملکی وګړی هدف ګرځولی دی. په هغو پیښو کی چی تاکل شوی هدف یی نظامی و، هغو کسانو چی د ناچاودو تعبیه شوو توکو د ایښودلو یا چولو دنده درلوده، د ملکی وګړو د شتون ته یی هیڅ توجه نه ده کړی او داسی هیڅ شواهد نشته چی دوی به د ملکی او نظامی اهدافو تر منځ توپیر کړی وی چی د نړیوالی بشر دوستانه قوانینو د تفکیک، احتیاط او تناسب د اصولو څخه سرغړونه ده.

همدا راز د دولت ضد عناصرو په قصدی توګه هغه ملکی وګړی وژلی چی په جګړه کی یی برخه نه درلوده، په ځانګړی توګه هغه وګړی چی یا یی د حکومت یا نړیوالی نظامی ځواکونو حمایت کړی او یا ګڼل شوی چی دا دول حمایت به یی کړی وی.




په نښه شوو وژنو تر څنګ، د دولت ضد عناصرو د سرکونو د بندولو، د موبایل شبکوویجاړولو، د شبنامو او تهدید پاڼو اچولو او ملکیانو ته چی حکومت یا نړیوالو ځواکونو او نورو ادارو او سازمانونو ته کار کوی یا ګمان یی پری کیږی، د عام دول ګواښ له لاری خپل د تهدید خپرولو کمپاین شدید کړی دی. په ځینو حالاتو کی دا تهدیدونه د دی سبب شوی چی خلک خپل کورونه او دندی پریږدی. د دی تهدیدونو مثالونه د طالبانو د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د میاشتی بیان دی چی کابل کی د لویی جرګی د جوړیدو پر مهال کړی وو چی افغانانو ته یی اخطار ورکړی وو چی په کی برخه وانه خلی او که نه نو د بدو عواقبو سره به یی مخ شی. همدا شان په محلی کچه، طالبانو په کونړ

ولایت کی په علنی ډول د ګرځنده راډیو له لاری د هغو خلکو نومونه اعلان کړل چی دوی به یی هدف وګرځوی.[37]




**د ملکی وګړو د تلفاتو په هکله د طالبانو بیانونه**

په ۲۰۱۱ کی طالبانو له ۵۷ څخه زیات بیانونه خپاره کړی دی چی ګڼ شمیر یی د ملکی وګړو د ساتنی مسئلی ته متوجه دی. د طالبانو په لایحه[38] (د طالبانو جنګیالیو لپاره د اجراآتو قوانین چی د هغوی عملیات تنظیموی) کی پر ځینو احکامو سربیره، دا بیانونه د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی د کمولو په هلکه د طالبانو د ښکاره نظریاتو ویندویی کوی.

د پسرلنیو عملیاتونو یا د "بدر عملیات" په هکله د طالبانو د ۲۰۱۱ کال د اپریل د ۳۰ می نیټی اعلامیه کی وایی: طالبان به خپلی حملی پر هغه اهدافو متمرکزی کړی چی نظامی طبیعت ولری، او احتیاطی تدابیر به ونیسی او تکراروی چی "د یو مناسب نظامی پلان د طرح کولو له لاری باید د پسرلنیو عملیاتو په ترڅ کی د ملکی وګړو ساتنی ته ځانګړی پاملرنه وشی"[39]

د ۲۰۱۱ کال په اګست کی، د واړه اختر پر مهال طالبانو یو بیان خپور کړ چی پر جنګیالیو غږ کوی چی د لایحی مطابق عمل وکړی او وایی: *"د خلکو د ژوند او ملکیت ساتنه د جهاد له عمده اهدافو څخه دی."* [40]

همدا شان د اګست بیان د قوماندی پر مسئولیت هم تمرکز کوی:

[37] یوناما د شریعت غږ راډیو اوریدلی چی افراد او ډلی یی تهدید کړی. سربیره پر دی د ولسوالی امنیی قومندان یوناما ته ددی خبر پخلی وکړ چی طالبانو یوه ښځه ووژله او د راډیو له لوری یی نوم هم خپور شو. دغه مالومات یوناما د څو نورو سر چینو سره تصدیق کړی.
[38]. د ۲۰۱۰ کال د مي میاشتی لایحه په څلورو برخو ویشل شوی : اومه برخه یی په کورنیو ستونځو تمرکز کوی ، چی په دی کی سلسله مراتب ، د جنګیالیو ډلو تشکیل ، په دښمن د برید لارښوونه ، د ځان وژونکو بریدونو اصول او د شخړو د حل لاری چاری شامل دی. (ماده ۶۲-۶۶).

[39]. دپسرلنیو عملیاتو د پیل په هکله د افغانستان د اسلامی امارت د مشرتابه وینا، د ۲۰۱۱ کال د اپریل ۳۰ مه، څلورم پاراګراف
http://www.shahamatenglish.com/index.php?option=com_content&view=article&id=6780:statement-of-the-leadership-council-of-the-islamic-emirate-regarding-the-inception-of-the-spring-ope&catid=4:statements&Itemid=4
[40]. د کوچنی اختر په مناسبت د طالبانو د مشرتابه د مبارکی پیغام، د ۲۰۱۱ کال دسپتمبرپنځمه

*"تر څو چې د رهبرۍ له خوا هدایت نه وي شوی، یا ولایتي مشر تاسو ته اجازه نه وي درکړې، له خپله ځانه پر خلکو محدودیتونه یا احکام مه وضع کوئ. [...] همدا شان، تاسو باید هغه هدایات عملي کړئ چې تاسو ته د محل د خلکو یا دیني مشرانو سره د مشورې پر اساس درکړل شوي وي."* [41]

دا په ګوته کوي چې باید د طالبانو د اجراآتو قواعد باید ټولو جنګیالیو ته رسول شوي وي او د طالبانو پر موازي حاکمانو مکلفیت وضع کوي چې ډاډمنه کړي د طالبانو ټول جنګیالي چې د دوی تر قوماندې لاندې فعالیت کوي، له دې قواعدو څخه با خبره وي او عمل پرې وکړي.[42]

طالبانو همدا شان یو بله اعلامیه د ۲۰۱۱ کال د نومبر پر ۴ مه خپره کړې چې د لوی اختر سره سمون خوري.[43] دا بیان چې تر دې دمه د ملکي وګړو په اړه د علني اوامرو نماینده ګي کوي، دا پیغام تکراروي چې د طالبانو جنګیالي باید د ملکي وګړو تلفات کم کړي او وایي چې *"ټول هغه ملکي تلفات چې د مجاهدینو له خوا اړول شوي یا ګمان کیږي چې د مجاهدینو له خوا اړول شوي وي، باید مشرانو ته یې ریپوټ ورکړل شي."*

له ملا عمر څخه د داسې خبرو اقتباس کیږي چې وایي هغه ملکي تلفات چې د چاودیدنکو تعبیه شوو توکو استعمال یا استشهادي حملو یا نورو عملیاتو له امله رامنځ ته شوي وي، چې طالبان په هغوی کې د ښکیلتیا څخه انکار کوي خو شواهد بل ډول ښکاري، باید مشکوک عاملین وپلټل شي او د بې غورۍ په صورت کې سزا ورکړل شي. په هغه صورت کې چې عاملین "په تکرار سره د ملکي وګړو په برخه کې بې غوري وکړي" نو د مسئول کس له دندې څخه ګوښه کیدو سر بیره به نورې سزا ګانې هم ورکړل شي. بیان دا هم وایي چې هغه ځایونو کې چې د طالبانو له خوا ملکي وګړو ته تلفات اوړي، مسئولین باید له "مختلفو منابعو" څخه معلومات ترلاسه کړي.

د نومبر د میاشتې بیان د طالبانو پر موازي حاکمانو غږ کوي چې د خپل مسئولیت لاندې سیمو کې په ورځني ډول پلټنې وکړي او له دیني علماو څخه غواړي چې د طالبانو جنګیالیو ته د ملکي وګړو د ساتنې په برخه کې وعظونه وکړي.

که څه هم د نومبر د میاشتې او نورې اعلامیې چې د ملکي وګړو پر ساتنه تأکید کوي، د تشویق وړ دي، د نومبر د میاشتې بیان د طالبانو له خوا د چاودیدونکو تعبیه شوو توکو او ځان وژونکو بریدونو کې چې په ۲۰۱۱ کې د زیاتره ملکي وګړو د مرګ سبب شوي، د طالبانو ښکیلتیا څرګندوي .

سربیره پر دې، لکه څنګه چې د ملکي وګړو د ساتنې په هکله د یوناما د ۲۰۱۱ کال د لومړیو شپږو میاشتو رپوټ کې په ګوته شوي، د طالبان د اپریل د میاشتې د ۳۰ مې بیان د ملکي وګړو د ساتنې مسئولیت پر ملکي وګړو ږدي نه په جګړې کې پر ښکیلو اړخونو. د اپریل د میاشتې بیان ملکي وګړو ته لارښونه کوي چې "د دښمن د غونډو، کاروانونو او مراکزو څخه لیرې واوسي نو دوی ته به پر دښمن د مجاهدینو د حملې پر مهال تاوان نه رسیږي".[44]

همدا شان د لوی اختر په مناسبت د نومبر د میاشتې د طالبانو بیان داسې وایي:

---


[41]. یاد شوی مأخذ.

[42]. یاد شوی مأخذ:" د مجاهدینو د لایحې کتابونه هر ولایت او د دوی د ولکې لاندې سیموته ته رسیدلي دي ، نو د ټولو ولایاتو والیان دي پاملرنه وکړي چې د دوی تر قوماندې لاندې مجاهدین د لایحې ټولو مادو ته ژمن اود دې سره سم چلند کوي .

[43]. د لوی اختر په مناسبت د طالبانو د مشر تابه د مبارکۍ پیغام، د ۲۰۱۱ کال د نومبر ۴ مه http://shahamat-english.com/index.php?option=com_content&view=article&id=12530:message-of-felicitation-of-the-esteemed-amir-ul-momineen-on-the-occasion-of-eid-ul-odha&catid=4:statements&Itemid=4.

[44]. د اسلامي امارت د مشرتابه شورا د پسرلینو عملیاتو د پیل په هکله وینا، د ۲۰۱۱ کال د اپریل۳۰ مه" ؛۷ پاراګراف:" ټول افغانان دي په یاد ولري چې د دښمن د کاروانونو اومرکزونوته نږدې له راټولیدو څخه ځانونه وساتي چې د دښمن پرضد د مجاهدینو بریدونو په پایله کې زیانمن نه شي او څرنګه چې معموله ده نو شاید په دښمن د مجاهدینود بریدونو نه وروسته له دوی څخه غچ وانخستل شي" . *http://www.shahamatenglish.com/index.php?option=com_content&view=article&id=6780:statement-of-the-leadership-council-of-the-islamic-emirate-regarding-the-inception-of-the-spring-ope&catid=4:statements&Itemid=4.*

*"عادی خلک هم باید مجاهدینو سره مرسته وکړی چی د ملکی تلفاتو او صدمی څخه مخنیوی وشی. دوی باید په کلو او نږدی سیمو کی د امریکایانو د ګزمو څخه لیری واوسی او باید هغه احتیاطی تدابیر چی د مجاهدینو له خوا ابلاغ شوی دی مراعات کړی تر څو پر یرغلګرو د بریدونو د تطبیق پر مهال ورته تاوان و نه رسیږی."* [45]




یوناما په ګوته کوی چی د ملکی وګړو ساتنه د جګړی د ټولو خواولوملړنی مسؤولیت دی او هغوی قانونی مکلفیت لری چی لا دمخه ډاډمنه کړی چی په نظامی عملیاتو کی ملکی وګړو ته تاوان نه رسیږی. دا د افغان ملکی خلکو مسؤولیت نه دی چی ځانونه د جګړی له اثراتو څخه وساتی. د اپریل او نومبر د طالبانو دواړه اعلامیی د ملکی خلکو د ساتنی مسؤولیت پر خلکو اچوی چی دا په ذات کی د نړیوالو بشردوستانه قوانینو د اصولو سره په مخالفت کی راځی.

*د د دولت ضد عناصرو او طالبانو کړنی*

د د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکی وګړو د تلفاتو لوړه کچه دا څرګندوی چی یواځی د بیانونو ه او اعلامیو په نتیجه کی د ملکی وګړو خوندی ساتلو کی نه کوم پرمختګ راغلی او نه یی هم تلفات را کم کړی . په ښکاره ډول د ملکی وګړو د خوندی ساتلو هویت د پامه غورځول او د هغی نه مراعات په ۲۰۱۱ کی د تیر کال په پرتله طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو ته منسوب د ډیر شمیر ملکی تلفاتو سبب ګرځیدلی.

د مثال په توګه، د یوناما د بشری حقونو ځانګی ځارنه ښئی چی د طالبانو د نومبر د ۴ می بیان نه وروسته، د ۲۰۱۱ کال د نومبر او ډسمبر میاشتو کی د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی ملکی تلفاتو ۳۳۲ وژنی او ۶۸۴ ټپیان په بر کی لرل چی تیرو میاشتو ته ورته و.

د طالبانو د نومبر د میاشتی د بیان څخه دوه ورځی وروسته، د نومبر په ۶ مه نیټه یو ځان وژونکی برید کوونکی د بغلان ولایت د یوه کلی په یو جومات کی چی خلک د لوی اختر د لمانځه څخه راوتل، ځان وچاوه چې د۲۱ تنه ملکی کسانو د تلفاتو لامل شو ( ۳ مړه او ۱۸ ټپیان).[46] سره له دی چی طالبانو د دی برید مسؤولیت پر غاړه وانه خیسته، د یوناما نظارت دا ښئی چی دا برید د نورو بریدونو سره چی طالبانو تر سره کړی دی یو شان و. د طالبانو رهبری هم دا برید چی پر ملکی وګړو او د عبادت په ساتلی ځای کی تر سره شو، په علنی توګه ونه غنده، که څه هم چی دا برید د

---

[45]. د کوچنی اختر په مناسبت د طالبانو د مشرتابه د مبارکی پیغام، د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر پنځمه.
http://shahamatenglish.com/index.php?option=com_content&view=article&id=10604:message-of-felicitation-of-the-esteemed-amir-ul-momineen-on-the-occasion-of-eid-ul-fitre&catid=4:statements&Itemid=4.

[46]. د یوناما کتنه ؛ دغه پیښه د نومبر په شپږمه رامنځ ته شوه. دوه پولیس افسران ووژل شو.

نومبر اعلامیې پسې ډېر لنډ ترسره شوی و چې د ملکی وګړو د ساتلو په هکله د طالبانو تر ټولو قوی بیان ګڼل کېږي. خو یوناما دا هم په ګوته کوی چې طالبانو په کابل کی د ډسمبر د میاشتی په ۶ مه نیټه یو ځان وژونکی برید چې پر یو جومات شوی وچې په پایله کی ۵۶ مړه او ۱۹۵ ټپیان شوی و ، په علنی توګه وغانده. یو پاکستانی یاغی ډلې چې د طالبانو سره تاریخی اړیکی لری، د دی برید مسؤولیت په غاړه واخیسته او بیا وروسته یی له دی برید څخه ځان لیری کړ.[47]

سربیره پر دی، په ګڼ شمیر واقعاتو کی چې د ملکی تلفاتو باعث ګرځیدلی، د ملکی لفظ د نړیوالو بشردوستانه قوانینو د تعریف پر خلاف[48] طالبانو ملکی وګړی د "قانونی" یا "مشروع" هدف په توګه په ګوته ګړی دی، په داسی حال کی چې د ملکی وګړو په نښه کول او وژل د نړیوالو بشردوستانه قوانینو له مخی جنګی جرایم ګڼل کیږي. د ۲۰۱۱ کال په ترڅ کی طالبانو د ګڼ شمیر ټولنی مشرانو او حکومتی چارواکو د وژلو مسئولیت پر غاړه اخیستی او هغوی یی د حکومت د ګوډاګیانو په نامه یاد کړی. د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو له مخی داسی افراد خوندی ساتل شوی موقف لری او مشروع هدف نه ګڼل کیږی *د ملکی تلفاتو په هکله د طالبانو پلټنی*

د نومبر د ۴ می د بیان څخه را په دی خوا یا د مخه یوناما داسی معلومات نه دی تر لاسه کړی چې ګوندی طالبانو به د هغو ملکی تلفاتو په برخه کی ګمان کیږی طالب جنګیالی یی مسئول وی، کوم ډول تحقیقات کړی وی. د تحقیقاتو د موندنو علنی کول او هغو عاملینو ته چې متخلف ګڼل شوی وی جزا ورکول د علنی ژمنه تقویه کوی. یوناما همدا شان څرګندوی چې سره له دی چې طالبانو د تحقیقاتو او د بی غوریو په صورت کی د سزا ورکولو غږ کړی دی، خو داسی هیڅ ډول میکانیزم یی نه دی معرفی کړی چې ملکی خلک د هغی له لاری په مصئون ډول او بی له ویری شکایت درج کړی.

***پایله***

په ۲۰۱۱ کی د ملکی وګړو د ساتلو په هکله د طالبانو د بیانونو خپرولو سره سره، یوناما د طالبانو له خوا د نړیوالو بشری قوانینو د رعایت په برخه کی او یا په سمه توګه هدف په نښه کولو کی د ښه والی کوم پرمختګ نه دی مستند کړی چې له امله یی ملکی تلفات کم شی. طالبانو په مستقیمه توګه د ملکی وګړو وژلو، په بی تفکیکه توګه د ځان مرګو بریدونو کولو او د فشاری بمونو په څیر بی تفکیکه وسلو استعمال ته دوام ورکړی.

که طالبان د ملکی وګړو ساتلو په برخه کی جدی وی نو بیا یو تر ټولو ستر قدم په دی لاره کی دا دی چې د دوی رهبری خپل جنګیالی او غړی د فشاری ماینونو په څیر د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو استعمال څخه منع کړی چې ذاتآ بی تفکیکه وژونکی وسله ده او هم د ملا عمر د ۱۹۹۸ کال دپرسونل ضد ماینونوپر استعمال د بندیز د حکم مطابق ناقانونه دی.[49]

د جګړی مقررات هغه مهال معنی پیدا کوی چې د میدان په عمل کی عملی کړای شی. د طالبانو بیانونه چې کیدای شی د جګړی په مقرراتو بدل شی، د طالبانو په لایحه کی نه دی منعکس شوی نو ځکه دا څرګنده نه ده چې څنګه او تر کومه حده د طالبانو مشرتابه د هیواد په کچه دا معلومات خپلو جنګیالیو سره شریک کړی او د هغوی عملی کول یی ډاډمن کړی.

یوناما د طالبانو پر رهبری غږ کوی چې د جګړی دا مقررات چې موخه یی لکه څنګه چې د ۲۰۱۱ کال په اعلامیو کی ویل شوی دی، د ملکی وګړو ساتنه ده، خپله لایحه[50] کی مدغم کړی، او ډاډمنه دی کړی چې په لایحه

[47]. [47] طالبانو په اعلامیه کی دغه برید غندلی او ددی مسؤلیت یی نه دی اخستلی" او خپل ټولو مجاهدینو ته یی لارښوونه کړی چې دی ته ډیره پاملرنه وکړی او د خپلو نورو دندو تر څنګ دی د داسی پیښو رامنځ ته کیدو څخه ډډه وکړی." یو پاکستانی ډلی لشکر جنګوی چې طالبانو سره تاریخی اړیکی لری د دسامبر په ۸ نیټه ددی پیښی د مسؤلیت ادعا وکړه.

[48]. د دی راپور د قانونی مسؤلیت برخه وګوری. د نړیوال قانون له مخی ملکی کس هغه څوک دی چې په جنګ کی نیغ په نیغه ونډه نه اخلی، یو خوندی شخص بلل شوی دی. د طالبانو د "ملکی وګړی" تعریف د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو سره مطابقت نه لری.

[49]. دپرسونل ضد ماینونو د استعمال، زیرمه کولو، انتقال او له منځه وړلو په اړه کنوانسیون، د ۱۹۹۷ د سپتمبر میاشتی ۱۸ مه: د ماینونو د منع د تړون پر اساس د پرسونل ضد ماینونو استعمال، تولید، انتقال او د قربانی سره د تماس په پایله کی چاودیدونکو ماینونو ذخیره کول منع دي. دهغو ماینونو په استعمال کی چې د فشار له امله چوی، د نظامي او ملکي اهدافو تر منځ تفکیک نه شی کولایی نو د داسی وسلو او جنګي وسیلو استعمال منع دی . طالبانو په ۱۹۹۸ کی د پرسونل ضد ځمکنی ماینونو په تولید ، تجارت او ذخیره کولو بندیز اعلان کړی و. د ځمکنیو ماینونو په اړوند د طالبانو د اسلامي امارت ۱۹۹۸ کال د اکتوبر د ۶ نیټي اعلامیه وګوری.

[50]. د افغانستان اسلامی امارت لایحه (د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدینو لپاره د ضوابطو لایحه)، ۲۰۱۰ د می د میاشتي ۳۰ نېټه ۶۵ ماده په جنګیالیو غږ کوی چې د عامو ملکی خلکو د ژوند او شتمنی په هکله دی د ډیر احتیاط څخه کار واخلي او په ځانګړی توګه یی د ملکی خلکو د تلفاتو څخه د ډډه کولو په هکله د استشهادی عملیاتو یادونه کړی. د لایحی د ۵۷ مادی مطابق د ځانمرګي برید د ترسره کولو پر مهال باید لاندني څلور ټکي په پام کې وساتل شي. لومړی، د ځانمرګي برید د ترسره کولو نه وړاندې باید د ځانمرګی برید ترسره کوونکی په مناسب ډول وروزل شي. دوهم، ځانمرګي بریدونه باید د لوړې کچې او مهمو هدفونو په وړاندې ترسره شي. د اسلامي امت میرنی غړی باید د ټیټ او بې ارزښته هدفونو په وړاندې و نه کارول شي. دریم، د ځانمرګي بریدونو د ترسره کولو پر مهال باید د ملکی کسانو د تلفاتو د مخنیوی پخاطر له زیات پام څخه کار واخیستل شي. څلورم، د هغو مجاهدینو پرته چاته چې د مشر له خوا خاص پروګرام سپارل شوی وی او د نومړی له خوا ورته اجازه شوی وي، ټول مجاهدین د ځانمرګي بریدونو د ترسره کولو لپاره د ولایتی قوماندانانو اجازې او لارښوونو ته اړ دي.

کی تول احکام چی موخه یی د ملکی وګړو ساتنه وی، د "ملکی" د تعریف په شمول، د نړیوالو بشردوستانه قوانینو سره برابر وی او ډاډمنه دی کړی چی دا لایحه ټولو جنګیالیو ته توزیع شوی وی چی عمل پری وکړی او د سر غړونی په صورت کی دی سزا ورکړی.

**د تعبیه شوو چاودیدونوکو توکو بریدونه**

*یو هیری چی څه وشول؟ زه په هغه ورځ له کوره ناوخته ووتم او د مأمورینو موټر راځخه لاړه. په هغه موټر د بم برید وشو او هغوی یی ووژل. هغوی یوازی زما همکاران نه وو بلکه زما ملګری هم وو. ډیره ګرانه ده چی څوک ښځینه پولیس واوسی او هغوی ټول زما ملګری وو. موږ سره یوځای کار کاوه، یوځای مو ډوډی خوړه او یو بل سره به مو مرسته کوله. اوس هغوی مړه دی او زه یوازی یم. زما لور چی د نهو کالو ده هره ورځ چی زه کار ته ځم، له کوره وتلو څخه د مخه راته ژاړی او وایی چی موری کار ته مه ځه، زه ډوډی نه غواړم.*[51]

د هرات په هوایی ډګر کی د افغان سرحدی پولیسو ښځینه کارکونکی – د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر ۲۹مه

په ۲۰۱۱ کی د دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو استعمال د ملکی وګړو د تلفاتو تر ټولو عمده لامل و. د ۲۰۱۱ کال د جنوری له لومړی نیټی څخه د ډسمبر تر ۳۱ می پوری یوناما د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د چاودنی له امله د ۹۶۷ ملکی وګړو د مړیه او ۱۵۸۶ ټپی شوی درج کړی چی د ۲۰۱۱ کال د ټولو ملکی تلفاتو ۳۲ سلنه جوړوی.

په افغانستان کی اکثره هغه تعبیه شوی ناچاودی توکی چی د ملکی وګړو د مرګ سبب ګرځیدلی، د قربانی شوی فرد په واسطه فعالیدونکی فشاری بمونه دی. یوناما دا موقف نیسی او وایی چی دا ډول تعبیه شوی چاودیدونکی توکی د پرسونل ضد ماینونو په څیر کار کوی، او بی تفکیکه وژونکی وسله ده ځکه چی د ملکی او نظامی اهدافو تر منځ توپیر نه شی کولای، چی په دی توګه استعمال یی د نړیوالو بشردوستانه قوانینو له مخی غیر قانونی دی. د آیساف د معلوماتو مطابق، داسی د قربانی شوی فرد په ذریعه فعالیدونکی بمونه نږدی د هغو ټولو بمونو ۲ پر ۳ برخه جوړوی چی آیساف ورسره سر او کار لری. د قربانی په ذریعه چاودیدونکی نا چاودی تعبیه شوی توکی فشاری بمونه او نور هغه بمونه په بر کی نیسی چی د شخص په واسطه منفجریږی او دا ټول بی تفکیکه وژونکی وسلی دی.[52]

فشاری بمونه داسی عیار شوی وی چی کله کوم څوک پری پښه کیږدی یا کومه عراده پری وروخیژیچی وزن یی ۱۰ د څخه تر ۱۰۰ کیلو ګرامه پوری وی،نو انفجار کوی. په افغانستان کی اکثره فشاری بمونه چی استعمالیږی نږدی ۲۰ کیلو ګرامه چاودیدونکی مواد لری، چی د معیاری ټانک ضد ماین دوه برابره کیږی خو لا هم د چاودیدلو لپاره وزن یی د پرسونل ضد په اندازه عیار شوی وی. دا په دی معنی ده چی هر فشاری بم د یو قوی پرسونل ضد ماین په توګه عمل کوی چی د یو ټانک د تخریب قوت لری، نو هغه ملکی وګړی یا وسایط چی پر دی ورخیژی هیڅ ډول دفاعی ځواک نه لری او د بچ کیدلو امکان یی کم دی.[53]

په ۲۰۱۱ کال کی د دولت ضد عناصرو له له خوا د چاودیدونکو تعبیه شوو توکو استعمال د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۶ سلنه زیات شوی دی. د ملګرو ملتونو د امنیت او مصونیت څانګی درج کړی ده چی په اوسط ډول هره ورځ ۲۳ تعبیه شوی ناچاودی بمونه چاودلی او یا کشف شوی دی چی د ۲۰۱۰ په پرتله دوه برابره کیږی.

په ۲۰۱۱ کال کی تعبیه شوی بمونه په عامه ځایونو کی چی د خلکو ګڼه ګونه په کی وه، لکه بازارونه، ښوونځیو، دوکانونو، د بسونو تم ځایونو، او دولتی دفترونو ته څیرمه، چول شوی دی. چاودیدونکی تعبیه شوی بمونه او په ځانګړی توګه هغه ډول چی فشاری بمونو ته ورته جوړښت سره عیار شوی دی، په عامه لارو کی د سړکونو،

له دی امله لایحه یوازی عملیات تر مشروع هدفونو محدود وی او شاید د ملکی خلکو په نښه شوی وژنو ته جواز ورکړی.

[51]. د هرات په هوایی میدان کی د اکتوبر په پنځمه نیټه د ښځینه ساتونکی سره د یونا مرکه. د ۲۰۱۱ کال د د سپتمبر به ۲۹ نیټه د هرات ولایت، د هرات ښار کاربر پل کی د دولت ضد وسله والو د سرحدی پولیسو موټر چی سیمه ییز هوایی میدان ته په لاره وو په نښه کړ ، چی د دوی یوازی دنده تلاشی کول وو ( یوازی د ملکی پولیسو دنده ترسره کوی) . د برید په پایله کی د دوه ښځو په شمول دری ملکیان ووژل شواو لس تنه نور په شمول د یو ماشوم ، شپږ ښځی او دری سړی سخت ټپیان شول.

[52]. د ۲۰۱۲ کال د جنوری په ۲۳ نیټه د یوناما په آیساف کی د چاودیدونکو توکو پر ضد دفتر سره بریښنالیکی اړیکی.

[53]. د ۲۰۱۱ کال د جون میاشت؛ آیساف د چاودیدونکو توکو پر ضد دفتر سره د یوناما مرکه.

لویو لارو او پیاده رو لارو په شمول ځای پر ځای شوی او هغه ملکی وګړی یی وژلی یا ژوبل کړی چی پیاده یا په بایسکل، بسونو، ټکسی او یا شخصی موټرو کی روان وو. په ۲۰۱۱ کی د داسی پیښو بیلګی مثالونه دا دی:

د ډسمبر په ۷ مه په هلمند ولایت کی د یو عام منی بوس سره ځیرمه یو بمی چاودنه وشوه چی حد اقل ۲۰ ملکی وګړی یی ووژل چی په کی ۵ ماشومان او ۷ ښځی شاملی وی.

د اګست په ۱۶ مه په ارزګان ولایت کی یو موټرسایکل کی ځای پر ځای شوی بم په عام بازار کی وچول شو او ۵ ملکی وګړی یی ووژل او ۱۷ نور یی ټپیان کړل.

د ډسمبر په ۲۳ مه کندهار ولایت کی یو پر یو منی بوس بمی چاودنه وشوه چی د دوو ماشومانو په شمول یی ۷ ملکی وګړی ووژل او ۴ نور یی ټپیان کړل.

د می په ۳۰ مه د هرات ښار د بسونو په یو ګڼ تم ځای کی یوه تعبیه شوی بمی چاودنه وشوه چی ۴ تنه یی ووژل او تر ۳۰ زیات یی ټپیان کړل. د طالبانو یو ویاند د برید مسوولیت پر غاړه واخیسته.

د سپتمبر په ۲۰مه لوګر ولایت په مرکز پل علم کی یو ابتداییه ښوونځی ته ځیرمه یو تعبیه شوی بم وچول شو چی ۲ هلکان یی ووژل او ۲ نور یی ټپیان کړل.

د نومبر په ۱۵ مه د فاریاب ولایت په غورماچ ولسوالی کی یو تعبیه شوی بم چی پر یو خر ځای پر ځای شوی وچول شو او د یوه ۶۰ کلن سپین ږیری په شمول یی ۴ ملکی وګړی ووژل او د ۴ ماشومانو په شمول یی ۱۷ تنه نور ټپیان کړل.

**ځان وژونکی بریدونه**

د ځان وژونکو بریدونو شمیر د ۲۰۱۰ په پرتله په ۲۰۱۱ کی ډیر زیات شوی دی. ۴۳۱ ملکیان په دی بریدونو کی وژل شوی چی د ۲۰۱۰ په پرتله ۸۱ سلنه زیاتوالی ښیی. د بیلګی په توګه په کندز ولایت کی د ملکی وګړو مړینه د ځان مرګو بریدونو له کبله چی په ۲۰۱۰ کی ۸۳ تنه و زیاته شوی او په ۲۰۱۱ کی ۱۴۵ تنو ته رسیدلی.

ځان مرګی بریدونه د ملکی وګړو د ټولو مرګونو ۱۴ سلنی او د دولت ضد عناصرو ته منسوب د ملکی وګړو د مړینی ۱۸ سلنه تشکیلوی. د دی بریدونو بنی له یوه فرد څخه چی ځان مرګی واسکټ یی اغوستی یا یی د چاودیدونکو توکو سره واسطه چلوله تر دی چی څو تنو ځان مرګو برید کوونکو چی یو پیچلی برید یی په ګډه تر سره کړی، توپیر درلودلی.

هغه مشترکه وجه چی دا ټول بیلا بیل ځان مرګی بریدونه سره تړی دا ده چی برید کوونکو د برید په ځای کی د ملکی وګړو شتون ته هیڅ پاملرنه نه ده کړی او برید یی تر سره کړی دی. اکثره هغه ځایونو کی چی برید په کی تر سره شوی داسی ځایونه وو چی د ملکی وګړو ګڼه ګونه په کی زیاته وه او هیڅ نظامی هدف په کی نه و لکه ګڼ مارکیټونه، د قومی مشرانو او مصؤنو دولتی چاراواکو غونډی او د نړیوالو بشردوستانه قوانینو له مخی نور مصؤن ځایونه، روغتونونه او د زیارتونو او جوماتونو په شمول نور مقدس عبادت ځایونه.

د ډسمبر په ۶ مه په کابل کی د ابوالفضل جومات په خوله کی یوه ځان مرګی برید کوونکی چاودنه وکړه چی ۵۶ ملکیان یی ووژل او ۱۹۵ نور یی ټپیان کړل. دا برید د ۲۰۰۸ کال راهیسی تر ټولو وژونکی برید و. په پاکستان کی د یاغیانو یوی ډلی چی د طالبانو سره پخوانی اړیکی لری د دی برید مسوولیت پر غاړه واخیسته خو وروسته یی بیا له دی برید څخه ځان لیری وباله.[54]

په ۲۰۱۱ کی داسی نوری بیلګی په لاندی ډول دی:

[54]. د۲۰۱۱ کال د ډسمبر په اتمه نیټه د لشکر جنګوی اعلامیه.

د فبروی په ۲۱ مه یو ځان مرګی برید کوونکی خپل واسکټ د امام صاحب ولاسوالۍ د مرکزی احصائیې په ریاست کې وچاوه چې ۲۸ تنه یې ووژل او ۳۶ تنه یې ټپیان کړل.

د فبروری په ۱۹ مه د طالبانو یو تن د ننګرهار ولایت په جلال آباد کې پر کابل بانک برید وکړ. برید د سپکې وسلې د ډزو سره پیل شو او کله چې برید کوونکی بانک ته ننوتل نو پر ملکې وګړو یې ډزې پیل کړې او بیا یې خپل واسکټ وچاوه. په دې برید کې ۱۹ ملکیان ووژل شول او ۹۱ تنه ټپیان شول. د طالبانو یو ویاند د دې برید مسوولیت پر غاړه واخیست او ویې ویل چې "په برید کې ۱۰۰ تنه پولیس او د ملی امنیت اجنټان وژل شوی او یا ټپیان شوی چې په کابل بانک کې دی ګوډاګیانو خپل معاشونه اخیستل". [55]

د جولای په ۲۸ مه د ارزګان ولایت په ترینکوټ کې څو ځان وژونکو برید کوونکو د حکومت پر دفترونو برید تر سره کړ او ۱۹ ملکی وګړی یې ووژل چې ۱۰ ماشومان او ۳ ښځې په کې شامل وو او ۳۵ تنه نور هم ټپیان شول. طالبانو د دی برید مسوولیت پر غاړه واخیسته.

د ډسمبر په ۹ مه د کنړ ولایت په نیشګام ولسوالۍ کې یو ځان مرګی برید کوونکی یوه جومات ته ننواته او د ولسوالۍ امنیه قوماندان یې هغه مهال وواژه چې د نورو لمونځ کوونکو سره د جمعې له لمانځه څخه راګرزیدلی و. هغه او دوه نور پولیس ووژل شول او دری نور ملکی وګړی ووژل شول او ۵ ټپیان شول. یو ټپی شوی ملکی تن یوناما ته وویل "ما د خلکو یوه ګڼه ګونه ولیده چې له جومات څخه راوتل ... زما یادیږی چې یوه لویه چاودنه وشوه او بیا ما وکتل چې زما له مخ څخه وینه بهیږی."[56] طالبانو د دی پیښې مسوولیت په غاړه واخیست او ادعا یې وکړه چې ۱۰ پولیس یې ووژل.[57]

**د ملکی وګړو هدفمنی او نا روا وژنی**

ما خپل زوی چې همدا یو زوی می و د پله پر سر ولیده. ما هغه ته وویل چې کور ته راشی خو هغه د یو نا آشنا سړی سره خبری کولی. زه هغوی ته ورغلم او له هغه پردی سړی څخه می وپوښتل چې هغوی دلته څه کوی. هغه وویل چې هغه د چا په لټه کې دی. زه کور ته لاړم او ۱۵ دقیقې وروسته می د چاودنې غږ واوریده. ما کوڅې ته منډه کړه او یو ویجاړ شوی موټر می ولیده. زما د زوی مړی د هغې تر څنګ پروت و. هغه پردی سړی چې له برید څخه مخکې یې ما سره خبری وکړی ځان وژونکی برید کوونکی و. هغه د امنیت ملی د رئیس انتظار کاوه چې ویې وژنی. [58]

د فاریاب ولایت په میمنه کی د یو ۸ کلن وژل شوی هلک پلار چې د اکتوبر په ۱۷ مه یو ځان مرګی برید کی وژل شوی و.

د دولت ضد عناصرو بدلیدونکی تاکتیکونو کې د ملکی وګړو هدفمنی وژنی هم شاملیږی چې موخه یې د ملکی خلکو ویرول او په ځانګړو ځایونو کی د حکومت شتون کمزوری کول دی. د ملکی دولتی چارواکو او کارکوونکو د هدفمنو وژنو لړۍ چې په ۲۰۱۰ کی پیل شوی وه په ۲۰۱۱ کی هم ورته دوام ورکړل شو چې د کمیدلو هیڅ علایم په کی نه لیدل کیږی. یوناما د ۴۹۵ ملکی وګړو هدفمنی وژنی درج کړی چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښئی.

هدفمنی وژنی په جنوبی، مرکزی او شمال ختیزو سیمو کی کمی شوی دی خو د هیواد په نورو سیمو کی خورا په زیاته پیمانه زیاتی شوی: په لویدیځه سیمه کی ۲۵۵ سلنه، په جنوب ختیځه سیمه کی ۱۱۴ سلنه، او په ختیځه سیمه کی ۱۰۷ سلنه ډیر والی ښیي.

[55]. د افغانستان اسلامی امارت " د جلال اباد په عملیاتو کی د ۱۰۰ څخه ډیر پولیس او د ملی امنیت کارکونکی وژل شوی ، د ۲۰۱۱ کال د فبروری ۱۹ نیټه . http://alemara1.com/english/index.php?option=com_content&view=article&id=5186:more-than-100-policemen-and-agents-of-nds-killed-or-wounded-in-jalalabad-operation&catid=1:news&Itemid=2

[56]. د کنړولایت اسد اباد کی د عامی روغتیا روغتون کی د یو قربانی سره د یوناما مرکه ، ۲۰۱۱کال د دسامبر لسمه.


[57]. څو خبری سرچینو خبر ترلاسه کړی او هم یی په ډاګه راپور کړی، چی د طالبانو ویاند زبیح الله مجاهد د تلیفونی لنډ پیغام له لاری د برید د مسؤلیت ادعا کړی.

[58]. د فاریاب ولایت په میمنه کی ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په ۲۸ نیټه د یو قربانی د پلار سره د یوناما مرکه. د اونی په پای کی د ملی امنیت رئیس د ورپیښو ټپونو له امه ومړ. برید کونکی ووژل شو او د دوه ماشومانو په شمول اوه کسان ټپیان شو.

په لویدیځه سیمه کی په ۲۰۱۱ کی د ۲۰۱۰ کال د ۲۴ تنو څخه ۸۱ ته ختلی چی تقریباً دری برابره شوی. زیاتره وژنی په فراه ولایت او لیرو پرتو ولسوالیو کی لکه پرچمن، بکوا او ګلستان کی شوی چی په هغه ځایونو کی طالبان یو څه کنټرول او لاسرسی لری. اکثریت قربانیان د انجیو ګانو کارکوونکی، محلی مشران، د خصوصی امنیتی شرکتونو قراردادیان او یا د پولیسو لیکو ته نوی جذب شوی وګړی وو. دا د وژنو څرګنده زیاتوالی کیدای شی له جنوب څخه جنوب ختیځ او ختیځ خوا ته د د دولت ضد  د حرکتونو خوځښت ته منسوب کړای شی چی په هغو سیمو کی د یاغیتوب ضد عملیاتو د زیاتوالی سره یو ځای و.

دا د وژنو لوړه کچه دا هم څرګندوی چی ناروا وژنی د دولت ضد عناصرو یو عمده تاکتیک و. لکه د نورو سیمو په څیر دا وژنی عمدتاً د دولت ضد عناصرو له خوا د هغه ملکی وګړو هدف ګرځولو څخه منشأ اخلی چی د حکومت یا افغان امنیتی ځواکونو ملاتړ کوی او یا د دی  لپاره جاسوسی کوی.

په دی وژنو کی زیاتره هغه وګړی په نښه کړای شوی چی د افغانستان دولت لپاره کار کوی او یا د هغی ګمان پری کیږی. دی وګړو کی د ټولو کچو ملکی مأمورین، قومی او دینی مشران، د مدنی ټولنی غړی، سیاسی څیری، او هغه افراد چی د افغانستان د سولی او بیا پخلاینی پروګرام سره یو ځای شوی او یا د حکومت ضد عناصرو کی د هغو وګړو خپلوان یا د کورنیو غړی چی د بیا ادغام لپاره راستانه شوی دی، شاملیږی.




هدفمنی وژنی په مختلفو طریقو تر سره شوی چی په کی قتلونه، اعدامونه، د چاودیدونکو تعبیه شوو بمونو استعمال او ځان مرګی بریدونه شاملیږی. تر ټولو مهمه هدفمنه وژنه د سپټمبر په ۲۰مه وشوه چی پخوانی جمهور رئیس برهان الدین ربانی د سولی د عالی شورا رئیس د ځان مرګی برید په واسطه ووژل شو چی په کی ځان مرګی چاودیدونکی توکی په پګړی یا لونګۍ کی پټ کړی وو. نوری مهمی داسی پیښنی لاندی ذکر شوی :

د اګست په ۲۱ مه په هلمند ولایت کی دوه پر موټرسایکل سپرو نارینه و د ګرشک ولسوالۍ د ښارنوالی رئیس هغه وخت وواژه چی له دفتر څخه کور ته روان و.

د اکتوبر په ۱۱ مه د لغمان ولایت په مهترلام ښار کی د ریموټ کنټرولی تعبیه شوو چاودیدونکو توکو په واسطه د اوبو او بریښنا ریاست یو کارکوونکی ووژل شو. طالبانو د دی برید مسوولیت پر غاړه واخیست او ویی ویل چی نوموړی سړی دی لپاره ووژل شو چی د نړیوالو نظامی ځواکونو لپاره یی جاسوسی کوله.

د نومبر په ۱۹ مه د دولت ضد عناصرو د کونړ ولایت مروری ولسوالۍ کی یوه ښځه هغه وخت وویشتله چی د نړیوالو نظامی ځواکونو لپاره د جاسوسۍ تور پری لګول شوی و.

د اکتوبر په ۲۸ مه د فاریاب ولایت قیصار ولسوالۍ کی څلورو وسلوالو کسانو  پر دوه نارینه و او یوی نجلۍ چی پر موټر سایکل سپاره وو او  هغه نجلۍ یی محلی روغتون ته وړله، ډزی وکړی. هغه یو سړی او نجلۍ ووژل شول او دوهم تن ټپی شو. دی سړی یوناما ته وویل: "هغوی اول پر ما ډزی وکړی او زه ولویدم. بیا هغوی نجلۍ په ډزو ووژله. زما د تره ځوی هڅه وکړه چی وتښتی خو  هغوی هغه هم ووژلای شو. وروسته برید کوونکو خپلو

منځو کې خبرې وکړې. چې کله ډاډه شول چې مونږ ټول وژل شوي يو نو له سيمې څخه لاړل. زما د تره د ځوی لور ۵ کلنه وه".[59] دی سړی يوناما ته دا هم ووبل چې د ده په اند دوی دی لپاره په نښه کړای شوی وو چې دوی د طالبانو د يو قوماندان خپلوان وو چې د بيا پخلاينې پروګرام سره يوځای شوی و.[60]

د اګست په ۲۱ مه په هلمند ولايت کې پر موټر سايکل سپرو دوو تنو د څارنوالی رئيس وواژه.

د ډسمبر په ۲۷ مه د هلمند ولايت موسی قلعه ولسوالی کې پر موټر سايکل سپرو دوو سړو پر يوه موټر ډزی وکړې چې يو مهم قومی او د ټولنې مشر په کې سفر کاوه، او هغه قومی مشر او د هغه ځوی او لمسی يی ووژل.

د می په ۸ مه د کندز ولايت امام صاحب ولسوالی په کالباد کلی کې د پنځو تنو يوه ډله چې قوماندان يی هم په کې شامل و، فکر کيږی چې د قوماندان د محافظ په واسطه ووژل شول. دا ډله د ۲۰۱۰ کال په ډسمبر کی بيرته پخلا شوی وه.

د می په ۲مه ويل کيږی چې طالبانو عبدالناصر (خان ځدران) وواژه چې د تخار ولايت اشکمش ولسوالی کی يو پخلا شوی قوماندان و. ويل کيږی چې هغه ته د طالبانو له خوا ډير اخطارونه ورکړل شوی وو خو هغه د ۲۰۱۱ کال په فبروری کی د لسو نورو جنګياليو سره د بيا پخلاينې پروګرام سره يوځای شو.

*په لويديځه سيمه کی ناجايزه وژنی: د موازی عدلی سيستم له خوا اعدامونی*

د ۲۰۱۱ کال په دوهمه نيمايی کی يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا (خصوصاً هغه چې د طالبانو سره تړلی دی) د د عامه محاکمو په څير محکمی څخه وروسته د عامو اعدامونو په ډول وژنی کتلی دی.

په دی سيمو کی خلکو يوناما ته ووبل چې دوی د طالبانو/دولت ضد عناصرو پر عدلی ميکانيزمونو زياته تکيه کوی چی د دوی په اند د افغانی محاکمو د ورو والی، غير مؤثرتوب او پراخه فساد څخه ډک وضعيت په پرتله په چټکی سره پريکړه او اجراآت کوی.

د ۲۰۱۱ کال د اګست مياشتی راهيسی يوناما د داسی موازی عدلی سيستم د سزا اورولو ۵ واقعی مستندی کړی چی د افغانستان او نړيوال قوانين يی نقض کړی دی.

د اګست په ۷ مه طالبانو د فراه ولايت بالابولک ولسوالی کی ۴ تنو څخه وروسته له دی څخه چې په غلا او قتل مجرم ومونډل شول، سرونه پری کړل.

د نومبر په ۲۲مه د غور ولايت په پسابند ولسوالی کی د دولت ضد عناصرو يو سړی اعدام کړ چې د خپل ورور په وژلو تورن و.

د نومبر په ۲۳مه د غور ولايت په پسابند ولسوالی کی طالبانو له يو تن څخه دوه غړی (يوه پښه او يو لاس) پری کړل چې په غلا تورن و.

د اګست په ۳۱ مه په هرات ولايت کی د دولت ضد عناصر تر رهبرئ لاندی شورا يو سړی د قتل په جرم مجرم وګاڼه او په مرګ يی محکوم کړ او بيا يی په علنی توګه اعدام کړ.

سره له دی چې يوناما په لويديځه سيمه کی د داسی وژنو زياتی بيلګی تصديق کړی دی، يوناما دا نتيجه ګيری نه کوی چې په دی سيمه کی دی داسی وژنی د نورو سيمو په پرتله په لوړه کچه تر سره کړی وی. د يوناما ساحوی دفترونو د غور، بادغيس، او فراه ولايتونو کی د څارنی او تصديقولو پراخه ليد تأمين کړی دی. نورو ځايونو کی هم ځينی واقعی مستند کړای شوی دی. د بيلګی په توګه يوناما د کونړ ولايت د پيچ دری د ولسوالی شورا او محلی مشرانو څخه داسی ګڼ شمير او ورته رپورټونه تر لاسه کړی چې د دولت ضد عناصرو پر خلکو زور اچولی چې د دوی محاکمو ته مراجعه وکړی.

---

59. د فارياب ولايت په قيصار روغتون کی د يو ټيپی کس سره د يوناما مرکه ، ۲۰۱۱ کال د نومبر لومړی نيټه.
60. ياد شوی مأخذ.


د دولت ضد عناصرو دا وړتیا چی دا ډول جرایم د بشپړ معافیت سره سرته ورسوی، په ځینو لیری پرتو سیمو کی د دی ډلو واک او قدرت ځرګندوی او د حکومت د وړتیا نشتوالی بیانوی چی نه شی کولای چی د خلکو ساتنه وکړی، د قانون حاکمیت او د دی سیمی ملکی خلکو لپاره حکومت داری تأمین کړی.

**دولت پلوه ځواکونه او د ملکی وګړو ساتنه**

په ۲۰۱۱ کال کی د ۴۱۰ ملکی وګړو مړینی دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی چی د ۲۰۱۰ په پرتله ۴ سلنه کموالی څرګندوی. په ۲۰۱۱ کال کی د ټولو ملکی تلفاتو ۱۴ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوبیږی چی د ۲۰۱۰ په نسبت ۱ سلنه راټیټ شوی. ۳۳۵ ملکی وګړی په ۲۰۱۱ کال کی د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتونو په جریان کی ټپیان شوی دی چی د ۲۰۱۰ په پرتله ۱۶ سلنه کموالی ښئی.

د ۱۸۷ مړینه چی د دولت پلوه ځواکونو د ټولو ملکی تلفاتو ۴۴ سلنه تشکیلوی، د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال په څیر په ۲۰۱۱ کال کی هم هوایی بریدونه د دولت پلوه ځواکونو له خوا د زیاتره ملکی تلفاتو لامل ؤ. په ختیځه سیمه کی د کونړ ولایت تقریباً د هوایی بریدونو له امله د ملکی تلفاتو ۱ پر دریمه برخه جوړوی چی دولت پلوه ځواکونو له خوا اړول شوی چی دا په ۲۰۱۱ کال کی د ملکی تلفاتو جغرافیایی تحول څرګندوی.

په ۲۰۱۱ کال کی د ځواک د تدریجی زیاتولو حوادثو له امله چی موخه یی د ځواکونو ساتنه ده، ۳۸ ملکی وګړی وژل شوی او د تلاشی عملیاتونو کی ۶۳ تنه وژل شوی دی. مخامخ جګړه او نور تاکتیکونه هم د یو څه ملکی تلفاتو لامل ګرځیدلی.




**د آیساف بیانونه او تاکتیکی هدایات**


یوناما د آیساف له خوا د ملکی وګړو د ساتنی په برخه کی پاملرنی هرکلی کوی چی د آیساف د ملکی تلفاتو د کمولو ډلی ته د پراخه امکاناتو برابرولو او د ځواکونو بیا تربیه کولو او د خپلو لارښونو او تاکتیکی هدایاتو د بیا کتنی له لاری یی عملی کړی ده.

د ۲۰۱۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کی د آیساف د قوماندانی له خوا د ملکی وګړو د تلفاتو په هکله د دوه رسمی بیانو خپرولو څخه وروسته، د آیساف نوی قوماندان جان آلن دوه تاکتیکی هدایات د ملکی وګړو د تلفاتو (د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۳۰مه) او د شپی له خوا عملیات ترسره کولو په هکله د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په لومړی نیټه صادر کړل.[61] آیساف یوناما ته وویل چی دوی دوه اضافی تاکتیکی هدایات نور هم د کاروانونو د ساتنی او روغتیایی تسهیلاتو د ننوتلو په برخه کی صادر کړی دی.

[61]. د ۲۰۱۱ کال د می د میاشتی په ۱۲ نیټه د آیساف عمومی قوماندان جنرال پتریوس ټول ځواکونه استونکی هیوادونو ته لیک استولی و،چی د ځواکونو د ګمارو تر مخه د روزنی د ورکړی په هکله خپلی سپارښتنی وړاندی کړی چی د ملکی خلکو تلفات راکم شی. د مي په ۱۵ هغه د

د آیساف قوماندانۍ د نورو هدایاتو په څیر د دوی د ۲۰۱۱ کال د نومبر د ۳۰ می د ملکی تلفاتو په هکله هدایت تأکید کوی چی د "آیساف د قوماندانۍ موخه دا ده چی په ټول افغانستان کی د آیساف له خوا ملکی تلفات کم کړی او په ټوله سیمه کی د ملکی تلفاتو کچه د یاغیانو د عملیاتونو سره مخ کیدلو د مخنیوی له لاری را ټیټه کړی".

یوناما تأکید کوی چی په ۲۰۱۱ کی په هوایی بریدونو کی د ګڼ شمیر ملکی وګړو د وژل کیدلو په نظر کی نیولو سره باید آیساف نور داسی تدابیر پلی کړی چی د هوایی بریدونو له امله ملکی تلفات کم کړی، او د واقع کیدلو په صورت کی یی بیړنی تحقیقات او مناسب جبران ډاډمن کړی او د تحقیقاتو موندنی او د هغی په رڼا کی خپل اقدامات په علنی توګه څرګند کړی.




**هوایی بریدونه**

زه یو ښوونکی یم او زه له کلی څخه دی لپاره د ولسوالۍ مرکز ته راغلم چی خپل معاش واخلم. کله چی بیرته راوګرځیدم، هلته د طالبانو او افغان ملی اردو او آیساف ځواکونو تر منځ جګړه وشوه. یوه جیټ الوتکه راغله او د طالبانو پر خوا یی بمباری وکړه خو هغی دوه کورونه هم وویشتل. زه ډیر سخت ټپی شوی وم او هغه مهال چی زه د یو کور سره نژدی وم، ومی لیدل چی نور ۱۳ تنه هم په هغه کور کی ټپیان شوی دی .


-- د کنړ ولایت د غازی آباد ولسوالی کی د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر پر ۲۰مه د یو هوایی برید یو ټپی شوی قربانی.

د دولت پلوه ځواکونو په تکتیکونو کی هوایی بریدونه په ۲۰۱۱ کال کی د زیات شمیر ملکی افغانانو د وژنی لامل ګرځیدلی. په مجموع کی، ۱۸۷ ملکی وګړی د هوایی بریدونو له کبله وژل شوی چی د ۲۰۱۰ په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی ښئی (۱۷۱ ملکی وګړی په ۲۰۱۰ کی د هوایی بریدونو له کبله ووژل شول). دا د ملکی وګړو تلفاتو کی زیاتوالی په ۲۰۱۰ کال کی چی کوم کموالی راغلی و بیرته نفی کوی او په دی توګه په ۲۰۱۱ کی د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکی وګړو د تلفاتو ۴۴ سلنه تشکیلوی. سره له دی چی د آیساف او امریکایی ځواکونو له خوا د طیارو او هیلیکوپټرو په مرسته هوایی بریدونو شمیر کی کموالی راغلی د ملکی وګړو تلفات زیات شوی (د چورلکو بریدونه ۲۰۱۰ کال د ۱۸۱۶ څخه په ۲۰۱۱ کی ۱۶۷۵ ته ختلی).[62]

---

آیساف ټولو غړو هیوادونو ته دآیساف د قوماندان د ملکی تلفاتو په هکله د لارښونی تر عنوان لاندی یو لیک واستاوه. د ملکی کسانو د تلفاتو په هکله د یوناما د ۲۰۱۱ کال شپږمیاشتنی راپور وګوری.

[62]. د نږدی هوایی کومک چی د الوتکو او چورلکو د وسلو نه په افغانستان کی ور څخه کار اخستل شوی چی د۲۰۱۱ کال د دی ماموریتونو شمیره ۱،۶۷۵ ته رسیږی اوپر دی مهال ۴،۸۹۶ وسلی فیر شوی، چی د ۲۰۱۰ کال د ۱،۸۱۶ نږدی هوایی ملاتړ ماموریتونو څخه کم دی او په دغه مهال ۵،۱۰۱ وسلی فیرشوی وی . د متحده ایالاتو د هوایی ځواکونو د مرکزی چارو خبرپانه، د ګډو ځواکونو کی د هوایی ځواکونو قوماندان ۲۰۰۸-۲۰۱۱ احصایه ، ۲۰۱۲ کال جنوری ۲ نیټه.




د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال پر خلاف چې په کې زیاتره د هوايي بریدونو تلفات د هیواد په جنوبي سیمه کې واقع شوي وو، د ۲۰۱۱ کال + خصوصاً په دوهمه نیمايي کې د هوايي بریدونو له امله ملکي تلفات د هیواد په ختیځه سیمه کې زیات شوي دي چې په کې ۳۶ ملکي وګړي وژل شوي دي. په جنوب ختیځو سیمو کې له دې تاکتیک څخه مرګونه د ۲۰۱۱ کال په وروستي نیمايي کې د ۲۰۱۰ کال د همدې دورې په پرتله دوه برابره شوي او ۲۴ ته رسیدلي.

په جنوبي سیمه کې د هوايي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو کچه د ۲۰۱۱ کال په دوهمه نیمايي کې راټیټه شوې او ۲۰ مړینې او ۱۴ ټپیان یې درلودل، چې د ۲۰۱۰ کال د دوهم نیمايي په پرتله چې ۳۸ مړینې او ۲۷ ټپیان یې درلودل، راټیټه شوې. په ۲۰۱۰ کال کې هوايي بریدونو کې د ۳۸ مړینو له جملې څخه ۸۶ سلنه یې په هلمند ولایت کې واقع شوي وي، همدا شان په ۲۰۱۱ کې هم د هوايي بریدونو له امله په جنوبي سیمه کې د ۱۱ مړینو له جملې څخه ۸۱ سلنه یې هم په هلمند ولایت کې شوي دي.

دا د جنوب څخه ختیځ او جنوب ختیځ خوا ته بدلون کیدای شي په جنوبي سیمه کې د امنیت ښه کیدلو ته منسوب کړای شي چې په جنوب کې د نظامي ځواک د زیاتولو له کبله رامنځ ته شوي او د سرحدي امنیت ښه ټینګیدل د دې باعث ګرځیدلي چې د دولت ضد عناصر نورو سیمو خوا ته وتمبول شي. د کونړ ولایت په ځانګړې توګه تیر کال کې له دری مرکزونو څخه د آیساف د ځواکونو له وستلو څخه د دولت ضد عناصرو لپاره افغانستان ته د سرحد څخه اوښتلو عمده ځای ګرځیدلی.

په نتیجه کې د ۲۰۱۱ کال په جریان کې د هوايي بریدونو له امله ملکي تلفات په کونړ او نورستان ولایتونو کې زیات شوي دي. د دولت ضد عناصرو په دې ځای کې خپل تمرکز زیات کړی او په نتیجه کې یې د آیساف/د آزادۍ په موخه عملیات له خوا د عملیات  او ښتو زیاتوالي سبب ګرځیدلی او لکه څنګه چې د هوايي بریدونو څخه استفاده شوې، نو د ملکي وګړو تلفات رامنځ ته شوي دي.

یوناما اندیښنه لري چې د سرحدونو د کنټرول په موخه پر  هوايي بریدونو زیاته اتکا کول چې د دولت ضد عناصرو سره ښتنه په کې نه واقع کیږي، ممکن د لا زیاتو ملکي تلفاتو باعث وګرځي. بیلګې یې په لاندې ډول دي:

د ۲۰۱۱ کال د جولای په ۵ مه د خوست ولایت شمل ولسوالۍ کې یو  هوايي برید د ۳ ښځو او ۸ ماشومانو د مړینې سبب شو چې یو ماشوم په کې د ۵ ورځو په عمر و.

د ۲۰۱۱ کال د اګست په ۱۵ مه د کونړ ولایت په نرنګ ولسوالۍ کې د ملي اردو پر یوه پوسته د دولت ضد عناصرو د سپکو او درنو وسلو سره د یو برید په ځواب کې آیساف له نږدې څخه د هوايي ځواک ملاتړ څخه کار واخیست. ځینو انداختونو خپل هدف خطا کړ او په نتیجه کې دوه ملکي استوګنځایونه یې ووهل چې د ۹ نجونو او ۲ هلکانو په شمول یې ۱۲ ملکي وګړي  یې ټپیان کړل.

د اگست په ۲۵ مه د لوګر ولایت په برکی برک ولسوالۍ کې ملي اردو د یو عملیات په جریان کې چې د شورا د یو غړي پر کور چې یو د طالبانو قوماندان او څلورو نور وسله وال طالبان یې میلمانه وو، له آیساف څخه له نږدې څخه د هوایي څواک ملاتړ غوښتنه وکړه. دا برید د یوې ښځې او د هغې د څلورو ماشومانو د وژلو سبب شو.

**د شپې له خوا د تلاشۍ عملیاتونه**

د شپې ۱۲ بجې وې او زمونږ د کښت د اوبو لګولو وار و. ما ځان تیار کړ چې ووځم او خپل تره او د هغه زامنو سره مرسته وکړم. ما له ځانه سره یو لاسي څراغ او بیل واخیستل. د دروازې د خلاصولو سره سم پر ما برید وشو. زه پوه نه شوم چې چا او ولې یې پر ما ډزې وکړې. ما د هیچا څېره ونه لیده. زه د ورانه په شا کې ویشتل شوی وم. ګولۍ زما هډوکی مات کړ او زه پر ځمکه ولویدم. ما د ډزو آواز واریده.

-- د خوست ولایت په متون ولسوالۍ کې پر یوې ملکي قلا عملیاتو کې د جولای په ۱۳ مه یو ویشتل شوی ۲۵ کلن بزګر[63]

د لیتون او نیولو یا "د شپې له خوا تلاشي" عملیاتو له کبله د ملکي وګړو تلفات چې د یوناما له خوا مستند کړای شوي دي د ۲۰۱۰ او ۲۰۰۹ کال په څېر مخ په کمیدو دوام کړی دی.[64] په ۲۰۱۱ کال کې یوناما د دا ډول عملیاتو له کبله د ۶۳ ملکي وګړو وژنې مستند کړې دي چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۲۲ سلنه کموالی ښیي.

سره له دې چې د پخوا په پرتله یې ملکي تلفات کم شوي، د شپې له خوا عملیاتونه لا هم د افغانانو په منځ کې د اختلاف او قهر زیږولو سبب ګرځیدلی. سره له دې چې د آیساف قوماندانی په دوامداره توګه دا ویلي چې د شپې له خوا عملیاتو داسې تاکتیکي لاس ته راوړنې لري چې د نورو لارو څخه نه شي حاصل کیدلای، دولت لا د پخوا څخه د نړیوالو ځواکونو د شپې عملیاتو په هکله اندیښنې ښکاره کړې دي چې په ځانګړې توګه د کور محرمیت نقض کوي، د افغانستان خپلواکۍ تر سوال لاندې راولي او د فرهنګي ارزښتونو سپکاوی کوي.

یوناما منې چې زیاتره د شپې له خوا عملیات د ملکي تلفاتو سبب نه ګرځي. خو بیا هم د د شپې له خوا د ځینې عملیاتو په برخه کې لا اندیښنې پاتې دي چې د ضعیفه استخباراتو پر بنسټ، او د ځواکونو له خوا د تاکتیکي حوصلې نه لرلو او تاکتیکي هدایاتو او طرزالعملونو نه عملي کولو سره اجرا کیږي چې بیا د ملکي وګړو د تلفاتو سبب ګرځي.

آیساف په دوامداره توګه داسې ګامونه اخیستي چې پر ملکي وګړو د شپې له خوا عملیاتو ناوړه اغیزې کم کړي. د آیساف د شپې له خوا عملیاتو په برخه کې د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر د لومړۍ نیټې تاکتیکي هدایاتو کې داسې عملیاتي طرزالعمل بیان شوي چې د آیساف د قوماندان دا اراده چې باید ډاډمنه کړي چې د شپې له خوا عملیات د آیساف او افغان امنیتي ځواکونو له خوا په ګډه او "په داسې توګه ترسره شي چې د ملکي افغانانو لپاره حد اقل اختلال رامنځ ته کړي، د دوی ملکیتونه وساتل شي، د ملکي تلفاتو مخنیوی په کې وشي او د محلي مشرتابه او نورو خلکو سره له عملیاتو څخه وړاندې، د عملیاتو په جریان کې او وروسته له عملیاتو څخه د امکان تر حده زیات معلومات شریک کړای شي". دا هدایات افغان امنیتي ځواکونه دې ته هڅوي چې د عملیاتو مشري وکړي، او باید والي او د هغه با صلاحیته نماینده مخکې د عملیاتو له پیل کیدو څخه خبر کړای شي، د هر نیول شوي فرد په هکله که ممکنه وي په ۲۴ ساعتونو کې ریپورټ ورکړي او کور ته ننوتل دې د دروازې د آرامه ټکولو سره د افغان امنیتي ځواکونو له خوا او د افغانانو په ژبه پیل کړای شي.[65]

یوناما له ټول هیواد څخه او په ځانګړې توګه له جنوبي سیمې څخه، له خلکو څخه ریپورټونه تر لاسه کړي چې د شپې له خوا عملیاتو کې د شریکو عملیاتو د طرزالعملونه معیار نه دي مراعات شوي.[66]

---

[63]. د ۲۰۱۱ کال د اګست په ۲۴ نیټه په ګردیز کې د یو قرباني سره د یوناما مرکه.

[64]. [64]د شپې له خوا عملیات او د دې په پایله کې دملکي کسانو د تلفاتوپه هکله دقیقه احصایه درلودل یو ستونزمن کاردی ، د دې کبله چې دا مالومات په عمومي ډول محرم وي.د شپې پر مهال عملیات د افغان او نړیوال ځواکونو ، ځانګړي ځواکونو ، ځانګړي عملیاتي ځواکونو اونور دولتي ادارو له خوا په ګډه یا خپلواکه توګه ترسره کیږي او د دې په پایله کې د ملکي وګړو د تلفاتو اړوند مالومات په عامه توګه نه خپریږي.د کاري چاپیریال او مالوماتو ته محدود لاس رسي له امله کیدای شي یوناما د شپې له خوا عملیاتو کې د ملکي کسانو تلفات کم راپور کړي وي.

[65]. جنرال جان .ار. الن د آیساف او متحده ایالاتو ځواکونو د قوماندان د شپې پر مهال عملیاتو تکتیکي لارښود ، ۲۰۱۱کال د دسمبر لومړۍ نیټه.

[66]. د ۲۰۱۱ کال د جولایي څخه تر دسمبر پورې د یوناما مرکې.

یوناما دا هم موندلی ده چې د شپې له خوا عملیاتو څخه وروسته د آیساف او افغان امنیتي ځواکونو له خوا د خلکو سره اړیکې او تماسونه کیدای شي لا ښه کړای شي. د شپې د تلاشۍ عملیاتونو د موخې او پایلو په هکله د خلکو بې خبره پاتې کیدل د بې اعتمادۍ د زیاتوالي، ویرې او د دولت پلوه ځواکونو پر وړاندې د مخالفت سبب ګرځیدلی. یوناما سپارښتنه کوي چې باید افغاني چارواکي یا آیساف باید بې له ځنډه خلکو ته د شپې د عملیاتونو څخه وروسته ټول معلومات ورکړي او هغه شواهد چې په عملیاتو کې تر لاسه شوي او وګړي نیول شوي، باید هغوی ته ښکاره کړای شي.

د شپې له خوا هغو عملیاتو بیلګې چې د ملکي وګړو د تلفاتو سبب ګرځیدلي لاندې واقعې په بر کې نیسي:

د جولای په ۱۳ مه د خوست ولایت په متون ولسوالۍ کې د ۲ ماشومانو په شمول ۶ تنه ملکي وګړي دی شپې پر مهال یو عملیات کې ووژل شول او ۲ نور ټپیان شول.

د ۲۰۱۱ کال د جولای په ۱۴ مه د هلمند ولایت د ناد علي ولسوالۍ په سید آباد سیمه کې د شپې له خوا عملیاتو کې ۴ ملکي وګړي، د یو ماشوم په شمول ووژل شول.

د جولای په ۱۹ د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ په شال کلي کې د آیساف ځانګړو ځواکونو او ملي اردو پر یو ملکي کور عملیات ترسره کړل چې په پایله کې د ۲ زده کوونکو د مرګ سبب شو او یو بل ټپي شو.

**د ملکي وګړو مرګ ژوبلې په اړه د آیساف او افغان امنیتي ځواکونو تحقیقات**

آیساف په دوامداره توګه د خپل ملکي وګړو د تلفاتو د کمولو ټیم په مرسته چې آیساف ته منسوب د ملکي وګړو تلفاتو په هکله پلټنې کوي، دا هڅه کړې چې هغه ملکي تلفات کم کړي چې د ائتلافي ځواکونو د عملیاتونو له کبله منځ ته راځي. په یاد شوي ټیم کې د ملکي تلفاتو د څارنې یوه ځانګه ۲۴ ساعته فعالیت او په اونۍ کې ۷ ورځې فعالیت کوي او د پېښو څارنه او مانیټورنګ کوي او یو ډیټابیس کې یې اچوي، او آیساف سره د ملکي تلفاتو د پلټنو په برخه کې مرسته کوي، او د آیساف قوماندانۍ لپاره دا زمینه برابروي چې له هغې څخه درس واخلي او زده کړه وکړي. د آیساف قوماندان جان آلن ته هره ورځ د ملکي تلفاتو د واقعاتو په برخه کې معلومات ورکول کیږي.

په ۲۰۰۹ کال کې آیساف یوه د تحقیقاتو ډله جوړه کړې چې د پیښو د ارزونې مشترک ټیم *(JIAT)* په نامه یادیږي او خپل استازي هغو سیمو ته لیږي چې د ملکي تلفاتو پیښې په کې واقع شي. دا د آیساف او افغان امنیتي ځواکونو یوه شریکه ډله ده چې د چټک غبرګون وړتیا لري. د افغان ملي امنیتي ځواک برخه کې یې د دفاع وزارت او داخله وزارت نماینده ګان موجود دي.

د ملکي تلفاتو په اړه ادعا ګانې چې آیساف ته رسیږي، لومړی په محل کې د دوی قوماندان له خوا کنټل کیږي. وروسته له ابتدایي ارزونې څخه ممکن د آیساف مشترکه قوماندانۍ د پیښو د ارزونې مشترک ټیم *(JIAT)* ته وظیفه ورکړي چې له ساحې څخه کتنه وکړي او د خپلو موندنو رپورټ ورکړي. دا په عمومي توګه هغه مهال کیږي چې په سیمه کې قوماندان خپل ابتدایي ارزونه کړې وي او محلي مشرانو سره یې خبرې کړې وي.

د پیښو د ارزونې مشترک ټیم *(JIAT)* مشر چې حد اقل باید یو ستوری لرونکی جنرال وي، اجرائیوي افسر، د عامه چارو افسر (یا د میډیا د عملیاتو افسر)، حقوقي افسر، روغتیایي مشاور، او د نورو مسائلو ماهرینو څخه جوړ شوی وي لکه د اپاچي هیلیکوپتر پیلوټ، د جیټ پیلوټ او داسې نور. آیساف وایي چې دا ټیم په جامع توګه پلټنې کوي چې په کې مرکې، تحلیل او ویډیویي شواهد چې د عملیاتو او وسلې له استعمال څخه دمخه د طیارې یا هیلیکوپتر څخه ویډیو اخیستل کیږي او په کې د یاغیانو د وضعیت په هکله شواهد لري، شاملیږي.67

سره له دې چې د پیښو د ارزونې مشترک ټیم (JIAT) جوړیدل د ملکي وګړو د تلفاتو د واقعاتو پلټنو ښه کولو لپاره یو قوي اقدام دی، د پیښو د ارزونې مشترک ټیم (JIAT) یواځې د واقعیتونو د پیدا کولو یو میکانیزم دی او په مشخصو واقعاتو کې چې لوړ ملکي تلفات ولري او یا سیاسي ابعاد ولري، استول کیږي. یوناما په ګوته کوي چې د پیښو د ارزونې مشترک ټیم (JIAT) کیدای شي واقعي لید و نه لري او نا سم قضاوت او معلومات وړاندې

[67]. په آیساف د ګډې قوماندې مرکز؛ ډګرمن مارک وینم وینا " په افغانستان کې د ملکي کسانو د تلفاتو ارزول " د ۲۰۱۱ کال د جون ۲۷ نیټه.

کړي، ځکه چې ټولي پلټني د آیساف او ملي امنیتي ځواکونو له خوا بې له دې چې کوم دول نظارت یې وشي او یا نا پییلي وګړي یا ماهرین په کې شریک اوسي. دا ستونزه د پیښو د ارزوني مشترک ټیم (JIAT) د موندنو او تعقیب په هکله د شفافیت د نشتوالي په واسطه نوره هم سختیږي.

یوناما څرګندوي چې نه د پیښو د ارزوني مشترک ټیم (JIAT) او نه هم د آیساف کوم بل د تحقیقاتو ټیم د خپلو تحقیقاتو او موندنو علني ریپورټ وراندې کوي. د تحقیقاتو د پایلو بیرني او علني خپرول د شفافیت او احتساب سره مرسته کوي او د زیانمنو شوو ملکي افغانانو او ټولنو سره اړیکو ښه کولو کې ګټه رسوي. یوناما سپارښتنه کوي چې آیساف او افغان امنیتي ځواکونه دې یوه دایمي مسلکي ډله جوړه کړي چې په بشپړ ډول او په دوامداره توګه د ملکي وګړو د تلفاتو پر پیښو او تحقیقاتو او تعقیبولو تمرکز ولري.

**جبران او معاوضه**

د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۱۱ مه ناټو د جګړې اړوند ملکي وګړو تلفاتو پیښو ته رسیده ګی لپاره اختیاري د پالیسي لارښودونه جوړ کړل چې تمرکز یې پر دې ټکو دی: د جګړې اړوند پیښو کې په بیړني توګه د ملکي تلفاتو او یا تاوان د واقع کیدلو منل او د ملکي تلفاتو یا ملکي شتمنیو ته د زیان په پیښو کې د تحقیقاتو غوښتنه او د آیساف د ملکي تلفاتو د کمولو ټیم ته معلومات ورکول. دا لارښود وایي چې د کلي د مشرانو او قبیلو جوړښتونو او د ولسوالۍ په کچه حکومتي چاروکو سره په هماهنګۍ کې د مرستي ورانديز، او دا چې هغه سیستم چې د مالي مرستي اندازه تعیینوي او رسوي یې باید د امکان تر حده ساده، عاجل او شفاف وي او متأثره شوي ملکي وګړي باید په هر ممکن اړخ کې دخیل و اوسیږي.[68]

که څه هم د معاوضې یا جبران لپاره یو سیستم شته دی، خو ډیری افغان ملکي وګړي لا هم په دې هکله معلومات نه لري چې که چیري د افغان امنیتي ځواکونو یا آیساف له خوا ورته د ملکي تلفاتو په صورت کې د پیښي پر مهال ځانګړي فورمي نه وي توزیع شوي د خسارې د جبران غوښتنه وکړي. د خسارې د جبران د یو واحد میکانیزم د نشتوالي او د دې په هکله چې د جبران پروسې څنګه کار کوي د خلکو محدود معلومات د دې سبب کیږي چې خلک ورڅخه ستړي او ناراضه شي او د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو یا تاوان په پیښو کې د خلکو قهر او غضب راوپاریږي.

**افغان ملي امنیتي ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه**

*زما ورور ما ته وویل چې د ملي اردو سرتیرو د هغه پر موټر ډزې وکړې او ممکن ۲۰۰ ډزه به یې پرې کړې وي. مخکې له دې چې زما ورور وکړای شي چې خپل موټر د یو دیوال شا ته پناه کړي یو ګولي پر موټر ولګیده او زما لور یې ووژله. هغه صرف ۵ کلنه وه. په موټر کې یوازې زما ورور او ۶ ماشومان ناست وو او تر ټولو مشر ماشوم له ۷ کالو څخه کم و. زه نه پوهیږم چې د ملي اردو سرتیرو ولې په موټر ډزې کولې په داسي حال کې چې هغوی څو دقیقې وړاندې موټر تلاشي کړی و. د دې کار لپاره هیڅ دلیل موجود نه و. مونږ بیخي خوابدي او نا امیده یو. که دې خلکو ته سزا ورنه کړای شي نو هر څه به پیښ شي[69].*

-- د یوې ۵ کلنې نجلۍ پلار چې د افغان ملي اردو سرتیرو له خوا یوې پوستي سره وویشتل شوه، د پکتیا ولایت د ګردیز ښار، د ۲۰۱۱ کال د نومبر ۱۳مه.

د ځینو نظامي عملیاتو د شریکې بڼې په او د ځواکونو تر منځ د توپیر کولو د مشکلاتو په وجه، په ځانګړې توګه په لیرې پرتو سیمو کې، د دولت پلوه ځواکونو له خوا د یوناما د ملکي تلفاتو ارقام دواړه نړیوال او ملي امنیتي ځواکونه په بر کې نیسي.

---

[68]. د جګړې اړوند د ملکي تلفاتو یا د ملکي شتمنۍ ته خسارې او د تلافي د پیسود په اړه د آیساف غیر الزامي لارښود.
[69]. پکتیا ګردیز کې د پنځه کلنې وژل شوې انجلۍ د پلار سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۱ کال د نوومبر ۱۳ نیټه.

له نړیوالی ځواکونو څخه ملی امنیتی ځواکونو ته د امنیتی مسؤولیت د انتقال,[70] سره د یوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکی تلفاتو د څارلو، په ځانګړی توګه د ۲۰۱۱ کال په دوهم نیمایی کی، د ملی امنیتی ځواکونو پر کړنو ځانګړی تمرکز درلودلی.

په ملی امنیتی ځواکونو کی پر ملی اردو سربیره ملی پولیس، ملی امنیت، ملی سرحدی پولیس، د عامه نظم پولیس، او محلی پولیس هر هغه وخت چی په جګړه کی برخه اخلی، شاملیږی.د ۲۰۱۱ کال د جولای او ډسمبر تر منځ موده کی، یوناما د ۴۱ ملکی وګړو مړینه او ۱۳۳ ټپی کیدنی د افغان ملی امنیتی ځواکونو په عملیاتونو کی مستند کړی دی. دا ارقام د ۲۰۱۰ کال د همدی دوری په پرتله (یوناما د ۲۰۱۰ کال په دوهم نیمایی کی د ۱۴ ملکی وګړو مړینی او د ۴۹ وګړی ژوبلی درج کړی) د ملکی وګړو مړینی کچه کی ۱۹۲ سلنه او د ټپیانو کچه کی ۵۵ سلنه زیاتوالی څرګندوی.

په ۲۰۱۱ کی یوناما په هغه سیمو کی چی انتقال په کی عملی شوی دی، د افغان امنیتی ځواکونو له خوا د ملکی وګړو تلفاتو کی ډیر لږ توپیر مستند کړی دی.

*د افغان امنیتی ځواکونو له خوا د ملکی وګړو د تلفاتو په برخه کی حساب ورکونه*

په ۲۰۱۱ کی د ملی امنیتی ځواکونو له خوا اړول شوی زیاتره ملکی تلفات د جبهه یی جګړو پر مهال وروسته له دی چی د ملی امنیتی ځواکونو پوستی یا موټر د دولت ضد عناصرو له خوا تر برید لاندی راغلی، او یا د ځواک د تدریجی زیاتولو پیښو له امله منځ ته راغلی دی. یوناما د داسی کڼ شمیر پیښو څارنه کړی چی په ښکاره د بشری حقونو څخه سرغړونی سره برابری دی.

د بیلګی په توګه، د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۷ مه د پکتیا ولایت ګردیز ښار په ساحه کی ملی اردو یو موټر تلاشی کړی چی یو ډاکټر چلاوه او ۶ ماشومان چی له ۷ کلونو څخه کم عمر یی وه ورسره وو. کله چی موټر پوستی څخه لاړه، ملی اردو وربادی ډزی پیل کړی چی یوه پنځه کلنه نجلی په شاتنی سیټ کی ووژل شوه. ډرایور وویل چی سم له واره وروسته له پیښی څخه د خولی جګړه وشوه او د ملی اردو قوماندان امر وکړ چی ډرایور وولی (خو چا ډرایور ونه ویشته). ۳ سربازان او یو قوماندان یی ونیول شول. د پکتیا ولایت ملی اردو د څارنوالی د دفتر د توضیحاتو له مخی، تحقیقات بشپړ شوی او محکمی ته لیږلو ته چمتو دی.[71] خو هغه وضعیت چی ولی ډزی پیل شوی، د قربانی کورنی (او یوناما) ته نا معلومه پاتی دی، او دا واضحه نه ده چی ګوندی دا پیښه به د دی سبب شوی وی چی طرزالعملونو ته بیا کتنه وشی، یا داخلی تحقیقات وشی او یا هم د داسی پیښو مخنیوی په موخه دی ټرینینګ ورکړل شی.

لاندی پیښی د ملی امنیتی ځواکونو له خوا پیښنو استازیتوب کوی:

د جولای په ۵ مه د نورستان ولایت کامدیش ولسوالی کی د دولت ضد عناصرو د سرحدی پولیسو پر یوی پوستی د سپکو او درنو وسلو برید وکړ او د ډزو د تبادلی په نتیجه کی ۱۰ ملکی وګړی، د ۲ ښځو او ۳ ماشومانو په شمول، ووژل شول.

د ډسمبر په ۳ مه په کونړ ولایت کی د دولت ضد عناصرو د ملی اردو پر یو کاروان چی له اسعدآباد څخه مانوګی ولسوالی ته روان و ډزی وکړی. ملی اردو د برید په ځواب کی ډزی وکړی او یوه نجلی یی ووژله او بل ماشوم یی ټپی کړ.

د می په ۲۹ مه د هلمند ولایت په لشکر ګاه ښار کی د ملی اردو یو تن پر یوه موټر هغه مهال ډزی وکړی چی امنیتی پوستی سره و نه دریده، او ډرایور ووژل شو او یو بل ملکی تن ټپی شوی.

[70]. د انتقال پروسی لومړی پړاو د ۲۰۱۱ کال د جولایی په میاشت کی ،چی په دوه ولایاتو، څلور ښارونو او د سروبی پرته د کابل ولایت ټولو ولسوالیو کی د امنیت چاری د نړیوال ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته سپارلوسره پیل شوی. دویم پړاو یی د ۲۰۱۱ کال دنومبر په ۱۲ نیټه چی اوه ولایتونو او لس ولسوالیو کی پیل شو ،چی اوس مهال د افغانستان امنیتی ځواکونه نږدی ۵۰ سلنه د هیواد د امنیت مسؤلیت په غاړه لری.

[71]. د ۲۰۱۲ کال د جنوری ۲۲ نیټه ، د یوناما د ملی اردو د حقوقوریئس سره ناسته.

د مارچ په ۱۴ مه د ارزګان ولایت ترینکوټ کې ملي پولیس پر ملکي موټر هغه مهال ډزې وکړې چې د ملي پولیسو د دریدلو هدایت یا اشارې ته یې پام ونه کړ، او د یو ملکي سړي د وژلو سبب شو.

د ملکي تلفاتو په پېښو کې د ملي اردو د تحقیقاتو طرزالعمل په باب باید وویل شي چې په ملي اردو کې داسې کوم دایمي واحد نه شته چې د ملي وګړو مرګ ژوبلې تعقیب کړي او تحقیقات یې وکړي. د دفاع وزارت حقوقي څانګې مشر د ملکي وګړو د تلفاتو مشرې کوي او د ملي اردو له خوا د ملکي تلفاتو پېښېدلو په صورت کې په هماغه موقع کې جوړه شوې ډله تحقیقات کوي. د تحقیقاتو پایلې په عمومي ډول ښکاره او علني نه وي.

د تحقیقاتو طرزالعمل د ملي اردو نورو طرزالعملونو کې شامل دی. په ساحه کې د ملي اردو مرکزونه[72] هره ورځ د امنیتي پیښو په هکله د دفاع وزارت عملیاتي ریاست ته رپورټ ورکوي چې په هغې کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله هم شاملیږي چې د دوی په عملیاتونو کې واقع کیږي. عملیاتي ریاست د ملي اردو د دخالت سره ملکي تلفات حقوقي ریاست ته راجع کوي چې هغوی بیا هره پیښه ګوري او تعیینوي چې کومه پیښه کې نورو تحقیقاتو ته ضرورت دی. بیا دا پیښې بیرته ساحه کې موجود د ملي اردو مرکز ته د تحقیقاتو لپاره راجع کیږي چې مشرې یې یو څارنوال کوي. که د څارنوال تحقیقات دا په ګوته کړي چې تخلف شوی دی نو بیا قضیه نظامي محکمې ته راجع کیږي او د افغانستان د قوانینو مطابق یې تعقیب کیږي.[73] په کورنیو چارو وزارت کې هم همدا شان یو طرزالعمل موجود دی.

د ډسمبر په ۱۲مه یوناما د دفاع وزارت د حقوقو رئیس سره وکتل او ورڅخه یې د ملي اردو د عملیاتونو له کبله د پنځو ملکي تلفاتو پیښو په هکله معلومات وغوښتل. نوموړي د حقوقي مدافع مشر وویل چې ملي اردو د دې قضایاوو زیاته برخه کې تحقیقات کړي دي او عاملین په کې مسؤول پيژندل شوي دي. یوناما د اړوند قضایاوو د تحقیق او پایلو په هکله تفصیلي معلومات وغوښتل او ویې غوښتل چې که امکان یې وي ملي اردو د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو په هکله کلنی رپورټ وړاندې کړي.[74] د حقوقو رئس یوناما ته وویل چې د ۲۰۱۰ د مارچ څخه د ۲۰۱۱ د اګست پورې ۱۳۲۵ تنه چې ۱۳۰ تنه د ملي اردو کارمندان په کې شامل دي، متهم کړای شوي دي، چې ۴۰۴ یې آمرین او ۷۳۸ یې سربازان او ۸ یې ملکي پرسونل دي. له دې څخه ۶۶ یې په وظیفه کې نه حضور، ۱۱ یې د ترافیکو له قوانینو څخه سرغړونه چې په کې مرګ، ژوبله یا د شتمنی تاوان منځ ته راغلی، ۱,۵ سلنه یې د غیر قانوني وسلې ساتل، ۴,۵ سلنه یې د اسلحې ورکول، ۲ سلنه یې عمدي وژني او باقي ۱۵ سلنه یې نور جرایم دي.[75] یوناما یادونه کوي چې دا معلومه نه ده چې د دې قضایاوو په کومو کې ملکي تلفات اوښتي دي.

که څه هم د دفاع او داخله وزارت دغه طرزالعملونه د اړوندو قوانینو سره برابر دي، داسې ځانګړي تدابیر چې د ملکي تلفاتو تعقیب وکړي کیدای شي څارنه او حساب ورکونه لا ښه کړي، او د لا ښو عملیاتي طرزالعملونو له لارې ملکي تلفاتو کې د ښه والي سبب شي. یوناما سپارښتنه کوي چې ملي اردو دې داسې خپلواکه مهارت لرونکې یوه ډله جوړه کړي د ملکي تلفاتو د تحقیقاتو او مستند کولو دنده ولري او لکه څنګه چې ښایي قانوني برخورد او ترمیمي او معاضوي اقداماتو کول ډاډمن کړي. سره له دې چې د ناوړه چلند ځینې قضیې د تعقیب سره مخ شوې، یوناما یادونه کوي چې د پیښې څخه وروسته سم له واره مشکوک کسان نیول شوي خو په زیاترو قضیو کې یې پایلې واضحه نه دي (او یا مشکوک افراد خوشې کړای شوي دي) او د تحقیقاتو پایلې او موندنې د قربانیانو او د هغوی کورنیو سره نه دي شریکې شوې.

د حساب ورکونې د پیاوړي کولو بر سیره، په ملي اردو کې د ملکي تلفاتو د تعقیب د یو میکانیزم ایجادول کولای شي مرسته وکړي څو د تغییراتو او بدلونونو مسیر او هغه سیمې چې لا ښه کولو ته په کې ضرورت دی، وپیژندل شي، او پر ټریننګ، احتساب او اعتباري کولو تمرکز وشي.

[72]. ملي اردو اوه سیمه ایيزې قول اردو لري : چې عبارت دي له ۲۰۱ کابل ، ۲۰۳ ګردیز ، ۲۰۵ کندهار ، ۲۰۷ هرات ، ۲۰۹ مزارشریف او ۲۱۵ لشکرګاه

[73]. د په کابل کې د فاع وزارت د حقوق رئیس سره د یوناما غونډې ، ۲۰۱۱ کال د دسمبر ۲ او ۱۲ مه.

[74]. یاد شوی مأخذ.

[75]. کابل دفاع وزارت کې د حقوقو رئیس جنرال نورستاني سره د یوناما غونډه ، د ۲۰۱۲ کال د جنوري ۲۵مه.

***جبران یا معاوضه***

یوناما وموندل چې په ملي اردو کې د معاوضې او جبران خساره ورکولو داسې کوم سیستماتیک میکانیزم نه شته چې د ملکي وګړو ستونزو او ناخوالو ته ځواب ووایي. معمولاً مرستې د دفاع وزارت له عمومي مالي وجوهاتو څخه ورکول کیږي. په ځینو واقعاتو کې، معاوضه د جمهور رئیس د خپلواکې ۹۹ بودجې څخه ورکړل شوې دی، چې اکثراً په بې پلانه توګه شوې دی. د داخله وزارت د بشري حقونو د رئیس په وینا که د ملي پولیسو له خوا ملکي وګړي ووژل شي، د هغې لپاره هیڅ کوم معاوضوي میکانیزم نه شته.

څرنګه چې ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسؤولیت انتقال پروسه په ۲۰۱۲ کې جریان لري، لازمي ده چې ملي امنیتي ځواکونه باید د معاوضې او جبران د ورکولو د تنظیم لپاره یو سیستم جوړ شي چې په ټولو ملکي تلفاتو او زیانونو واقعاتو کې بشپړ تحقیقات وکړي. آیساف کولای شي ملي امنیتي ځواکونو ته په دې برخه کې لارښوونه او مرستې وکړي چې څنګه په عمل کې دوی وکړای شي داسې میکانیزم جوړ او پلي کړي.

**د پاکستان د نظامي ځواکونو له خوا پر افغانستان د ګولیو ورول**

په ۲۰۱۱ کال کې یوناما په افغانستان کې هغه د ملکي وګړو تلفات مستند کړي چې د کونړ، ننګرهار او نورستان ولایاتو ته څېرمه په قبایلي علاقو کې د پاکستاني نظامي ځواکونو د یاغیتوب ضد عملیاتو په نتیجه کې رامنځ ته شوي. ولایتي چارواکي تأئیدوي چې په دې عملیاتونو کې ۱۸ ملکي وګړي وژل شوي او ۳۶ نور ټپیان شوي دي (چې ټول یې افغانستان کې دننه دي) او په سلګونه وګړي په ننګرهار او کونړ ولایاتو کې بې ځایه شوي دي.

ټولې تصدیق شوې پیښې د ۲۰۱۱ کال د جون او ډسمبر تر منځ موده کې واقع شوې. د ډسمبر په ۱۳ مه ویل کیږي چې پاکستاني نظامي ځواکونو تقریباً ۳۰ د توپ ګولۍ او میزائیل د یاغیانو په مشکوکو ځایونو له سرحد څخه دې خوا په افغانستان کې وویشتل.[76] دوه د توپ مرمیو په نورستان ولایت د کامدیش په دابه سیمه کې دوه استوګنځایونه وویشتل. یوه ګولۍ پر یو ملکي استوګنځي ولګیده چې یوه ښځه یې ووژله او یوه بله ښځه او څلور ماشومان یې ټپیان کړل. دوهمه ګولۍ پر یو بل ملکي استوګنځي ولګیده او ودانۍ یې ړنګه کړه او ۱۴ څاروي یې ووژل. یوناما د دې دوهمې پیښې په هکله هم د ملکي تلفاتو رپورټونه تر لاسه کړي خو ویې نه شو کړای چې د دې رپورټ د لیکلو تر دمه یې تصدیق وکړي. دولت پلوه ځواکونو هم د پاکستان په سیمه کې ځینې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې د خپلو یاغیتوب ضد عملیاتونو په جریان کې رامنځ ته کړي دي.

**افغان محلي پولیس او د ملکي وګړو ساتنه**

*عمومي نظر*

د تیر کال په ترڅ کې افغان حکومت او آیساف په زیاتیدونکې توګه پر افغان محلي پولیسو او نورور محلي دفاعي ابتکارونو تکیه کړې چې په محلي او لیرې پرتو سیمو کې امنیت ټینګ کړي.[77] محلي پولیس په ځانګړ سیمو کې چې هلته په کافي شمیر کې ملي پولیس او ملي اردو حضور نه لري چې امنیت ټینګ کړي او د محلي خلکو ساتنه وکړي، جوړ شوي دي.[78]

---

[76]. د یوناما په ۲۰۱۱ کال کې د ملکي تلفاتو د مرګ ژوبلې هغه شمیرې په دې راپور کې نه دي شامل کړي چې د پاکستان له لورې بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي. د دې راپور ورکړل شوي چې افغانستان کې د پاکستان سفیر ښاغلي صدیق د افغانستان د خارجه چارو وزیر ته ویلي" ما دوی ته ویلي چې پاکستاني ځواکونو د پاکستان تحریک طالبانو جنګیالي په نښه کړي دي نه ملکي افغانان . خو بیا هم د خلکو او شتمنی زیان د خواشنی وړ خبره ده . ایکسپریس ټرایبیون وګوری.
http://tribune.com.pk/story/261277/cross-border-shelling-kabul-delivers-rebuke-to-pakistan-envoy/.

[77]. په ۲۰۱۲ کال د جنورې په دریمه نیټه په کابل کې د آیساف په مرکز کې د عملیاتو د ځانګې مرستیال په خپله لنډه وینا کې وویل چې آیساف څلور ډوله سیمه ییز امنیتي ځواکونه په ګوته کوي چې د د دولت د ولکې بیرون فعالیت کوي. دغه عبارت دي له : د ټولنې په کچه د امنیت د ستونزو حل (CBSS) ، د اساسي تاسیساتو د ساتنې پروګرام (CIP) د اساسي تاسیساتو د خوندي ساتنې لپاره د منځنی کچې پروګرام (ISCI) د افغانستان دعامه خوندي ساتنې پروګرام یا (AP3) اوسیمه ییزامنیتي ځواکونه (LSF) دي .په وروستنی ډله (LSF) کې هغه شخصي امنیتي کمپنی چې د کار جواز نه لري ، ملیشې ،او اربکیان چې تر اوسه فعالیت کوي شامل دي . د آیساف په وینا کې وویل شو چې ټولې دغه رنګ ډلې یا خو منحل کید و په حال کې دي او یا به د حکومت کنترول لاندې راوستل شي او یا به محلي پولیسو تشکیل کې جذب شي.

[78]. په ټول افغانستان کې ډیری خلک سیمه ییزو پولیسو ته د اربکی اصطلاح کاروی یا ورته د امنیت نور سیمه ییز نوښتونه وایي.

محلی پولیس له سیمی څخه د جذب شوو کسانو څخه جوړ شوی چی په یوه محدوده جغرافیایی ساحه کی امنیت تینګ کړی. د دوی جذب او تمویل د ملی پولیسو او ملی اردو په پرتله ډیر ارزانه دی او لږه تنخواه او ټریننګ ورته په کار دی. محلی پولیس د واک چلولو او قانون پلی کولو کی هیڅ رول نه لری (که څه هم نوم یی پولیس دی) خو د نیولو صلاحیت نه لری خو بیا هم اجازه لری چی چی د لنډی مودی لپاره افراد ځان سره وساتی.

د آیساف د وینا له مخی محلی پولیس له مخکینیو ابتکارونو لکه افغان ملی مرستندویه (کمکی) پولیس او د افغان عامه حفاظت پروګرام یا (AP3) څخه چی یواځی تمرکز یی پر امنیت دی، فرق لری. آیساف وایی چی محلی پولیس چی د کلی د ثبات عملیاتو پروګرام (چی په کی د متحده ایالاتو د ځانګړو ځواکونو ټیم په کلو او محلی سیمو کی دننه کوی تر څو خلک د دولت ضد عناصرو پر ضد تشویق کړی) لاندی فعالیت کوی هدف یی دا دی چی د متحده ایالاتو د ځانګړو ځواکونو ټیم سره په عین وخت کی ټولنی تشویق کړی او د دی ځواکونو سره مرسته وکړی چی امنیت، ښه حکومت داری او پرمختیایی کارونه روان کړی.[79]

آیساف وایی چی د دی طرزالعمل هدف په محلی کچه د امنیت ښه کول دی چی کیدای شی ثبات راولی او ټولنیزه او عامه سوکالی رامنځ ته کړی. دا محلی حرکتونه د افغانستان په محلی سیمو کی د ولسوالیو په کچه بیا د حکومتی چارواکو او پولیسو د مشرتابه له لاری کابل سره تړل کیږی چی په نتیجه کی د حکومت لاسرسی اواغیزی په محلی سیمو کی ورسره ښه کیدای شی. آیساف وایی محلی پولیس په پایداره توګه د امنیتی ځواک حضور تأمینوی چی د محلی خلکو حمایت او په ملی کچه د خلکو تأئید او نظارت له ځانه سره لری، او د افغان ملی امنیتی ځواکونو د یاغیتوب ضد عملیاتو کی یو جامع او مهم ځای لری او د لویه کچه د آیساف – افغان امنیتی شبکی یوه برخه تشکیلوی.[80]

یوناما د ۲۰۱۰ کال راهیسی کله چی جمهور رئیس کرزی د محلی پولیسو جوړول اعلان کړل، په ټول افغانستان کی د محلی پولیسو اړوند انکشافات څارلی.[81] د ۲۰۱۱ کال په پای کی اکثره شریکباټو یوناما ته په هغو سیمو کی چی محلی پولیس فعالیت کوی، د امنیتی چاپیریال د ښه کیدلو رپورټونه ورکړی چی په دی معنی ده چی دوی توانیدلی چی له دی سیمو څخه یاغیان لیری وساتی.

خو بیا هم د محلی پولیسو د منځ مهاله او اوږدمهاله پایلو او اثر په برخه کی لا اندیښنی شته چی آیا دوی به وکړای شی چی په اوږدمهاله وخت کی د ملکی وګړو ساتنه کی ښه والی راولی او که کمه به یی کړی.

آیساف او د افغانستان د مشترکو ځانګړو عملیاتونو ځواکونو د ځانګی قوماندانی (CFSOCC-A) وایی چی د دوی د ارزونی له مخی محلی پولیسو د یاغیانو سره مبارزه کی مهم تاکتیکی او تخنیکی مهارتونه لاس ته راوړی دی او دا لاس ته راوړنی به دوامداره وی چی د مناسب لوژستیکی ملاتړ او د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتی ځواکونو او ملی امنیتی ځواکونو له خوا د دوامداره لارښوونو سره به ملی وی.[82] یوناما دی ټکی ته اشاره کوی چی دا وضعیت یو سوال راپورته کوی چی آیا دا امنیتی لاس ته راوړنی په اوږده مهال کی کیدای شی پر ځای پاتی شی، او د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتی ځواکونو په شمول نړیوالو امنیتی ځواکونو د شاته کیدو او بالاخره وتلو او د دوی د ملاتړ دریدلو او د ملی امنیتی ځواکونو له خوا د لارښونو د کچی کمیدلو څخه وروسته به دوام پیدا کړی او که څنګه.

د آیساف د څرګندونو له مخی د محلی پولیسو اوږد مهاله پلان لا تر اوسه نه دی بشپړ شوی چی آیا دا قوتونه به د ملی پولیسو یا نورو امنیتی ځواکونو برخه ګرځی او یا به د ملی امنیتی ځواکونو په چوکاټ کی یو بیل پروګرام په شکل پاتی شی.[83]

د ۲۰۱۱ کال په اوږدو کی یوناما د محلی پولیسو په جذب، تصدیق او تزکیی، ټریننګ او ډسپلین په برخه کی ځینی کمزورتیاوی لیدلی او ځینو محلی خلکو رپورټ ورکړی چی محلی پولیس په جنایی اعمالو کی دخیل شوی او جدی د بشری حقونو څخه یی سرغړونه کړی ، چی په کی د ملکی وګړو بی ځایه کیدنی، اختطاف، فزیکی او جنسی

---

[79]. د آیساف په مرکز کی دعمومی قومندان د عملیاتو مرستیال سره د یوناما غونډه ، ۲۰۱۲ کال د جنوری میاشت .
[80]. د آیساف په مرکز کی دعمومی قومندان د عملیاتو مرستیال سره د یوناما غونډه ، ۲۰۱۲ کال د جنوری میاشت .
[81]. د ۲۰۱۰ کال د ملکی کسانو د تلفاتو په اړه د یوناما راپور کی د سیمه ییزو پولیسو برخی وګوری .
[82]. د آیساف په مرکز کی دعمومی قومندان د عملیاتو مرستیال سره د یوناما غونډه ، ۲۰۱۲ کال د جنوری میاشت.
[83]. یاد شوی مأخذ.

تیري شاملیږي. یوناما دا هم موندلي چې د دوی د قوماندې او تشکیل په برخه کې کیدای شي پیاوړی شي چې له یوی سیمې څخه بلې سیمې پورې توپیر سره لري او په نتیجه کې د محلي پولیسو د فعالیت په برخه کې د حساب ورکونې او نظارت نشتوالی رامنځ ته کوي.

سربیره پر دې، سره له دې چې د تصدیق او تزکیې یو طرزالعمل شته چې لازمي ګڼي چې هغه کسان چې جذبیږي د محلي شورا له خوا یې ارزونه او تصدیق وشي، یوناما دا هم کتلي چې په ځینو سیمو کې محلي زورواکانو ځینې افراد د محلي پولیسو لپاره نومولي او د دوی پر تصدیق یې اثر او رسوخ درلودلی او په دې توګه ځینې خلک د مستندو شوو د بشري حقونو نقضولو سره د محلي پولیسو لیکو کې جذب شوي. په ځینو پیښو کې محلي پولیسو کې د سیمې ملیتي ترکیب په نظر کې نه دی نیول شوی چې ملیتي توازن وساتل شي چې دا په خپل وار سره د ځینو کشالو د رامنځ ته کیدلو سبب ګرځیدلی. په ځینو سیمو کې مخکینی وسله والې ډلې محلي پولیسو کې جذب شوي چې په محلي ټولنو کې یې اندیښنې پیدا کړې چې ګوندي محلي پولیس به د داسې وګړو کړو ته قانوني بڼه ورکړي.

### *د افغان محلي پولیسو تشکیل*

د ۲۰۱۰ کال اګست کې آیساف او افغان حکومت محلي پولیس په داخله وزارت کې د یو میکانیزم په توګه جوړ کړل چې د بې ثباته ولسوالیو ملاتړ وکړي، د لیرې پرتو محلي سیمو ساتنه وکړي او د وسله والو مخالفینو د ډلو د نفوذ مخنیوی وکړي تر څو داسې یو چاپیریال تأمین کړي چې حکومت داری او پرمختیا ښه کړای شي. د ۲۰۱۲ کال د جنوري تر ۲۶ می پورې ۵۷ ولسوالۍ تثبیت شوي چې په کې ۱۱۰۶۶ محلي پولیس فعالیت کوي. داخله وزارت د ۳۰ زرو محلي پولیسو جذبول چې باید په ۹۹ ولسوالیو کې په ټول افغانستان کې فعالیت وکړي، تأئید کړی دی. محلي پولیسو ته بودجه د متحده ایالاتو له خوا د افغان امنیتي ځواکونو د بودجې له لارې د ټولو ۳۰ زرو محلي پولیسو لپاره تر ۲۰۱۵ کال پورې ورکول کیږي. آیساف وایي چې دا مهال په هغه سیمو کې چې د کلي امنیتي عملیاتو چې د ځانګړو عملیاتي ځواکونو/محلي پولیسو له خوا تأمینیږي، تقریباً تر ۴ ملیونو وګړي ژوند کوي.[84]

د محلي پولیسو واحدونه باید په محل کې د ملي پولیسو د تشکیل تر قوماندې لاندې کار وکړي چې د ولسوالۍ په کچه واحدونه باید مستقیماً د ولسوالۍ د پولیسو مشر ته ځواب ووايي چې بیا هغه د ولایت د امنیه قوماندان تر څارنې لاندې وي. د محلي پولیسو غړي ۲۱ ورځې زده کړې تر لاسه کوي چې باید د نورو لارښودو پروګرامونو له خوا بشپړ شي. په ډیرو سیمو کې د متحده ایالاتو ځانګړي عملیاتي ځواکونه مخکې تر دې چې د ښوونو مسؤولیت عادي افغان امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي، د محلي پولیسو واحدونو ته لارښونې کوي. د ۲۰۱۰ کال د اګست د میاشتې د محلي پولیسو د جوړولو طرزالعمل کې ذکر شوي عمومي لارښود څخه پرته، چې بیا د ۲۰۱۲ کال په جنورۍ کې تعدیل کړای شو، د محلي پولیسو لپاره داسې کوم قانوني چوکاټ نه شته چې د هغوی ځانګړي عملیات او د دوی د ښتنو لپاره قواعد یې له مخې تنظیم کړای شي.

د محلي پولیسو واحدونه باید د خپلې محدودې ځانګړې ساحې دننه فعالیت وکړي. دوی اجازه نه لري چې بلې ولسوالۍ ته سفر وکړي، د خپل فعالیت له ساحې څخه بهر وسله په لاس کې واخلي او یا نورو په تعرضي عملیاتونو کې برخه واخلي. غیر له هغه حالاتو څخه چې په مشخص ډول د ملي پولیسو له خوا یې غوښتنه شوی وي، محلي پولیس نه شي کولای چې د قانون پلې کولو دندې اجرا کړي، چې د مشکوکو مجرمینو نیول په کې شامل دي. دوی صلاحیت لري چې هغه افراد ځان سره توقیف کړي (په مؤقتي ډول د نظر وړ اشخاص ونیسي) چې د جګړې پر مهال نیول شوي وي او یا د دولت ضد عناصرو مشکوک غړي وي.[85] دا د جنګیالیو او مشکوکو یاغیانو نیولو رول په واضح ډول نه دی بیان شوی او په هکله یې هیڅ ډول لارښونې نشته چې نیول شوي کسان دې ملي پولیسو یا ملي اردو یا ملي امنیت ته وسپارل شي، تر څو چې د توقیف مناسب شرایط تأمین شي، او د توقیفیانو د با خبرئ حق او د توقیف په دوران کې ورسره مناسب چلند تعیین کړي.

---

[84]. یاد شوی مأخذ.
[85]. افغان سیمه ییزو پولیسو پروسه د ۲۰۱۰ کال د اګست په میاشت کې رامنځ ته شوه او د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ په میاشت کې بیا سمون راوستل شو.

### ***تشخیص، تزکیه او جذب***

د ښودل شوی طرزالعمل مطابق د ولسوالۍ شوراګانی باید د محلی پولیسو لپاره د جذب کیدلو وړ کسان ونوموی چی باید ډیره پاملرنه په کی وشی چی ټولو ملیتی ډلو ته برابره برخه ورکړای شی. د داخله وزارت یوه ډله لری چی د محلی پولیسو بایو مټریک لست برابروی او ډیټابیس کی یی اچوی، د عمر حد تعیینوی (۱۸ – ۵۴) او د مخدره موادو د اعتیاد د ردولو په موخه د تشو متیازو معاینه اجرا کوی. د ولسوالۍ او ولایت چارواکی، د ملی پولیسو او ملی امنیت محلی مشرانو په شمول، د نومول شوو کسانو د تشخیص او مناسب والی په هکله مسؤولیت لری چی څوک په دی لیکو کی ونیول شی، خو دوی هیڅ داسی مکلفیت نه لری چی کوم نوماندان چی د جرایمو یا د منازعی اړوند تخلف شک پری کیږی، له لست څخه وغورځوی.

یوناما کتلی چی په عمل کی دا طرزالعمل په نا متوازنه توګه تطبیق شوی او په ځینو ولسوالیو کی د ولسوالۍ شورا د نوماندانو جذب سیمه ایزو زورواکانو ته سپارلی. په ډیرو ولسوالیو کی یوناما دا په ګوته کوی چی هیڅ کوم نوماند په دی پروسه کی په محلی پولیسو کی د جذب کیدلو څخه نه دی ویستل شوی .[86] په ګڼ شمیر ولسوالیو کی خلکو ویلی چی د جذب دا پروسه د دی سبب شوی چی پخوانۍ ملیشی چی سیمه ایزو زورواکانو ته وفاداره دی، بیرته مسلح شوی او فعال کړای شوی دی.

د بیلګی په توګه یوناما کتلی چی د ولسوالۍ چارواکو محلی دولت پلوه ملیشی په محلی پولیسو کی جذب کړی لکه د هرات شینډنډ ولسوالۍ، د فاریاب قیصار ولسوالۍ، او سرپل په صیاد ولسوالۍ کی. په دی دری واړو قضیو کی محلی ټولنو دا ملیشی په جرایمو او بشری حقونو څخه سرغړونو او تیری تورنی کړی دی. خو تر دی دمه د دی ملیشو هیڅ غړی لا د جذب له پروسی څخه نه دی ویستل شوی.

په نورو ولسوالیو کی، لکه د ننګرهار ګوشته، د سر پل صیاد ولسوالۍ، یوناما موندلی چی ځینی محلی پولیس پخوانی جنګیالی وو چی د ډی ډی آر او ډایاګ پروسه کی بی وسلی کړای شوی وو.

یوناما ته داسی رپورټونه رسیدلی چی د محلی پولیسو قوماندانانو پر خلکو زور راوړی چی د دوی محلی پولیسو کی شامل شی. یوناما ته داسی تورونه هم ښودل شوی چی په خاص ارزګان او د ارزګان ولایت ځینو نورو ولسوالیو کی قوماندانانو هڅه کړی چی د کلیو خلک په زور دی خدمت ته مجبوره کړی. په شاه ولی کوټ ولسوالۍ کی د کلی خلکو یوناما ته وویل چی د محلی پولیسو یو قوماندان چی بادشاه خان نومیږی، هری کورنۍ څخه غوښتی چی خپل یو ځوی دی د محلی پولیسو واحدونو ته ورکړی.[87] دا عمل د دی سبب شوی چی ګڼ شمیر کورنۍ له سیمی څخه تښتیدلی تر څو محلی پولیسو ته خلکو ورکولو څخه خلاص شی.

یوناما دا هم کتلی چی ماشومان په محلی پولیسو کی جذب شوی دی. د پکتیکا ولایت قومی مشرانو یوناما سره اړیکه نیولی او ویلی یی دی چی یو د محلی پولیسو قوماندان په اورګون، برمل او خیرکوټ ولسوالیو کی په زوره د ښوونځی ماشومان محلی پولیسو کی جذب کړی دی. وروسته د ولسوالۍ او ولایت چارواکو له مداخلی څخه، دغه ماشومان بیرته ښوونځی ته ستانه شوی دی او دا مهال په پکتیکا ولایت کی هیڅ ماشوم په محلی پولیسو کی نه شته. یوناما همدا شان په شینډنډ او قادس ولسوالیو کی د ماشومانو د جذب رپورټونه تر لاسه کړی، که څه هم په ډیری ولسوالیو کی داخله وزارت چارواکو د تصدیق او تزکیی پروسه کی ماشومان له جذب څخه ایستلی دی.

### ***قومانده او کنټرول***

سره له دی چی د ولسوالۍ امنیه قوماندان د ولایت د پولیسو د مشرتابه له لاری په ولسوالۍ کی د محلی پولیسو د قوماندی مسؤولیت لری، په عمل کی دا واک په بیلابیلو ځایونو کی مختلف دی. له دی کبله چی محلی پولیس داسی سیمو ته استول کیږی چی هلته نور امنیتی ځواکونه حضور نه لری او یا ډیر کم وی، د محلی پولیسو واحدونه د مرکزی امنیتی جوړښتونو د ډیری لږی څارنی، مدیریت او قوماندی اثر لاندی فعالیت کوی. د محلی پولیسو د لنډ مهاله روزنی په نظر کی نیولو سره، د محلی پولیسو پر مؤثریت او نظم او ډسپلین کی د هغوی د قوماندانۍ

---

[86]. یوناما یواځی د فراه ولایت په خاک سفید او قلعه کاه ولسوالیو کی مستند کړی، چی چارواکو په سیمه ییزو پولیسو کی د هغه کسانو د جذب مخه ونیوله چی په نشه ییزو توکو روږدی وو.
[87]. د ۲۰۱۱ کال د نوومبر او د ۲۰۱۲ کال د جنوری په میاشتو کی د یوناما د ټولنی او شوراګانو د غړو سره مرکی.

څرنګوالی ستر رول لوبوی. یوناما دا موندلی چی په ځینو ځایونو کی د ولسوالی یا ولایت د ملی پولیسو قوماندانانو د محلی پولیسو پر واحدونو ډیر مؤثر کنټرول او قومانده درلودلی ده. په ځینو نورو ولسوالیو کی لکه د کندز ولایت په کندز ولسوالی کی، د متحده ایالاتو ځانګړو ځواکونو د محلی پولسو د بنی رهبری په برخه کی مستقیماً او یا د ملی پولیسو د قوماندی سلسلی له لاری ښه لارښود رول لوبولی. په ډیری پیښو کی د محلی پولیسو د واحدونو قوماندانان پر خپلو واحدونو بشپړ کنټرول لری چی د ملی پولیسو دخالت په کی ډیر کم وی.

په ځینو سیمو کی، ملی پولیس هڅه کوی چی خپله قومانده او اثر په مختلفو طریقو پیاوړی کړی تر څو پر محلی پولیسو خپل عملیاتی کنټرول وساتی. د بیلګی په توګه، په شمال ختیځه سیمه کی، د ملی پولیسو یو افسر د محلی پولیسو هغو واحدونو کی چی د ولایت د مرکز شاو خوا ولسوالیو کی فعالیت کوی، شامل وی. دا د ملی پولیسو افسران د محلی پولیسو او د ولایت د پولیسو مشرتابه تر منځ د اړیکو سلسله پرانستی او دوامداره اړیکی ډاډمنوی. په سیمه کی لا زیاتو لیرو پرتو سیمو کی محلی پولیس د عادی اړیکو سلسلی له لاری د ولسوالی د پولیسو قوماندانی ته رپورټ ورکوی. د متحده ایالاتو ځانګړو عملیاتی ځواکونو هڅه کړی چی دا د قوماندی لړۍ په کندز ولسوالی کی فعاله او عملی کړی تر څو ډاډمنه کړی چی پریکړی، د منابعو ویش، عملیات او نور مسائل د ملی پولیسو له لاری سر ته ورسیږی. هغه د پولیسو قوماندانان چی د محلی پولیسو د څارنی دنده لری هم د محلی پولیسو د پوستو د منظمو کتنو، د تنخواه ګانو د ویشلو او د محلی پولیسو غونډو کی د حاضری تأمینولو له لاری دا د قوماندی لړۍ ساتلی ده.

یوناما دا هم کتلی دی چی په ځینو حالاتو کی د مؤثری قوماندی نشتوالی د دی سبب شوی چی د محلی پولیسو یووالی کی ستونزی پیدا شی، خصوصاً په هغه ځایونو کی چی پخوانی د دولت ضد عناصرو یا غیر قانونی وسله والو ډلو غړی چی په دی وروستیو کی د ډی ډی آر یا ډاپاګ پروګرامونو له لاری بی وسلی شوی، د محلی پولیس ډلی جوړوی. په ځینو سیمو کی محلی خلک تور لګوی چی محلی پولیس د دولت ضد عناصرو سره ځینی وختونه اړیکی ساتی او کله کله هم خپل تعلق بدلوی.[88] د ۲۰۱۱ کال په اګست کی د ارزګان ولایت خاص ارزګان کی داسی ډیر محلی پولیس چی مخکی طالبانو وو او دی وروستیو کی د حکومت سره یوځای شوو وو، وروسته له دی چی خپل قوماندان یی وژلی بیرته د طالبانو سره یوځای شوی دی. یوناما داسی تورونه هم تر لاسه کړی چی وژل شوی قومندان ډیری محلی پولیس په زوره جذب کړی وو چی اکثره یی پښتانه وو. داسی پیښی نه یواځی د محلی پولیسو د قوماندی په برخه کی اندیښنی راولاړوی بلکه د جذب په پروسه کی د تصدیق او تزکیی او د ملی پولیسو له خوا د محلی پولیسو د نظارت ضعف هم په ګوته کوی.

***نظارت او حساب ورکونه***

یوناما کتلی چی محلی پولیسو په ډیری محلی ټولنو کی موجود د زور چلولو مناسبات بیرته راوستی دی. دا د زور مناسبات د فعالو حکومتی ادارو د نشتوالی او غیر مؤثر نظارت او احتساب میکانیزمونو د موجودیت له کبله په ځینو سیمو کی چی محلی پولیس په کی فعالیت کوی د یو واقعی معافیت چاپیریال د رامنځ ته کیدلو سبب ګرځیدلی. یوناما د محلی پولیسو له خوا د ناوړه کړنو رپورټونه تر لاسه کړی چی قتل، جنسی تیری، وهل، اختطاف، اجباری ودونه، تهدیدول، فشار راوړل او غلا په کی شامل دی.[89]

یوناما داسی رپورټونه تر لاسه کړی چی محلی پولیسو له خپل صلاحیت څخه ناوړه استفاده کړی او د موټرو د تلاشی غیر قانونی پاټکونه یی جوړ کړی چی پیسی واخلی، خلک یی مجبوره کړی چی د دوی قوماندانانو ته مالیه یا ټکس ورکړی، او داسی نوری ناوړه استفادی یی کړی.[90] د ۲۰۱۱ کال په وروستیو کی د پکتیکا ولایت په ارګون ولسوالی کی یوناما داسی ډیر رپورټونه تر لاسه کړی چی د محلی پولیسو قوماندان له خلکو څخه غوښتی چی د دوی ته عشر ورکړی. محلی اوسیدونکو له دی څخه ډډه کړی او خپل شکایت یی یوناما ته رسولی. کله چی دا شکایتونه د ولسوالی د پولیسو قوماندان سره شریک شول، هغه د کلی د خلکو دا ادعا رد کړه. د بغلان ولایت د

88. د هرات ولایت په شین ډنډ ولسوالی کی یوناما شکایت تر لاسه کړی چی سیمه ییزو پولیسو د دولت ضد وسلوال سره د چاودیدونکو توکو په لیږدولو کی مرسته کړی.

89. یوناما نږدی د هیواد په ټولو هغه سیمو کی چرته چی سیمه ییز پولیس فعالیت کوی د سیمه ایزو پولیسوپه لاس د ناوړه چلند پیښو ادعا مستند کړی.

90. د سیمه ایزو پولیسو په هکله شکایت په ځانګړی ډول په هغه سیمو کی ډیر تر سترګو شوی چی پخوانی دولت پلوه ملیشی د محلی پولیسو په لیکو کی جذب شوی او د ټولنی څخه ناقانونه ټیکس او یا پیسی په زور اخلی.

پولیسو قوماندان وایی چې د هغه مسؤولینو داسې ډیر شکایتونه تر لاسه کړی چې محلی پولیس له خلکو څخه عشر یا نور ټکسونه غواړی، خو ده وویل چې د داسې قضیو ثابتولو کې ستونزې درلودلې.

د آیساف د وینا مطابق د محلی پولیسو لپاره د نظارت میکانیزم کې داخله وزارت چې د ولسوالی او ولایت د پولیسو قوماندانی له لاری عمل کوی، محلی مشران او محلی شورا (چې د حکومت دودیز میکانیزم دی) او د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواک د کلی د ثبات پروګرام له لاری دخیل دی.[91] یوناما یادوی چې موجوده د نظارت طرزالعملونو کې رسمی عدلی میکانیزمونه شامل نه دی چې د محلی پولیسو تحقیقات وکړی، انظباطی اقدام وکړی او یا یی ګوښه کړی. ملی پولیس سره له دی چې د نظارت مسؤولیت لری، په ډیری ولسوالیو کې نه دی توانیدلی یا یی نه دی غوښتی چې د محلی پولیسو د بشری حقونو څخه سرغړونی او یا جرایمو ته رسیده ګی وکړی چې لامل یی د محلی زورواکانو نفوذ، دا عقیده چې محلی پولیس د آیساف له خوا حمایه کیږی، یا په ټوله کې د داخله وزارت د احتساب عمومی کمزورتیاوی چې د محلی پولیسو یا نورو پولیسو یا امنیتی کسانو له خوا ناوړه استفاده یا سرغړونه یی تعقیب کړی دی.[92] په ډیری قضیو کې داسې ښکاری چې د محلی پولیسو او د دوی د واحدونو نظارت او تحقیقات د بیلابیلو قضیو پر اساس چې کله د چا له خوا شکایت درج شی، کیږی.[93]

په بغلان ولایت کې د ملی پولیسو قوماندانی ته د محلی پولیسو د ناوړه کړنو یا جرمی چلند په هکله شکایتونه رسیدلی چې قتل، اختطاف او د ځمکو غیر قانونی نیول په کې شامل دی. دا شکایتونه معمولاً د سیاسی او ملیتی تضادونو پر بنسټ انګیرل کیږی چې په نتیجه کې آیساف او ولایتی مقامات بیا د ملی پولیسو او محلی پولیسو د قوماندانانو او د سیمی اوسیدونکو تر منځ منځګړیتوب کوی. په ځینو حالاتو کې چې محلی پولیسو په ۲۰۱۱ کال کې په پل خمری کې شخصی ملکیتونه نیولی، د محل د ملی پولیسو مشر یوناما ته وویل چې د دوی د جنایی تحقیقاتو برخې و نه شو کړای چې د محلی پولیسو قوماندانانو څخه تحقیقات وکړی ځکه چې هغوی د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتی ځواکونو حمایت له ځانه سره درلوده.[94]

د ۲۰۱۱ کال په وروستیو کې آیساف د دی په موخه چې د محلی پولیسو واحدونو له خوا د تخلفاتو رښتینولی و ارزوی یوه پلټنه پیل کړه چې نتیجه یی واخیسته نو د دی ادعا ګانو لږ شمیر رښتینی وی .[95] په نتیجه کې آیساف وویل چې دوی به د محلی پولیسو پروګرام کې دی اندیښنو ته پاملرنه وکړی چې په کې د نورو تدابیرو برسیره، د داخله وزارت له خوا د محلی پولیسو د واحدونو د روزنی ضرورت هم شامل و چې دوی ته د بشری حقونو څخه د سرغړونو د مخنیوی عملی میتودونه، د ځواک د صلاحیتونه زیاته توضیح، په آیساف کې د یو ملی پولیس افسر مقررول تر څو د افغانانو شمولیت په څآرنه او حساب ورکونه کې ډاډمن کړای شی، او د محلی پولیسو له خوا د تخلفاتو د ګزارش د ورکولو د طرزالعمل پالیسی، په برخه کې روزنه ورکړی.

یوناما د محلی پولیسو د کړنو د ښه کیدلو په موخه د دی تدابیرو، نظارت او حساب ورکونی هرکلی کوی.[96] آیساف یوناما ته معلومات ورکړل چې له دی تدابیرو څخه زیات یی د تطبیق په حال کې دی. یوناما سپارښتنه کوی چې د محلی پولیسو ښه کیدلو لپاره ټول تدابیر دی مخکې له دی چې دی ځواک ته وسعت ورکړل شی، په بشپړ ډول عملی کړای شی.

---

[91]. د آیساف په مرکز کې دعمومی قومندان د عملیاتو مرستیال سره د یوناما غونډه ، ۲۰۱۲ کال د جنوری میاشت.

[92]. یوناما مشاهده کړی چې ملی پولیس د هغه ولسوالیو د نظارت کولو لیوالتیا نه ده ښودلی په کومو کې چې د سیمه ایزو پولیسو شمیر د ملی پولیسو د شمیری څخه ډیره ده.

[93]. په ځینی ولایتونو لکه د کندوز په قیصار ولسوالی اودهرات په شین ډنډ ولسوالی کې د بشری حقونو نه د سر غړونی او یا د جرم پیښیدو د شکایت پر وخت ولایتی چارواکو هڅی کړی چې د سیمه ایزو پولیسواو ټولنی ترمنځ منځګړتوب وکړی او یا یی ستونزی د حل په موخه محلی شورا ګانو ته حواله کړی. ولایتی چارواکو ډیر کم وخت د کورنیو چارو وزارت د جنایی پیښو د څیړنی څانګی څخه د دغه ډول پیښو یا شکایتونو د پلټلو غوښتنه کوی.

[94]. د ۲۰۱۱ کال د جولایی په اوومه نیټه د متحده ایالاتو د ځانګړی ځواکونو استازی په پلخمری کی یوناما ته ویلی چی د سیمه ییزو پولیسو دری قومندانانو پر ضد شکایتونه به د پلټلو لپاره د جنایی پیښو د څیړنو څانګی ته واستول شی ، خو تر دی دمه په دی اړه کوم قانونی اجرآات ندی تر سره شوی چی دغه ادعاوی تعقیب کړی.

[95]. د متحده ایالاتو ځواکونو مرکز- افغانستان ، د مستند کولو ، موندنو او سپارښتنو یاداښت (6-15 AR) د بشری حقونو څار ـ د بشری حقونو نه د سرغړونی د ارزونی معتبر راپور ) د ۲۰۱۱ کال د سمبر شپږمه.

[96]. د آیساف په مرکز کې دعمومی قومندان د عملیاتو مرستیال سره د یوناما غونډه ، ۲۰۱۲ کال د جنوری میاشت.

### د مهمو ودانیو د ساتنی پروګرام(CIP) باندی عمومی نظر

د افغانستان په شمال او شمال ختیځو سیمو کی د آیساف ساحوی قوماندانی د مهمو ودانیو د ساتنی پروګرام(CIP) جوړ کړ—چی یو امنیتی ابتکار دی چی موخه یی د هغو ځایونو ساتل دی چی هلته نه محلی پولیس او نه هم عادی امنیتی ځواکونه حضور لری. آیساف د مهمو ودانیو د ساتنی ځواک ته دنده سپارلی چی ستراتیژیک کلی د دولت ضد عناصرو څخه وساتی. د CIP ځواک ۱۵۰۰ تنه د شمال د ساحوی قوماندانی په نهو ولسوالیو کی ګمارل شوی دی.

که څه هم دا قوتونه د خپل فعالیت په سیمه کی د ولسوالی د پولیسو قوماندان ته رپورټ او ځواب ورکوی، د دی مراتبو سلسلی د مناسباتو لپاره هیڅ ډول قانونی یا د پالیسی بنسټ نه شته. د CIP واحدونو، که چیری روزل شوی وی، نو یواځی ابتدایی مسائلو کی به یی روزنه شوی وی او دا ځواکونه خپله وسله نه راجستر کوی. همدا شان دوی د وژونکی ځواک د استعمال لپاره هیڅ ډول قانونی معیار نه لری.

معلومه نه ده چی د دوی د جذب لپاره کوم معیارونه په نظر کی نیول شوی وو، خو ډیری د CIP غړی ښکاری چی د دولت پلوه پخوانیو ملیشو غړی پاتی شوی . د CIP ځواک په جوزجان، فاریاب، او بلخ ولایاتو کی تقریباً په بشپړه توګه له غیر رسمی ملیشه ځواکونو څخه جذب شوی دی چی د سولی او بیا ادغام پروګرام یا ډاياګ له خوا بی وسلی کړای شوی وو. د CIP ځواکونه په زیاتو ولسوالیو کی چی دوی په کی فعال دی، د سیمی ملیتی جوړښت او توازن نه منعکسوی. د بیلګی په توګه یوناما کتلی چی سره له دی چی د کندز ولایت د علی آباد ولسوالی اکثریت نفوس پښتانه دی، د CIP ځواک له زیاتو تاجک ملیت څخه جوړ شوی او یواځی ۵ غړی یی پښتانه دی.[97] همدا ډول مناسبات د کندز ولایت د چاردره او قلعأ ذال ولسوالیو کی هم وجود لری.

د ملی پولیسو د ولسوالی قوماندانانو ورتیا چی پر CIP مؤثره قومانده او کنټرول ولری، محدوده ده. په زیاتو حالاتو کی د CIP قوماندانانو شهرت او نیک نوم، احترام او یا ورڅخه ویره د ولسوالی یا ولایت د ملی پولیسو د قوماندان په پرتله ډیر زیات وی. د دی په نظر کی نیولو سره چی CIP په داسی ځایونو کی فعالیت کوی چی هلته د ملی پولیسو او ملی اردو حضور ډیر کمرنګه دی، CIP ځواک اکثراً په هغو ولسوالیو کی د ملی پولیسو په پرتله زیات وی چی په نتیجه د ولسوالی د پولیسو قوماندان نه شی کولای چی مؤثره قومانده او کنټرول پری وساتی. د بیلګی په توګه، د کندز ولایت د قلعأ ذال ولسوالی د CIP قوماندان د ۱۵۰ تنو مشری کوی، په داسی حال کی چی د ولسوالی د ملی پولیسو قوماندان یواځی د ۲۲ ملی پولیسو کارکوونکو مشری کوی.

د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په ۲۵ مه جمهور رئیس کرزی د CIP او د آیساف له خوا نورو دفاعی ابتکارونو لکه د مهمو ودانیو لپاره منځنی امنیتی جوړښت (ISCI)، او د ټولنی له خوا د امنیتی حل ځواک (CBSS) د منحلولو فرمان صادر کړ. آیساف وویل چی دوی به د دی امر اطاعت وکړی او د ۲۰۱۲ د جنوری په ۲۴ مه نړیوالی شریکی قوماندانی International Joint Command یا (IJC) یو فرمان صادر کړ چی تمرکز یی د ټولنی له خوا د امنیتی ځواک تحول یا منحلول وو چی CIP هم په کی شاملیږی، او عنوان یی "د ټولنی له خوا د امنیتی حل او د مهمو ودانیو قراردادونو" دی. آیساف یوناما ته معلومات ورکړ چی د آیساف او افغان ګډ پلان د کار لاندی دی چی هڅه کوی چی دا امر په داسی ډول تطبیق کړی چی د محلی ټولنو لپاره منفی امنیتی پایلی او نتیجه و نه لری.[98]

---

[97]. د غیر رسمی احصایی د اندازی مطابق علی اباد ولسوالی کی ۵۵ سلنه پښتانه ، ۳۳ سلنه تاجک ،اوه سلنه اوزبک او پاتی پنځه سلنه یی هزاره دی.

[98]. د آیساف په مرکز کی دعمومی قومندان د عملیاتو مرستیال سره د یوناما غونډه ، ۲۰۱۲ کال د جنوری میاشت.

**پر ماشومانو د وسله والی شخړی اغیزی**

*د منازعې د اړخونو له خوا د ماشومانو جذب،روزنه او استفاده*

یوناما د وسله والو ځواکونو او ډلو له خوا د ۱۸ کلونو څخه کمو ماشومانو د جذبولو په اړه ډیره اندیښمنه ده. په ۲۰۱۱ کال کی مجموعاً د منازعی د اړخونو له خوا د ۲۱۲ ماشومانو د جذبولو ریپورټونه یوناما ته رسیدلی چی په کی ملی پولیس، محلی پولیس او د دولت ضد عناصر شامليږی.[99] له دی ۲۱۲ کم عمرو جذبونو څخه، چی تصدیق شوی یا نه دی تصدیق شوی، ۱۷۳ (۸۱ سلنه) یی د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی، ۲۳ یی محلی پولیسو او ۱۶ یی ملی پولیسو ته منسوب شوی. د یوی ۸ کلنی نجلی په شمول چی د نامعلومو کسانو له خوا ورڅخه غوښتل شوی وو چی یوه بسته د نړیوالو نظامی ځواکونو اډی ته یوسی، ۱۱ نور ځان وژونکی برید کوونکی وو چی وژل شوی او یو ۱۴ کلن هلک هغه مهال ووژل شوی چی تعبیه شوی چاودیدونکی توکی یی ځای پر ځای کول او هغه پری وچاودل.

د ۲۰۱۱ کال په وروستی نیمایی کی یوناما په ۱۳ ولایتونو کی د ۶۷ هلکانو سره مرکی وکړی، چی توقیف شوی وو او د ماشومانو اصلاحی مراکزو کی د وسله والو ډلو سره د تړون په اتهام توقیف شوی وو. له دی ماشومانو څخه چی عمرونه یی د ۹ او ۱۷ کلونو تر منځ وو، څلورمه برخه یی د دولت ضد عناصرو له خوا د نظامی فعالیتونو، د تعبیه شوو چاودیدونکی توکو ایښودلو او ځان مرگی بریدونو د تر سره کولو لپاره استخدام شوی وو. [100]

په ۲۰۱۱ کی افغان امنیتی ځواکونو ۲۰۴ هلکان چی له ۱۸ کلو څخه کم عمر لری د ملی امنیت په خطر کی اچولو په اتهام نیولی دی.[101]

*پر ښوونځیو بریدونه*

په هیواد کی د ماشومانو او وسله والی منازعی کاری ډلی د تصدیق شوو ارقامو له مخی، د دولت ضد عناصر په ۲۰۱۱ کی د ۲۸ بریدونو مسؤول وو. دا د ۲۰۱۰ او ۲۰۰۹ په پرتله کموالی څرگندوی. پیښو کی د ښوونځی د ودانیو او وسایلو سیزل یا د اور اچولو هڅه، تهدیدول، د ښوونکی او زده کوونکو ټپی کول یا وژل، وسله وال بریدونه او د ښوونځی پر ودانیو دوه د ځان وژونکی بریدونو هڅی شامليږی.[102]

سربیره پر دی د معارف وزارت پر ښوونځیو د ۷۱ نورو بریدونو ذکر کوی چی د دی څخه په یو برید کی ۶ ښوونکی وژل شوی، او یو ښوونکی د دولت ضد عناصرو له خوا تښتول شوی دی.[103] ۳۰ ښوونځی د دولت ضد عناصرو د تهدیدولو له امله تړل شوی، او ۱۶ نوری یی د تهدیدولو او تیری او وهلو پیښی یادی شوی دی. تصدیق شوی ده چی د دی پیښو یو پر دریمی برخی مستقیماً د نجونو یا د هلکانو او نجونو شریکی تعلیمی ودانۍ وی. له نیمایی څخه زیاتو پیښو کی د ښوونځی ډلو (د هلکانو یا نجونو) نا معلومه پاتی دی.

د دولت ضد عناصرو له خوا د ۱۲ ښوونځیو ودانی د اشغال د تصدیق شوو پیښو ریپورټ ورکړل شوی، چی له دی څخه ۷ یی په مرکزی سیمه کی، دوه دوه یی په جنوب او شمال سیمو کی او یو یی په ختیځه سیمه (ننگرهار) کی وو. د ملگرو ملتونو هڅی د دی لپاره چی له ښوونځیو څخه د نظامی اهدافو لپاره استفاده ونه شی، په مرکزی سیمه کی بریالی وی او د دولت ضد عناصرو په ۲۰۱۱ کال کی دوه ښوونځی پریښودل.

---

99. په وسلواله شخړه کی د ماشومانو د کاری ډلی (CAAC) ډاټابیس ۲۰۱۱.
100. د هیواد په کچه کاری ډلی ته د پوهنی وزارت د هغه پیښومیاشتنی راپور چی له امله یی ښوونځی ، زده کونکی اود پوهنی پرسونل اغیزمن کیږی . ۲۰۱۱ کال جنوری - دسامبر .
101. د عدلی وزارت ـ وسلواله شخړه کی د ماشومانو د کاری ډلی ته د ۲۰۱۱ کال د جنوری نه تر دسامبر پوری راپور.
102. د هیواد په کچه کاری ډلی ته د پوهنی وزارت میاشتنی د هغه پیښو راپور چی له امله یی ښوونځی ، زده کونکی اود پوهنی پرسونل اغیزمن شوی، ۲۰۱۱ کال د جنوری – دسامبر.
103. یاد شوی مأخذ.

په ۲۰۱۱ کې ملګرو ملتونو ښوونځیو ته څیرمه د نظامي عملیاتو په ترڅ کې جانبي زیان په توګه ۲۴ پیښې ثبتې کړي، لکه د آر پي جي او راکټ په واسطه برید، د ګولیو تبادله او تعبیه شوې چاودیدونکې توکې چې ښوونځیو ته نږدې موندل شوي او ښوونځیو ته یې تاوان رسولی دی. د معارف وزارت نوري ۴۸ هغه پیښې ثبتې کړي چې په کې ښوونځي، ښوونکي او زده کوونکي د پیښو د جانبي تاوان له کبله متأثره شوي. په مرکزي سیمه کې (د ټولو پیښو ۲۸ سلنه) او ختیځه سیمه کې (د ټولو پیښو ۱ سلنه) تر ټولو زیات له داسې پیښو څخه متأثره شوي چې معارف یې متضرره کړي دي.[104]

عمومي نا امني او د ښوونځیو د پیښو د مستقیمو او غیر مستقیمو اثراتو له کبله متأثره کیدلو د ماشومانو لاسرسي ښوونځیو ته متضرره کړي دی، ځکه چې د دوی والدین زړه نازړه وي چې خپل ماشومان، په تیره بیا نجونې، ښوونځي ته واستوي. داسې ارقام نشته چې وښایي چې په ۲۰۱۱ کال کې څومره داسې ماشومان به وي چې ښوونځي کې شامل کړای شوي او بیا یې تعلیم د امنیتي ستونزو له کبله د کال په جریان کې پریښې وي.

*د ماینونو او نا چاودو پاتې شوو توکو له کبله د ماشومانو وژل کیدل او ټپي کیدل*

په ۲۰۱۱ کې د ماینونو او چاودیدونکو پاتې شوو توکو له کبله ۵۶۱ تلفاتو له حملي څخه ۴۳۱ (۷۶ سلنه) یې له ۱۸ کلونو څخه کم عمر کې وو. دا ارقام د ۲۰۱۰ کال ورته دي چې ۴۵۹ ماشومان قربانیان په کې ثبت شوي وو. ختیځه سیمه تر ټولو زیاته متأثره شوې ده (۱۵۴ قربانیان، ۳۵ سلنه) چې ورپسې شمالي او جنوب ختیځې سیمې (په ترتیب ۱۷ سلنه او ۱۰ سلنه د ټولو قرباني شوو ماشومانو) راځي. ۳۱۶ ماشومان ټپي شوي دي او ۱۱۵ وژل شوي دي.[105]

هلکان د نجونو په پرتله زیات ټپي کیدلو او وژل کیدلو امکان لري (۸۲ سلنه د ۱۸ سلنې په پرتله)، او د ۸ او ۱۵ کالو تر منځ ماشومان تر ټولو زیانمنیدونکي ډله تشکیلوي چې د ټولې مرګ ژوبلې تر نیمایي زیاته برخه جوړوي. اکثره هغه پیښې چې ماشومان یې قرباني شوي هغه وخت شوي چې دوی لوبې کولې (۳۰ سلنه د ټولو پیښو)، ورپسې د څارویو څرولو (۱۵ سلنه) او د لرګیو راټولولو (۱۲ سلنه) مهالونه راځي. د قربانیانو ۲۵ سلنه له ۶ کلونو څخه کم عمر کې وو.



د هلمند ولایت مارجه ولسوالۍ کې د هوایي برید پایله کې ټپي شوی ماشوم چې وروسته د کندهار میرویس روغتون کې ومړ، جیکوب سمکز©

[104]. یاد شوی مأخذ.
[105]. یاد شوی مأخذ.